عبدالملک پرهېز

# سیاست څه ته وايي؟

**لومړۍ برخه**

کله چې موږ د خپل هیواد ۳۰ کلن تاریخ ته نظر اچوو وینو چې زموږ هیواد په تیرو دیرشو کلونو کې له عذابه ډکه لاروهلې ده او د وخت په تېریدو سره د غه غملړلي لاره نور هم پېچلې او غم لړلې کېږي ، په هیواد کې دومره ستونزې نه حل کېږي چې هره ورځ پر زړو ستونزو نوې ستونزې ور زیاتېږي.

دیرش کاله کېږي چې افغانستان د نړیوالو زبرځواکونو د سیالۍ په ډګر آوښتی او ددې سیالۍ زیان یوازې افغانانو ته رسېږي په دغه دیرش کلنه غمیزه کې افغانانو خپله مادي او معنوي پانګه له لاسه ورکړه او هیواد په مادي او معنوي کنډواله اوښتی خو په تاسف سره نن هم د ویجاړۍ دغه بهیر لا تر ناڅرګنده وخت روان دی او هیڅوک نه پوهېږي دغه ناورین کله پای ته رسیږي. نو زموږ دنده څه ده او څه باید وکړو ؟ څو خپل هیواد د نیمې پېړۍ له بحرانه وباسو ؟ دا هغه پوښتنه ده چې ټول هڅه کوي ځواب يې پیدا کړي خو لا تر اوسه دغې پوښتنې ته چا یو کوټلی او سم ځواب نه دی پیدا کړی. او دا چې ولی دا سې یو ځواب چې ټولو ته د منلو وړ وي نه دی پېدا شوی علتونه ډیر دي خو یو علت دا هم دي چې موږ د سیاست په اړوند اړینه علمي پوهه نه لرو او نه شو کولی د پېښو بهیر سم وارزوو ، نو له همدې امله زموږ یو شمیر سیاستمداران د ستونزمنو پېښو په تړاو ناسم او ناسنجول شوی کړنې او پرېکړې کوي چې دا کار په پرله پسې ډول هیواد په کړکېچ کې ډوبوي او دا کار له بلې خوا سیاست مداران یو پربل هم بې باوره او بدګومانه کوي او په پایله د سم سیاسي چلند پر ځای د سیسو او توطئو لاره غوره کوي او په دې ډول خلک هم پر سیاستمداران خپل اعتبار له لاسه ورکوي .

نن ټوله نړۍ زموږ په هیواد کې ده ، نړیوال هم یو له بل سره جوړ نه دي آن د یو هیواد د سیاست مدارانو ترمنځ هم زموږ د هیواد په اړوند د نظر یووالی نه تر سترګو کېږي، د افغاني دولت د چارواکو او بهرنیانو تر منځ هم اختلافونه ډیر ژور دي، د سیمې هیوادونه هم زموږ په هیواد کې د خپلو ګټو د ترلاسه کولو په هڅه او هاند دي. دا یو پېچلی او ډیر ستونزمن حالت دی، دا حالت له سیاستمدارانو څخه د زیاتې پوهې، ځیرتیا او مسوولیت غوښتنه کوي.

نن په هیواد کې د بې کفایتۍ او بې تدبیرۍ نښې په هر ځای او په هر څه کې لیدل کېږي [illegible] څه د ویجاړۍ په لور [illegible]؟ نو ځکه له هر چا سره دا پوښتنه شته چې [illegible] سیاسي ارزونې له لارې ځواب تر لاسه کولی شي .

د سیاست په اړوند د خلکو نظریې سره توپیر لري، هر څوک د خپلې پوهې ، ټولنیز دریځ او ګټو پر بنسټ هغې ته یو تعریف ورکوي. د کور ښځه چې نا لوستې ده د سیاست په اړوند یو ډول تصور لري، یو بزګر او کارګر بل ډول تصور لري، د پوهنتون استاد یا د سیاسي ګوندونو مشران له هغې څخه بل ډول تصور لري. څوک سیاست ناوړه، کرغېړن او بد بولي او له سیاست څخه ډډه کوي، څوک د سیاست اډانه ټاکي او هر چا ته په سیاست کې د ګډون حق نه ورکوي لکه ښځو ته یا د ښوونځیو او پوهنتونونو زده کوونکو او محصلینو ته له سیاست څخه د ډډې کولو لارښونه کوي ، ان د افغانستان اولسمشر هم د پوهنتون محصلینو ته لارښوونه کړې وه چې له سیاست څخه ډډه وکړي او سیاست یې د محصلینو په زیان بللی ؤ. ځنې د افغانستان ټولې بدمرغۍ په سیاست پورې تړي. ځنې کسان په سیاست کې د ټولنې د ټولو طبقاتو او قشرونو ګډون حتمي او اړین بولي. ددې خبرو په پام کې نیولو سره په کار دی څو ځان پوه کړو چې په پای کې سیاست څه ته وایې چې خلک په اړوند یې داسې مختلف اندونه لري. د

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

سیاست مفهوم لکه د بل هر انساني علم په څیر، هم د اډانې له پلوه او هم د موضوع له پلوه ډیر پېچلی دی. د لغت له پلوه ځنې هغې ته د رعیت ساتلو، د ملکیت ساتلو، تدبیر، ریاست، قضاوت او داسې نورو مفهوم او مانا ورکوي. د سیاست انډول کلمه پولیتیکس ده.

د پولیتکس یا سیاست کلمه له «پالیس۱» څخه رامنځ ته شوې – په لرغوني یونان کې ښاري اداري ته ویل کېده. په انګلیسي ژبه کې له دریو کلمو سره سمون لري:

پالیتي ;Polityپالیسي, policy پولېتکسpolitics

دا دری واړه په ګډه د مفهوم د هر اړخیزې مانا په اړوند یو ټاکلی لید وړاندې کوي: «پالیتي» په یو ټاکلي چاپیریال کې د اداري یا مدیریت له ارګانونو سره د اساسي قانون په اډانه کې سر او کار لري – لکه حکومت، پارلمان او داسې نور. «پالیسي» په هغه سیاسي تک لارې پورې اړه لري چې پر مخ وړل کېږي لکه صعنتي سیاست، دبهرنیو چارو سیاست، د ښځو سیاست او داسې نور. «پولیتکس» هغه موسسو ته اړوند کېږي چې هدف یې د اساسي قانون د ارګانونو پر سیاست اغېزه ده – دا اغېزه د ټاکنو او په ټاکنو کې د ګوندي ګډون د لارې ترسره کېږي او داسې نور. په عمومي ډول سیاست هغه کړنې په بر کې نیسي چې په یوه ټولنه کې د ارزښتونو د ټاکلو یا مشخصولو، لومړیتوب ورکولو او د ویش چارې سرته رسوي او همدارنګه هغه جوړښتونه یا اډانې چې دغه کړنې په کې ترسره کېږي.

د لویدیز په ډیرو هیوادونو کې زیات خلک سیاست د سیاسي ګوندونو ترمنځ دانتخاب شوي پارلمان په عمومي غونډه کې ،د انتخاب شویو استازیو او د دولت ترمنځ د سیاسي کړنلارې د غوره کولو پر سر او د حکومت د قانوني کار په اړوند مبارزه بولي، د اداري او مدیریت د ارګانونو رسمي چارو ته د لاسرسي پیدا کول د سیاست مرکزي ټکی دی.

د قاعدې له مخې دغه لاسرسي یوازې په څو کسانو پورې محدود دی. په همدې ډول په لرغوني زمانه کې ښاري اداره - «د مستقیمې دموکراسۍ» د بېلګې په توګه پېژاندل شوې وه – هغه مهال ډېرکي (اکثریت) رسمي سیاسي حقوق نه لرل. کوچنیانو ، ښځو او غلامانو په سیاست کې د ګډون حق نه درلود. دوی د بشپړو انسانانو په توګه نه پېژاندل کېدل. د روم په امپراتورۍ کې، د ملي دولت د رامنځ ته کېدو په بهیر او په اروپا کې د مطلقه شاهي تر واک لاندې، دولتي سیاسي پریکړې د څو شتمنه او بډایه کسانو (ارستوکراتانو) له خوا نیول کېدې. کله چې د لومړي ځل دپاره کپیتالېزم او صنعت په غوړېدو شو نو د پریکړو کړۍ پراخه شوه. ښاري انسان پر دغه کړۍ ور زیات شو او ورو ورو یې پر ارستوکراتانو کړۍ تنګه کړه او په پای کې یې سیاست د ارستوکراتانو له کنتروله وایست

.

عبدالملک پرهیز

## د سیاست علم رول او ارزښت

دویمه برخه

د سیاست علم، د ټولنیزو ځلېدیزو «پدیدو» هر اړخیزه څېړنه او ارزونه کوي. سیاسي ارزونه له انسان سره مرسته کوي څو هغه نړۍ، چې په کې ژوند کوي په سمه توګه وپېژني او د راز راز ځانګو ترمنځ هغه ځانګه غوره کړي

ketabton.com - The Digital Library

چې تر ټولو ښه ده او په پای کې پرهغه لویو او کوچنیو بدلونونه اغېزه وکړای شي چې هره یو ه یې د ژوندانه نه بېلیدونکي برخه جوړوي. د سیاست اصلي او غوره مرکز دولت دی. ځنې نور داسې نظر لري چې د سیاست علم له حکومت سره تړاو لري. دریمه ډله دا دواړه نظریې سره یوځای کوي لکه فرانسوي څېړونکی او متفکر پل ژانت وایې: د سیاست علم د ټولنیزو علومو هغه برخه ده چې د دولت د بنسټونو او د حکومت د اصولو په اړوند خبرې او څېړنې کوي.

په دودیز ډول ، ډیر کله ویل کېږي چې د دولت په ارزونه کې حکومت هم په پام کې نیول کېږي، ځکه دولت د عملي مقصدونه له مخې د حکومتي ارګانونو له لارې عمل کوي. هارولد لاسکي وایې.« د چارو د عملي اداره کولو د پاره دولت هماغه حکومت دی» خو د ځنې اړخونو له پلوه ، د حکومت کلمه ډیره پراخه ده. که «حکومت» په پراخ مفهوم سره وکارول شي، د کنترول او اطاعت په بنسټیز اند ولاړ دی، دغې ځلبدنې (پدیدې) د انساني ټولنې له پرمختیا سره پرمختیا کړې ده. د سجویک په عقیده ، د سیاست علم « هغه ټولنې څېړي چې حکومت لرې، یانې هغه ټولنې چې د هغې غړیو ، لږ تر لږه په ټاکلو مسایلو کې، د ځنې کسانو یا د یو شمیر کسانو چې د ټولنې یوه برخه جوړوي ،له دستورونو څخه په اطاعت کولو عادت کړی وي» دغه تعریف د سیاست د علم ډګرونه پراخوي او هغې ته له دولت څخه هم پراخ مفهوم ورکوي.

د سیاست د علم دودیز مفهوم، د دولت یا حکومت د څېړنې د علم په توګه نور مناسب نه ګڼل کېږي. دغه مفهوم پر هغې بنې تاکید کوي او په ظاهره قانون خوښونې ته له حده زیاته پاملرنه ددې سبب کېږي څو قوانین پلي شي. بې له دې چې تکاملي بهیر او پایلې په پام کې و نیسي. اوس په عمومي ډول دا منل شوې ده چې د سیاست علم باید په ټولنه کې غیر رسمي سازمانونه او هغه سیاسي چلندونه چې د حکومت رسمي جوړښت ټاکي او همدا رنګه هغه ځواکونه چې پر حکومت اغېزه لري، په دربر کې و نیسي.

د نوي حکومت له څېړنې او مطالعې سره د سیاست د علم یو شان ګڼل هم له اعتراض سره مخامخ شوی دی. له پنځه لسمې پېړې څخه د مخه د «دولت» کلمه د سیاسي پلوه نه کارول کېده، او کله چې ددې مقصد د پاره و کارول شوه نو د «نوي» صفت ورکړای شو. د اعتراض کوونکو په ګومان کله چې دولت ته په ځانګړې نظر کتل کېږي نو د سیاست علم د تعریف په برخه کې یوې داسې پایلې ته رسېږي چې نوی دولت د سیاسي سازمان وروستی. «نه لنډمهاله» بڼه ده او یوازنی سیاسي جوړښت دی چې د بشر هوساینه رامنځ ته کوي.

نو له دې کبله د پوهې هغه ډګر چې د سیاست علم یې په بر کې نیسي ، له دولته هم وړاندې ځي. کاتلین عقیده لري چې «سیاست» د سامان لرونکې انساني ټولنې څېړنه ده او تر هر څه د مخه د ټولنې سیاسي اړخونه څېړي. نو له دې کبله د برترن دوژوونال په نظر: «سیاست» هغه سیاسي اړیکې څېړي چې د خلکو په را غونډېدو سره په یو وخت کې منځ ته راغلي دي، دا ډول نظرونه د سیاست د علم د څېړنو ډګر دومره پراخوي چې ټول هغه څه په بر کې نیسي چې د ټولنیز ژوند په سیاسي اړخونو او یا د خلکو تر منځ په سیاسي اړیکو پورې اړه لري. خو د زده کړې په بهیر کې د سیاست علم او د هغې نوي وړتیاوې له ټولو هغه شیانو سره چې په یوې سازمان لرونکې ټولنه کې د انسان په ژوند پورې اړه لري له سیاست سره باید یوځای او ګډ نه کړای شي او ددې وسوسې تر وړاندې باید ټینګار وشي .

هارولد لاسول، چارلزمریام، برتراند راسل، واتکینس او هانس مور کنتا ، د سیاست په تکاملي برخه لیک تاکید کړی دی، او عقیده لري چې واک، د سیاست اساسي مفهوم دی او د سیاست ټولې څانګې سره یو ځای کوي. لاسول د سیاست د علم د تعریف په اړوند ویلي دي: « د سیاست علم د یو تجربي نظام په توګه د واک یا قدرت د رامنځ کېدو د څرنګوالي او په هغې کې د شریکېدو له څېړنې څخه عبارت دی.» او « سیاسي کړنه ، هغه کړنه ده چې د واک پر بنسټ تر سره کېږي.» سیاست او سیاسي علم د ماهیت، بنسټ، ډګر او پایلو له پلوه په ټولنه کې د شته واک سره تړاو لري. د سیاست د علم اړوند یو پوه « د پاملرنې مرکز» څرګند او

ketabton.com - The Digital Library

روښانه دی او له هغې مبارزې څخه عبارت دی چې د واک د ترلاسه کولو یا ساتلو ، د واک د پلي کولو یا پر نورو باندې د اغېز ، یا د هغوی د کړنو څخه د مخنیوي د پاره کېږي. همدارنګه ویل شوي دي چې: « سیاست د واک په اړوند یوه (مقوله ) ده، یانې د ټولنیز یا مادي چاپېریال د ساتلو یا بدلون د کارمندانو ، د کاري موسسو او د ټولنیزو بنسټونو په ورتیاو پورې اړه لري. د هغه زیرمو په اړوند یوه مقوله ده چې د دغه ورتیا بنسټ جوړوي ، او هغه ځواک دی چې هغه پلي کوي او پرې اغېزه کوي.

واک ته پاملرنې او پر واک تاکید ، د شکل پالنې دوه دیز نظر نه مني چې دا کار د سیاسي بهیر د واقعي ارزونې سبب ګېږي. د سیاست له علم څخه یو داسې تعریف ته اړتیا ده چې واک ته یې پام اړول وي او په همدې ډول دغه واقعیت ته پاملرنه کوي چې د دولت د شکل او کړنې کنترولونکي ځواکونه داسې ځواکونو ته ورته دي چې په نورو سازمان لرونکو ډلو لکه کورنۍ، کارګري او تعاوني اتحادیو کې ( چې ډیر یې سیاسي فعالیت نه کوي) فعالیت کوي.

خو سره ددې هم ، د سیاست د تعریف په اړوند نظریې د واک له مقولې سره د ځنبو اړخونو له پلوه د رضایت وړ نه دي. لومړی دا چې دغه نظریې د واک د سیاسي او ټولنیزو اړخونو ترمنځ توپیر نه وینې. د واک اړیکې او د وخت نفوذ « سیاسي» او تر یوه بریده سازمان لرونکی دی خو پکار ده د هغه سازمانونو اقدامونه وپېژاندل شي چې یو ډول مشروعیت لري او د خلکو د اطاعت او درناوي دعوه هم لري. دویم دا چې د واک په لاره کې د مبارزې سیاست ، د هدف لرونکو انګېزو څخه واټن نه لري. خو د واک ، (د کوم پر بنسټ چې واک کارول کېږي) او د هغه هدفونو ترمنځ اختلاف چې واک ترې منځ ته راځي ، سیاست د ناڅرګند توب سره مخامخوي. په واقعیت کې، د سیاست پای– د پخلاینې له لارې د مخالفینو تر منځ د ګډو ګټو او ټاکلو ارزښتونو پربنسټ یوې کړنلارې ته رسېدل دي. دیوید ایستون عقیده لري سیاست « په ټولنه کې د ارزښتونو په ویش» پورې اړه لري.

سره له دې ټولو خبرو ، واک د سیاست د ترسره کولو ډیر مهم عنصر دی او د سیاسي علم لومړنۍ دنده داده څو هغه وپېژني. واک د سیاست د ثقل مرکز جوړوي او په سیاسي ژوند کې ټول کړکېچونه په واک پورې تړلي دي.

نولی، د سیاست په اړوند یو لړ تعریفونه لري چې په لاندې ډول دي:

- سیاست « له امکاناتو څخه د ګټې اخیستلو هنر دی» ډیر کله سیاسي فعالان نه شي کولی خپلو هدفونو ته ورسېږي، له دې کبله باید له واک سره خپلې او چت آلوتنې برابرې کړي. هیڅوک نه شي کولی له خپل قدرت څخه زیات په سیاست کې نفوذ او اغېزه وکړي.
- سیاست « پر خلکو حکومت کول» دي، کایتانو موسکا ، په واکمنه طبقه کې د اړیکو او آستین رانې پر انسانانو د حکومت کولو او د هغه کسانو په اړوند چې حکومت کوي او د هغه کسانو چې پرې حکومت کېږي، د هغه کسانو چې امر کوي او د هغه کسانو چې امر ترسره کوي، ترمنځ د اړیکو په اړوند بحث کوي او عقیده لري چې دا د سیاسي ژوند مرکزي اړیکه ده.
- «سیاست د واک د پاره مبارزه ده» د لویدیځ د متفکرانو تر منځ دا یو ډیر مهم تعریف دی چې سیاست د واک او په ټولنه کې د هغې د پلي کولو او نفوذ ورکولو د پاره مبارزه ده.
- سیاست یانې په دې پوهېدل چې: « څوک ګټونکی دی، څه ګټي، کله یې ګټي، څنګه یې ګټي او ولې یې ګټي؟» د سیاست په اړوند د هارولدلاسکي دغه تعریف چې د شعار بڼه لري او په آسانۍ سره یې په یاد کې ساتلی شو. خو باید پوه شو چې دغه تعریف د «سیاست د علم» تعریف دی، ځکه له پوهې او له علم او خبرتیا څخه خبرې کوي.

- سیاست «د ارزښتونو آمرانه ویش دی» دغه تعریف په ایستون پورې اړه لري او دا د سیاست یو ډیر انتزاعي مفهوم دی. او په پای کې ، نولی هم د سیاست تعریف وړاندې کوي:« ټول هغه فعالیتونه چې نېغ په نېغه او یا په غیرمستقیم ډول د دولت د واک د ترلاسه

ketabton.com - The Digital Library

کولو ، د دولت دواک د ټینګولو ، او ددولت له واک څخه د کټې اخیستلو سره مل دی.» د نولی تعریف هم نوی نه دی او په واقعیت کې ددې خبرې بل بیان دی چې سیاست د واک د نیولو ، ساتلو ، زیاتولو یا ښودلو د پاره مبارزه ده.

که وغواړو چې د سیاست په اړوند یو پراخ او هر اړخیز تعریف ولرو ، نو هغه داسې تعریفولی شو: سیاست په یو هیواد کې حکومتي کارونه او د خلکو ، ډلو او ګوندونو (ټولنیزو ځواکونو ) ترمنځ او په نړیوال ډګر کې د دولتونو ترمنځ سوله ایزې او غیرسوله ایزې اړیکې دي.

ددې تعریف پربنسټ د یو سړي د سیاست، د یوې ډلې د سیاست، د یو ګوند د سیاست او د یو دولت له سیاست څخه یادونه کولی شو. او د نړیوالې ټولنې ترمنځ د خپل منځي سیاست له پلوه هم د دولت سیاست ټاکي. سیاست د یادو شویو ټولنیزو ځواکونو د هرې یوې ګټې په بر کې نیسي. د یادو شویو ځواکونو ترمنځ د اختلاف په حالت کې د غه ګټې یو له بل سره په ټکر کې راځي. د هغوی ترمنځ د یو کېدو او پیوستون په حالت کې د ټولنیزو ځواکونو د اړیکو او ګټو تر منځ همغږي منځ ته راځي. په بله ژبه ټولنیز ځواکونه ، د ګټو د ټکر په حالت کې د یو او بل پر خلاف په شخړو لاس پورې کوي، خو د روغې جوړې او ګډو ګټو په حالت کې سره یوځای کېږي ، ددغه پیوستونونو او ټکرونو د لارښودنې اوهغې ته د لوري ورکولو څرنګوالی سیاست رامنځ ته کوي. سیاست د ټولنیزو ځواکونو د ګټو او اړیکو د ټکرونو او جوړښتونو ډګر دی.

په دغه تعریف کې د واک د پکارولو مسالې ته هم پاملرنه شوې ده. کوم سیاست چې له تضاد څخه رامنځ ته شوی وي، په هر حال له سیاست څخه رامنځ ته شوی، په دې توپیر چې قدرت په غیر سوله ایزه بڼه د زور ، جبر او تاوتریخوالي له لارې کارول کېږي، خو د جوړ جاړي په حالت کې سیاست په سوله ایزه بڼه ، د ّهڅونې ، نازونې او داسې نورو له لارې کارول کېږي.

هدف ته د رسېدو د پاره د وګړو ، ډلو ، ګوندونو ، حکومتونو او دولتونو هدفونو او چلندونو ته هم سیاست وایي. د سیاست دغه مانا د پروګرامونو او مرامونو د جوړولو او د هغو د پرمخ بېولو سره اړیکه لري او البته تل د هغې له لومړۍ مانا سره مل دی.

سیاست په ټولنه کې د انسان د فعالیت ډیر حساس ډګر دی او ډیر زیات د هرې ټولنې د کولتور، د خلکو د اندونو ، د ډله ایزو او شخصي ګټو او نظریو او د اقتصادي عواملو تر اغېزې لاندې دی او خپله هم پر هغو اغېزه لري.

له سیاست څخه ددې تعریف په رڼا کې ، کولی شو د «سیاست علم» داسې هم تعریف کړو: د سیاست علم د ټولنیزې پوهې او خبرتیا یوه څانګه ده چې هدف یې په یو هیواد کې د ټولنیزو ځواکونو ترمنځ پرسیاسي اړیکو د واکمنو اصولو او قواعدو منظمه پېژاندنه او د دولتونو او د نړیوالې ټولنې په ډګر کې اړیکې دي.

د ټولنیزې پوهې او خبرتیا دغه څانګه ، د ټولنیزو ځواکونو ترمنځ په اړیکو کې د واکمنو اصولو او قواعدو کړنې کشفوي او د هغو د کړنو څرنګوالی هم راښیي. د سیاست علم د دغه اصولو او قواعدو د کشف او په عمومي ډول د حکومتونو ، سیاسي ګوندونو او نفوذ لرونکو ډلو ، ټولنیزو بنسټونو او سیاسي اندونو کړنې څېړي. د نړیوالو اړیکو له پلوه هم د نړیوالو موسسو او سازمانونو ، په بېلابېلو هیوادونو کې د سیاست او حکومت، د هیوادونو ترمنځ د اړیکو ، او د هیوادونو بهرني سیاست ته اړوند کېږي څو د هغو ترمنځ د اړیکو د بنسټونو په اړوند پېژندګلوي او خبرتیا تر لاسه شي

عبدالملک پرهیز

د سیاست د علم ډګرونه

دریمه برخه

ketabton.com - The Digital Library

د سیاست د علم تر تعریفولو وروسته، دادی د هغې ډګرونه باید وټاکو. د امریکا د سیاسي او ټولنیزو علومو کلتوري ټولنې ، د ۱۹۲۵ کال د دسمبر د میاشتې په ۲۸ او ۲۹ نېټه په فلاډلفیا کې د سیاست د علم د هدفونو او چلندونو د ډګرونو په اړوند یو کنفرانس جوړ کړی ؤ.

آلفرد دوګرازیا ، دیوید ایستون، ایکشتن، هانس مورګنتا ، پالمر او یو شمیرنور پوهان په دغه کنفرانس کې د بحث او ګډون دپاره رابلل شوي ول.

په دغه کنفرانس کې وویل شول چې د سیاست د علم پولې او بریدونه په آسانۍ سره ټاکلي نه شو. د ټولنیز ژوند هیڅ داسې ډګر نه شته چې له سیاست سره اړیکې ونه لري، او یا د سیاست د علم د څېړنو په اډانه کې را نه شي. د سیاست علم د ټولنیزو څېړنو ډېرې برخې په دربر کې نیسي او یا له علمي څانګو لکه تاریخ، اقتصاد ، ټولنپېژاندنې، ټولنیز روح پېژاندنې، اخلاقو ، شمیرنې ، جغرافې ، او نورو څانګو سره پیوند لري. خو لکه چې و به وینو ، د سیاست علم ، د « پاملرنې یو مرکز» لري چې خپلې څېړنې د هغې پر بنسټ ترسره کوي. همدارنګه خپل ځانګړي مواد او ورکړنې هم لري .

ـ د سیاست علم، تکامل کوي: د سیاست علم په ټولنه کې د واک او قتدار طبعیت، ستنې ، بهیرونه ، ډګرونه او پایلې څېړي. ددغه مانا له مخې «قدرت» باید جبر و نه ګڼل شي. د واک اخلاقي بنسټ یا ستن او پر انسان باندې د اندونو اغېزه په غوره توګه په فلسفه او د سیاست په روح پېژاندنه کې څرګند ېږي. د قدرت د رامنځ ته کېدو او هدفونو په اړوند خبرې اوبحث، د هغې د کړنو د څېړنې په اندازه اهمیت لري. سربېره پر دې ، د قدرت او حکومت د ارګانونو څېړنه ، سیاست پېژاندونکي د کارګري اتحادیو ، دیني بنسټونو ، د سوداګرۍ شرکتونو او دې ته ورته نورو بنسټونو ، ارزونې ته رابولي. په واقعیت کې د ټولو هغه ټولنو او غونډو څېړنه چې د واک د تر لاسه کولو او یا داغېز ښندلو په هڅه کې دي د سیاست په علم پورې تړاو لري.

په دې ډول ، د سیاست د علم موضوع ټول هغه اندونه او بنسټونه په دربر کې نیسي چې په ټولنه کې د قدرت او اقتدار سره سر او کار لري. دغه علم همدارنګه د ډلو ، سازمانونو او همدارنګه دهغه سیاسی بنسټونو چلند چې له دولت څخه د لږ او زیات خپلواکه دي او غواړي د ټولنیزو بدلونونو په بهیر کې پرعمومي سیاست اغېزه وکړي ، هم ترڅېړنې لاندې نیسي، دغه څېړنه په هېڅ ځانګړي تاریخي دورې او همدارنګه د بشري ټولنې په هیڅ ټاکلي برخې پورې اړه نه لري، خو د تاریخي څېړنو د پلټنې د آسانتیاوو او همدارنګه په ټولنه کې د شتو بهیرونو د پلټنې د لارې د سیاست د علم د اړتیا وړ تجربي پایلې تر لاسه کېدی شي.

ـ د سیاست علم ، د پریکړو کولو پوهه او فن دی چې واکمن یې (د مشروع یا غیر مشروع ) متدونو او د لازمو حقوقي وسایلو نه په کار اخیستو سره خپلې پرېکړې پر خلکو ( تر واک لاندې خلکو ) او پر خپل قلمرو کې (هغه ځمکه چې د حکومت تر واک لاندې ده ) ، په حتمي ډول پلي کوي. دغه پریکړې کېدی شي د ټولنیزو چارو د ادارې دپاره ، د واکمن ، د ادارې د رییس، د شرکت د مدیر له خوا او یا امکان لري د اجرایي او حکومتي ډېرو لوړ پوړو چارواکو لکه د اولسمشر، صدراعظم، وزیر یا د وزیرانو د ډلې ، ښاروال او یا د خلکو د غوره شویو استازو له خوا د هغه واکونو پر بنسټ نیول شوي وي چې ورته ورکړ شوي دي، یا کېدی شي په نړیوال ډګر او یا سیمه کې د دولتونو د مشرانو او استازیو له خوا د ګډ او مرکب سازمان په جوړولو سره ، ګډو او ټاکلو هدفونو ته د رسېدلو دپاره نیول شوي وي. چې لاندې برخې په دربر کې نیسي:

۱ .د موجودو واقعتونو پوهیدل(د څېړنې او پلټنې پر بنسټ(

۲ .د کړنلارو جوړول او توپیرول.

۳ .د هغه بهیرونو او لوریو څېړنه چې په ترڅ کې یې پریکړې نیول کېږي

۴ د وخت او فرستونو د لاسه وتلو څخه مخنیوی( پانګه او انساني منابع(

ketabton.com - The Digital Library

۵ .د تخصیصي اعتبارونو او بودجې بیا کنترولول( د منابعو د ویش پر څرنګوالي د کنترول ټینګول(
۶ .د غوښتنو تالیفول: د غوښتنو د ترسره کېدو او له چاپېریال سره د هغې د سمون د بهیر څېړنه.
۷ .د رضایتمندۍ او ملاتړ تر لاسه کول او همدارنګه د عمومي نارضایتۍ او د ټولنیز بحران څخه د مخنیوي د پاره د مناسبو لارو چارو غوره کول.
۸ .د واک پلي کول: د سیاسي پریکړو د پلي کولو یوه وسیله د واک پلي کول دي. بې له شکه په هیڅ حکومت او په هیڅ سیاست کې له حقوقي او سازماني وسایلو څخه له کار اخیستلو پرته، په هیواد او ان په یو تولیدي شرکت ، یو اقتصادي سازمان، او یا یو نړیوال سازمان کې ثبات او اداري واک ټینګ نه شي.
۹ .د قوانینو او حکومتي مقرراتو جوړول: د سیاست د کړنې یو بل ډګر باید د واکمنۍ د اړوندو قوانینو د جوړولو په برخه کې و لټوو. نن ان د یو ورزشي ټیم جوړول او لاربښوونه د یو ډول سیاست جوړونې او د مقرراتو له جوړولو سره تړاو لري.
۱۰ .د احتمالي کړکېچونو د کشف او د بحران د منځ ته راتګ څخه د مخنیوي ډګرونه کوم دي؟ بحران یوه پېښېدونکې ځلېدا ده ، او موږ کولی شو بحران په راتلونکي کې د نابېره او یوې ممکنې پېښې په توګه وپېژنو . ، یانې مخکې له دې چې بحران رامنځ ته شي ، یو هوښیار سیاست پوه باید دغه دوه صفتونه ولري، باید تر هرڅه د مخه بحران پېژاندونکې اوسي او خپل سیاست د همداسې احتمالاتو پربنسټ جوړ او اقدام وکړي. دویم ، کله چې بحران پېښېږي باید سمدلاسه په تدبیر او درایت سره د بحران رمز او غوټې خلاصې او بحران په سمه توګه له منځه یوسي.
دلته لازم برېښي د یو سیاست پوه ځنې ځانګړنې په نښه کړو ، یو سیاست پوه باید :
۱ .پر عدالت، تقوا ، اخلاقي او نفساني ښېګڼو سمبال اوسي.
۲ .لازمه زړه ورتیا او جرُات ولري
۳ .په سیاسي چلند که مشهور او په خبرو کې صادق او چلند یې سم وي.
۴ .په خپلو هدفونو کې رښتنی نیت او اراده ولري.
۵ .د خبرلوڅو ، چاپلوسه او غوړه مالو ، او نفاق اچوونکو کسانو څخه ځان لیرې وساتي.
۶ .مسولیت منونکې اوسي نه ریاست غوښتونکی.
۷ .په خپله ژمنه او قول ولاړ اوسي او اولسي خوښونکی اوسي.
۸ .د علم او پوهې سره مینه ولري.
۹.ساده ژوند ولري.
۱۰ .د پانګې او زر ټولولو فکر ورسره نه اوسي.
ـد سیاست علم، اوس یا حال تشریح کوي: د شتو سیاسي ځلېدیزو یا پدیدو او بهیرونو تجربي څېړنه د سیاست د علم د دندو ډېره مهمه برخه ده. دغه څېړنه جاري سیاسي مفهومونو او په ټولنه کې واک غوښتونکو او اغېز ښندونکو ډلو او سازمانونو ته پام اړوي. د سیاست علم ، په تېره بیا د دولت مفهوم ، ریښې، ځانګړتیاوې، بنې او د هغې جوړښت ، د هغې د کړنو بهیر، هدفونه او د هغې ځانګړې کارونه، د اوسېدونکو او اتباعو اړیکې، او همدارنګه له نورو دولتونو او نړیوالو سازمانونو سره د هغې اړیکې څېړي. په واقعیت کې ، د هیوادونو او نړیوالو سازمانو ترمنځ د خپل منځي حقوقو ودې، د سیاست د علم څېړنو ته تازه اړخ ورکړی او په یوه مانا کې هغه یې د نړیوالې ټولنې په سیاسي علم اړولی دی.
ـد سیاست علم د تېر زمانې پوهېدنه کوي: د واک او اقتدار څېړنه، او په تېر کې اغېزه د نن ورځې د بنسټونو ، اندونو او بهیرونو له

ketabton.com - The Digital Library

پوهېدو او پېژاندو سره ډېره مرسته کوي. د مطالعې دغه اړخ ، هغه هڅې په بر کې نيسي چې د لرغونې زمانې را په ديخوا ترسره شوي دي څو د دولت، حکومت، حقوقو، او سياسي چلندونو په اړوند استنباطونه تر لاسه او د آزماينبت وړ پايلو ته ورسېږو.
همدارنګه د لومړنيو سازمان لرونکو سياسي پړاونو، له ساده څخه پېچلي سياسي بنو ته تکامل او د اساسي قوانينو د جوړېدو د تاريخ څېړنه په برکې نيسي. د سياست علم د راز راز سياسي اندونو او په ټولنه کې د واک او اغېز غوښتونکو ډلو او سازمانونو د رول د پوهېدو او پېژاندو ، د څېړنې ضمانت کوي.
ـد سياست علم د سياست وړاندېز کوي: د سياست د علم د ټولو څېړنو وروستی هدف دادی چې سياسي ځلېداوي يا پديدې داسې په پام کې ونيول شي څو د غوره کېدونکي سياست په اړوند د عملي پريکړو د نيولو سبب شي. په دې برخه کې سياست پېژاندونکی تجربي، تاريخي او قياسي چلندونه سره ترکيبوي. د دې ترکيبې چلند ليوالتيا داده چې د احتمالي بدلون بهير کشف کړي او موجوده سياسي بهيرونه د هغه هدفونو له مخې چې ورته د رسيدو لېوالتيا لري ، وڅېړل شي. د موجوده سياسي جوړښتونو او بهيرونو د سمون دپاره د طرحو او وړاندېزونو رامنځ ته کول د سياست د علم منل شوې برخه ده.
ـد سياست علم په جنيني پړاو کې: د دې واقعيت سره سره چې سياسي اند له ۲۵۰۰ کلونو زيات لرغونتوب لري ، د سياست علم لا تر اوسه د ماشومتوب په پړاو کې دی. په کمبرج کې د سياست د علم لومړنی استاد ارنست بارکر ، د سياست په اړوند په خپله پرانستونکې وينا کې وويل: چې يو شمير کسان هغه (سياست) «بې مفهومه، شايد شکمن او يا هم بحث پارونکې» ګڼي. د سياست علم ، د خپل پېچلي او له اټکله وتي تاريخ په بنسټ، د حقوقو ، اقتصاد او د پنځون (طبيعي) او ژوند د علومو په پرتله، د اند او منل شويو فني کلمو په برخه کې د چلند ټاکلې ځيرتيا او همدارنګه ټاکلې موضوع نه لري. څو که د سياست علم له ټولن پېژاندنې سره پرتله شي ، ساده ، غونډ او يوموټی په نظر راځي. د سياست علم ، که څه هم په روانه پېړۍ کې ډېر پرمختګ کړی ، خو لا اوس هم د پرله پسې بدلون او ودې په حال کې دی.

د سياست بنسټ

څلورمه برخه

په ديموکراتيکو سيستومونو کې دولتي سياست په ټاکلو موسسو لکه ګوندونو، د خلکو له خوا په غوره شويو ادارو لکه پارلمان او حکومت کې تنظيمېږي ، خو دا هم مهمه ده څو پوه شو چې ارزښتونه هم په نورو مفهومونو کې تعريف، درجه بندي او وېشل کېږي.

د سياست بنسټ داسې دی چې د موادو او شيانو اړتيا ارزول کېږي ، خو د ارزښتونو په تړاو تل د اختلاف شتون ممکن دی. ټول ټولنيز سيستمونه که څه هم مختلف دي له دغه ستونزو سره مخامخ کېدی شي ، نو له دې کبله هغوی يو سياست غوره کوي. سياست جوړېږي، که څه هم هلته هغه ټاکلي ارګانونه نه وي په نښه شوي چې کولی شي په ځانګړي ډول په ټولنه کې د ارزښتونو د ټاکلو او ويشلو دنده په غاړه واخلي. په دې تړاو به داسې يوه ټولنه يا حالت ډېر په زړه پورې وی چېرې چې په دغه برخه کې څرګند اختلافونه شتون ونه لري. د اختلاف د نشتوالی علت کېدی شي دا وي چې په هغوی کې بشپړ يووالی شتون لري يا دا چې د موادو او ارزښتونو ويش د ټولو رضايت برابر کړی دی. او کله داسې هم کېدی شي چې اختلافونه پټ ساتل شوي وي.
او دا چې ولې په دې اړوند بحث او خبرې اترې نه کېږي او د ورځې په اجندا کې نه نيول کېږي کېدی شي د اوږدې مودې د ډله ايزو

ketabton.com - The Digital Library

اختلافونو پایله وي چیرې چې د اختلاف یو اړخ ته دا امکان په لاس ورغلی وي څو خپل پروګرام په دا سې بڼه پلی کړي څو جوړښتونه او پېښته د یادو شویو ډلو له خوا منل شوي وي –او یا هم اختلافونه پټ ساتل شوي وي.

یو ه مهمه پوښتنه دا ده چې څه ډول شرطونه باید ولګول شي څو یو رژیم خپلې پریکړې پلي کړی شي. هره ټولنه یو لړ اصول لري چې پر بنسټ یې اختلافونه حلولی شي، کېدی شي دغه اصول رسمي او یا رسمي نه وي. اصول باید دا سې وي چې په یوه شخړه کې د هغه بایلونکي حقوق هم وساتي او په پام کې ونیسي کوم چې وروستی. پایلې مني او سر ورته ټیټوي. تر هغه وخته چې دا کار ترسره کېږي اداره مشروع ده. دا واک دی. خو مشروعیت تل تر تاریخي شرایطو لاندې وي چې کېدی شي له منځه لاړ شي او یا وخت یې پای ته ورسېږي ، په تېره بیا کله چې خلک د خپلو علاقه مندیو تر شا او خوا راټول شي کوم چې اداره ورسره د مخامخ کېدو هیله نه لري او یا نه غواړي وروستی. پریکړه و مني.

سیاست د یو بهیر په توګه

د سیاست په اړوند زموږ ورځنی تصور ډېر تنګ او تر یوه بریده ډېر خړ دی. سیاست په یو دا سې بهیر کې منځ ته راځي چې ډېر پړاونه لري. سیاسي موسسې او د هغوی پریکړې د کنګلې له غره سره پرتله کېدی شي، چېرې چې یوازې لوړه څوکه یې لیدل کېږي: د یوې ستونزې په اړوند رامنځ ته شوي پوهه د بهیر دا سې یو پړاو دی لکه سړی په تیاره کې لټون کوي. له دې پړاو وروسته له ستونزې سره د کار پړاو پیل کېږي او په دې پسې د ستونزې د حلولو له ټاکلو لارو سره د کار پړاو پیل کېږي. په عادي ډول دا کار د سازمان ورکولو له لارې ترسره کېږي چیرې چې د ګډو علاقه مندیو لرونکي کسان سره په ګډه کار کوي څو غوښتنې او ستراتېژۍ وټاکي. او له دې وروسته د پریکړو پړاو رارسېږي ، چې د مختلفو پرنسیپونو پر بنسټ په دې پړاو کې د یو بل تر وړاندې الترناتیفونه وړاندې کوي. او په پای کې پریکړې د عمل ډګر ته وړاندې کېږي، که هدف هرڅومره بڼه وي د ناسمو هدفونو په پرتله هیڅ ډول نوي ستونزې او تصور نه رامنځ ته کوي.

په دغه بهیر کې د یوې ستونزې د پېژاندو څخه د پریکړې تر نیولو او بیا د پریکړې تر پلي کولو پورې ګډون کوونکي جلا کسان او یا بېلابېل لوې او کوچني سازمان ورکړ شوي ډلې وي، د بېلګې په توګه په مختلفو سیمو کې بېلابېلې ګوندي ډلې. د قضیې حالت کېدی شي د اډانو په شرطونو او یا د شتو جوړښتونو په منځ کې د کوچنیو جوړښتونو په رامنځ ته کولو پورې اړه ولري –د بېلګې په توګه د نرینه سالارۍ له منځه وړل او د کور میرمنو ته د تقاعد د حق ورکول او یا د عادي رایې ورکولو د حق د ترلاسه کولو د پاره مبارزه. دغه بهیر په یوه لنډمهاله او یا اوږدمهاله بهیر کې ترسره او غښتلي کېدی شي. دا کېدی شي ټول یا څنې یاد شوي پړاونه په دربر کې ونیسي. ډېر وختونه دا کار د سیاسي سیستمونو په مختلفو سطحو کې تکراریدی شي. د یوې سیمه ایزې ټولنې له خوا یو ابتکار مخکې له دې چې د پورته مقامونو د کړنې د پاره واستول شي د سیمه ایزې ادارې تر څېړنې لاندې نیول کېږي او وروسته له هغې خپله لاره د پورته په لور وهي.

سیاست همدا سې یو بهیر دی چې په ټولو ټولنیزو سیستمونو کې پېښېږي. نه یوازې په هغو کې چې موږ یې سیاسي بولو. دا هم مهمه ده ، کله چې په ټول هیواد کې خبره د ارزښتونو د تعریف، مشخصولو او ویش په اړوند ده خو دا وروسته یاد شوي تل مرکزي نه دي.

لومړی دا چې ټول اقتصادي سکتورونه خپل روښانه سیاسي لوری لري. د ارزښتونو د ویش، د کار دځایونو او معاش په اړوند روښانه بیان لري. پر دغه سکتور باندې کنترول د اکثریت له اډانې څخه بهر دی ،خو په عین حالت کې اقتصادي ژوند د حکومت او د خلکو د استازیو تر وړاندې یو لړ پوښتنې مخ ته ږدي .

بل په حکومت کې د ودې مساله ده، چې د ټولنیز ژوند په ډېرو برخو کې د دولت د سختې لاسونې پایله ده، دا کار نور هم چټکېږي

ketabton.com - The Digital Library

کله چې د حکومت سیاسي رول د خلکو پر ټاکل شویو استازیو ټینګ شي .

## د سیاست د علم موضوع ګانې

یونسکو په ۱۹۴۸ کال کې یوه کمېټه جوړه کړه څو د سیاست د علم د نړیوال انجمن بنسټ لیک (اساسنامه ) جوړه کړي، د سیاست د علم موضوع ګانې یې په لاندې ډول و ټاکلې:

۱ (سیاسي نظریه

الف. سیاسي نظریه

ب. د سیاسي اندونو تاریخ

۲ (حکومت

الف. اساسي قانون

ب. ملي حکومت

پ. سیمه ایز حکومت( ایالتي او ولایتي(

ت. د عمومي چارو اداره

ث. د حکومت اقتصادي او ټولنیزې دندې

ج. سیاسی تطبیقي بنسټونه

۳ (ګوندونه، عمومي ډلې او اندونه

الف. سیاسي ګوندونه

ب. ډلې او غونډې

پ. په حکومت او د چارو په عمومي اداره کې د خلکو ګډون

ت. عمومي اندونه

۴ (نړیوالې اړیکې

الف. د هیوادونو ترمنځ خپل منځي اړیکې

ب. نړیوال سازمانونه

پ. نړیوال حقوق

ښځه او سیاست

پنځمه برخه

د ښځو نوی غورځنګ د سیاست په هکله پراخ لید لري. شعار داسې دی « د شخصي ژوند سیاسي کول» او « شخصي سیاسي دي» ، ویل کېږي چې سیاست نه یوازې په نرینه او « بهرنۍ چاپېریال» پورې اړه لري، بلکې هغه نبغ په نېغه ورځني ژوند ته ننوزي. مخکې له دې چې ښځې –او نرینه.د هغه څه په اړوند چې په کور کې پېښېږي: لکه د ښځې او مېړه خپل منځي اړیکو او د اولادونو سره د اړیکو په اړوند ، یو له بله څخه پوښتنه و نه کړي، پرښځې ظلم له منځه نه ځي.

ketabton.com - The Digital Library

په جملو کې ددغه سیاسي مفهوم تنظیم د سیاست په اړوند د پېړیو راپاتې پخوانۍ جنسیتي تصوراتو ته یو ځواب دی. دا یوه هڅه ده څو دغه اند چې د ښځې نړۍ شخصي او غیر سیاسي ده، له منځه یوسي. دا په هغه اندونو یو ګوزار دی چې وایي ښځه او واک سره نه جوړېږي. او دا د هغه زیاتو ستراتېژیو څخه یوه ده کومه چې غواړي وښیي، شخصي هرومرو فردي نه بلکې تر ډېره ګډ دی او دا د ډله ایزه او ګډو سازماني چلندونو د پاره یو بنسټ دی.

د ورځنی ژوند سیاسي مفهوم په بېلابېلو ډولونو کې پر ښځو ظلم دی.کله چې سیاستونه د قدرت او جګړې او همدارنګه د نرینه د تیري چې د اړونده ټولنیز پوهاوي سره اړیکه لري ، بیان دی، نو په دې حالت کې د سیاسي رول او د ښځې د رول په اړوند دوه ګونی حالت منځ ته راځي. په رسمیاتو کې ښځینه سیاست مدارانې کولی شي خان ته غوره کړي چې به دودیز ډول ښځینه رول یانې ددویمې درجې سیاستمدار رول ولوبوي او هغه سیاسي رول ته ورګډې شي کوم چې نرینه جوړ کړی دی او په دې ډول ځان له خطر سره ځان مخامخ کوی چې په دې کار خپل ښځینه توب له بدګومانۍ سره مخامخوي. د سیاست فوري مانا په تېره بیا چې د کور لاس لاندې رول دي - په حجاب کې دی. کله چې سیاست په دودیزه بڼه درک شي او ښځه لکه د پخوا په شان په رسمیاتو کې دویم او تر لاس لاندې رول ولري ددې سبب کېږي څو ښځه ددواړه جنسونو له نظره ، په سیاسي ژوند کې د پاملرنې وړ رول ونه شي لوبولی. او دا سبب کېږي چې ان فعاله ښځې هم هېرې شي، چې دا په خپل وار سره ددې سبب کېږي څو ښځې په سیاست او سیاسي ژوند کې له پامه ولوېږي.

ترڅو چې سیاست په غوره ډول په بهرنۍ نړۍ کې د اساسي شرایطو سره تړاو لري، او دا په عین حال کې د نرینه نړۍ ده، د سیاست پرمخ بېول د ښځو د پاره ستونزمن کار دی. د سیاست فوري مانا په تېره بیا د کورنۍ نړۍ د تر لاس لاندې نظم په رول کې پاتې کېږي. کله سیاست مدار په دودیز ډول پوهېږي او ښځه لا هماغسې په دولتي ارګانونو کې تر لاس لاندې دریځ لري نو ښځه د سیاسي لوبغاړي په توګه ددواړه جنسونو په فکر کې له سترګو پټه پاتې کېږي. او کار دې ځای ته رسي چې ښځه د واقعي ګډون کوونکي په توګه رانه شي – او دا کار ددې سبب کېږي څو ښځه په سیاست او سیاسي رول کې محدود امکانات تر لاسه کړي .

هغه مسایل چې په ښځو پورې اړه لري په دودیز ډول د مالي مسوولینو له خوا ورته لږ ارزښت ورکول کېږي. دا کار د ښځینه سیاست په برخه کې علاقه مندي او زړه ورتیا له منځه وړي ، په عین حال کې دا کار د نرینه سیاسي دریځ ټینګوي. ښځینه ستونزې ، اړتیاوې او علاقه مندۍ، شخصي او پټ ساتل کېږي. خو بې له دې چې پرې پوه شو د شخصي ستونزو او د ځانګړي حالت ترمنځ یو ډول اړیکې شته او ددې سبب کېږي څو په ټولنیزه اداره کې سم ډول ګډون ونه شي کړی.

دا ټول سره په ګډه یوه ناوړې کړۍ رامنځ ته کوي: ښځه کولی شي په ټولو بهیرونو او ادارو لکه په ټولنه کې د ارزښتونو ویش او ټاکنه او په ټولو مهمو پریکړو کې چې د ټولنې د پرمختیا اړانه ټاکي برخه واخلي. د نارینه سالارۍ د سیاسي مفهوم نښې دادي چې یوازې نرینه په پام کې نیسي او د ښځو د سیاسي شتون مخه نیسي. هڅه کېږي ووایي چې ښځې له سیاست سره مینه نه لري او دوی ګنې په سیاست کې د نه ګډون له لارې دا وښیي چې نه غواړي خپل حالت ته بدلون ورکړي.

په دې اړوند چې د سیاست مانا څه ده هیڅکله هو د نظر یووالي شتون نه درلود. د ښځو د غورځنګ سیاسي مفهوم هم د نېکې ارادې له مخې منل شوی نه دی. دا چې موږ سیاست وټاکو ، دا په خپل ذات کې سیاست دی.

د سیاست فلسفه

شپږمه برخه

ketabton.com - The Digital Library

سیاسي فلسفه هغه پرنسپونه او ضوابط دي چې په ټولنه او دولت کې د لارو چارو او پېژندنې په تړاو د ستونزو څېړنه کوي.

یا په بل عبارت د سیاست فلسفه ، د فرد او ټولنې د دوه اړخیزه اړیکو ، ټولنې، دولت ، دولتي ادارې ،د ټولنیز ژوند ،د فردي حقونو او د یو او بل تر وړاندې د بنسټیزو پوښتنو په اړوند له بیان څخه عبارت ده. د سیاست فلسفه همدا رنګه د قانون، عدالت، شتمنۍ ، واک او حکومت په شان مسایل بیانوي. د سیاست په فلسفه کې، دا مساله هم چې حکومت د کومو کسانو حق دی، یوه بنسټیزه پوښتنه ګڼل کېږي، دا ډول پوښتنو ته په سیاسي پوهنه کې نه ، بلکې د سیاست د علم په فلسفه کې پاملرنه کېږي.

## د سیاست د فلسفې تاریخ

- لرغونې نړۍ

په لرغوني وخت کې د سیاست فلسفه په پیل کې د سفسطه ویونکو په تېره بیا د پروتاګوراس سره ډېر نژدې تړاو درلود . افلاتون د دولت تړون جوړ کړ. سیاست او قوانین وروسته د سیاسي فلسفې د پاره بنسټ وګرزیده.

ارسطو سیاست ته پرمختیا ورکړه ، د افلاتون ځواب ، له ۱۵۸ یوناني دولتي اساسي قوانینو څخه د امپراتوري د نقشې جوړول ول، چې د هغو څخه یوازې د اتن اساسي قانون پاتې شو.

د لرغوني یونان له وخته یوازې د ګوتو په شمیر سرچینې پاتې دي، د بدن پېژاندنې سرچینې نیبي، چې اپیکور د سیاست د فلسفې ضروري برخې لیکلي دي. ستویکانو د افلاتون خیالي دودونه پرمخ یوړل د بېلګې په توګه د زینون دولت.

د روم سیاسي فلسفې د یونان سیاسي فلسفه پرمخ وړله،دا په تېره بیا د لرغوني یونان (ستایکه ) تر اغېز لاندې ترسره شو ، دا د سیسرو (د دولت ، قوانینو ) او سنېکا ( نرمښت ) په اړوند اعتبار لري. د افلاتون له وخته داسې ؤ ، کله چې سړي له تقوا او عدالت سره د اخلاقو او سیاسي فلسفې یو نا حل شوې تړاو لیدلو .

ګډې وجې هم شته ، کله چې سړی د سیاسي ادارې د ممکنو بڼو لکه سلطنت ، اولیګارشي او دموکراسي په اړوند فکر کوي.

ددې خلاف سیاسي فلسفې د واکمنو سیاسي حالاتو پر بنسټ په ځان کې په نسبي ډول ژور بدلون راوست. هغه وخت چې افلاتون او ارسطو د یوناني ادارې د ښه واک وخت منعکسولو ، سیاسي فلسفه د لوی الکساندر ترشا روانه وه چې تر ډېره یې د ښاري ادارې له اډانې څخه ځان خپلواک کړی ؤ ، د بېلګې په توګه د ستویسمیسم یا رواقیانو فلسفه.

»فلسفي مذهب دی چې زنون کیتسیونی یې بنسټ ایښی دی. دا ځکه د رواقي په نامه یادېږي چې ددوی د فعالیت سیمه د آتن په یو رواق کې پرته وه. دغه مذهب په دویمه میلادي پېړۍ کې په روم کې رواج پیدا کړ او د سنکا ، اپیکتتوس او مارکوس آورلیوس په څیر حکیمان له هغې سره یوځای شول. زنون دغه فلسفه پردرې برخو د پنځون یا طبیعاتو ، منطق او اخلاقو ویشله. د هغه منطق د ارسطو پر ارګانون ولاړ ؤ چې ویل یې هره پوهه او پېژند ګلوي نیغه پر نیغه زموږ د حواسو درک ته راګرځي. په پنځونو یا طبیعیاتو کې د رواقیانو نظریه مادي وه، د هغوی له نظره هر هغه څه چې حقیقت لري مادي دی. شته او ماده یا جسم او بدن، یو حقیقت دی او یو له بله سره بېخي ګډ دي. د یو شتون د بل په ټول بدن کې خپور دی. په اخلاقو کې د رواقیانو فضیلت له خوندونو سره یو هدف باله او عقیده یې لرله چې ژوند باید له پنځون یا طبیعت او د هغو له قوانینو سره سمون ولري او ویل یې رېښتنې آزادي هغه وخت تر

ketabton.com - The Digital Library

لاسه کېږي چې انسان شهوتونه او ناحقه اندونه يوې خواته پرېږدي او په آزادۍ کې هڅه او هاند وکړي. رواقيان د خپلو دغو اصولو په وجه په خلکو کې په بې قيدۍ مشهوره شوي ول«.

د روم سياسي فلسفې په مستقيمه او غير مستقيمه توګه په هغه سياسي حالت پورې ځان تړلی ؤ چې د روم په امپراتوري کې يې شتون درلود هم له امپرتورۍ د مخه او هم وروسته.

افلاطون، هغه لومړنی فيلسوف دی چې د سياست د فلسفې سره تړلي پوښتنې يې په يو دقيق فلسفي نظام کې سنجولي او د يو ټوليز په توګه يې يو له بل سره اوبدلي دي. د افلاطون له ليکنو څخه په تېره بيا د هغه له دوو کتابونو ، پوليتيا يا جمهوريت او په دې اړوند قوانين دي چې ترې يادونه کولی شو. د غه کتابونه د ټولنې د بنسټيزو قوانينو څېړنې او پلټنې ته اړوند شوي دي. د جمهوريت کتاب د ښار يا هيواد او د هغې د ادارې د څرنګوالي په اړوند ليکل شوی دی. د ارسطو سياسي نظريه د سياست يا پوليتکا په کتاب کې راغلی ده. ارسطو د واکمنۍ ډېره ښه بڼه د سلطنت پربنسټ هغه فردي واکمني بولي چې له خپلسرۍ څخه واټن ولري. ارسطو همدارنګه د خلکو واکمني غندلې ځکه په د غه حکومت کې د چارو واګې د ټګانو په لاس کې وي او د ټولو ګټه په پام کې نه نيسي. ارسطو په د غه کتاب کې د اسپارت او کرت او کارتاژ له حکومتونو څخه يادونه کوي او د هغې د ښه او بد و ارزونه کوي او په دغه ټکي تاکيد کوي چې د هر حکومت په اړوند بايد د هغه ټولنې د ټاکلو حالاتو په پام کې نيولو او څېړنې سره قضاوت وشي کوم چې د غه حکومت په کې شتون لري. د روم د سياست فلسفه تر ډېره بريده د سياست په اړوند د سيسرو د فلسفي ليکنو څخه او به ځکي.

د چين سياسي فلسفه ، د يونان له سياسي فلسفې څخه خپلواکه وه. کنفوسيوس او لائوتزه په چين کې د فلسفې تر ټولو غوره تيوريسانان ول. د مانو او چاناکيا قوانين هم ، ثبات او يووالي ته د رسېدو په لاره کې هڅې ګڼل کېږي.

## د اسلام نړۍ

د اسلام تر ټولو مهم فيلسوفان چې د سيا ست پرفلسفه يې کار کړی ابونصر فارابي، پورسينا ، ابن رشد او ابن خلدون دي. په اسلام کې د سياست د فلسفې اصطلاحات له قرآن څخه اخيستل کېدل. په منځنۍ پېړۍ کې ، د فاضلې مدينې مساله ، بيا تر پاملرنې لاندې راغله. فارابي د فاضلې مدينې د او سيدونکو رايې په کتاب کې ، د آرمانښار د رييس په اړوند بحث کوي. نوموړې فاضله مدينه له يو داسې بدن سره پرتله کوي چې د هغې ټول غړي (اندام) خپلې چارې په سمه توګه سرته رسوي او يو له بل سره ښه سمون او جوړ جاړی لري ، نو له دې کبله د فارابي په فاضله مدينه کې د امر کولو او امر وړلو دود جاري دی.

فارابي همدارنګه د هغه ټولنو څخه يادونه کوي چې د فاضلې مدينې تر وړاندې ولاړ دي او نوموړی هغه د جاهله مدينې ، فاسقه مدينې ، ضاله مدينې، او کرغېړنه مدينې په نوم ياد کړي دي.

د څوارلسمې پېړۍ يو مسلمان پوه ابن خلدون دی نوموړی د اسلام په نړۍ کې د سياست د علم له فيلسوفانو څخه ګڼل کېږي. هغه په يو کتاب کې چې د حکومت په اړوند يې ليکلی دی، ښه ټولنه د انسان د معنوي پرمختيا شرط بولي او په ښو ټولنو کې يې د انسانانو د ښو کارونو او په بې لارې ټولنو کې د خلکو د تباهۍ څخه يادونه کړې ده.

ketabton.com - The Digital Library

د اسلام په نړۍ کې د سياست فلسفه په منځنيو پېړيو پورې محدوده پاتې نه شوه، بلکې په شلمه او يوويشتمه پېړۍ کې يې هم دوام وکړ. د سيد جمال الدين افغاني نظريات په دې لړ کې د پاملرنې وړ دي. په وروستيو دوو پېړيو کې د اسلامي بنسټپالنې په رامنځ ته کېدو سره د اسلام سياسي نظريې بيا پاملرنه ځان ته واړوله. محمد عبده، علي شريعتي او امام خميني هغه مهم کسان دي چې په وروستۍ پېړۍ کې يې د اسلام د سياسي اصولو بيان ته پام اړولی دی.

## د مسحيت منځنۍ پېړۍ

د مسحيت په منځنۍ پېړۍ کې د سياست د فلسفي اندونه له انجيل څخه اخيستل شوي ول، خو دا هڅه هم شوې وه څو د افلاطون او ارسطو آثار د مسحيت سره پخلا کړی شي او د هغوی اصولو ته د انجيل له آياتونو سره سمون ورکړی شي، په دغه دوره کې په عمومي ډول واک د خدای حق ګڼل کېده او خلک او پاچا هان د کليسا رعيت ګڼل کېدل.

## د رنسانس او د روښانتيا دغورځنګ دوره

توماس هابز، د رنسانس په دوره کې د سياست د فلسفي له لومړنيو تيوريسنانو څخه دی. هابز د مطلقې واکمنۍ او استبداد خبرې کولې خو په فرد يې ډېره لګوله. هغه ويل ټولنه يوازې د فرد له ژوندانه څخه د ملاتړ او ساتنې او دهغه د هوساينې او آرامۍ دپاره منځ ته راغلې ده. پر فرد باندې د هغه همدغه تاکيد ؤ چې له يوې خوا يې د هغه اندونه د افلاطون او ارسطو په څېر فيلسوفانو له اندونو څخه جلا کول او له بلې خوا يې د منځې پېړۍ له اندونو سره په مخالفت کې ول، چې د پاچاهانو واک يې د خدای له لورې بللو. سلطنت غوښتونکي هم د هابز له دغه اند سره مخالف ول چې ويل يې سلطنت د خلکو له خوا شاه ته ورکول کېږي او د يو ټولنيز تړون پايله ده.

جان لاک، په اولسمه پېړۍ کې د سياسي فلسفې بل تيوريسن ؤ چې د الهي حق نظريه يې ونه منله او په اروپا کې يې د خلکو د حکومت يا دموکراسۍ فلسفه رامنځ ته کړه. لاک، سياسي آزادي له قانون څخه د ټولو اطاعت وباله او په دې اند ؤ چې يوازې له قانون څخه اطاعت دی چې هيواد له خپل سرۍ څخه ژغوري. هغه د خلکو واک داسې تعريف کړ چې دولت د خلکو استازی او قانون د ټولو دپاره يوشان دی. لاک، همدارنګه ويلکل چې د هر راز دولت شتون له هغه حالت څخه ډير ښه دی چې دولت په کې نشتون و نه لري. د سياسي فلسفې په برخه کې د لاک له نورو مهمو نظريو څخه يوه هم له سياست څخه د دين جلا کول دي. هغه د دين او دولت اړانې له يو بله جلا وبللې او د يو او بل په اړانه کې يې د يو او بل ننوتل روا ونه ګڼل. هغه تاکيد کاوه چې دولت بايد د خلکو له باورونو سره سر او کار و نه لري ځکه د دولت د جوړيدو هدف په ټولنه کې د خلکو له مدني حقوقو څخه ساتنه او ننګه وکړي.

د آزادي غوښتنې پر آرمانونو ډېره لګول چې د اروپا د رنسانس له غورځنګ، په تېره بيا له فلسفي رنسانس سره پيل شوی ؤ او د لاک اندونه چې په سياسي فلسفه کې دهغې له وتو ښېلګو څخه ول، له هغه څخه په را وروسته پېړيو کې زياته پراختيا ومونده، ددغه پراختيا ښېلګې له يوې خوا د انګلستان، امريکې او فرانسې په شان هيوادونو کې ددغه آرمانونه اغېزه او له بلې خوا د هغو پرمخ ورل دي. په اتلسمه پېړۍ کې د فرانسې او آلمان په شان هيوادونو کې د روښانتيا د غورځنګ د استازيو او په نولسمه پېړۍ کې د تندلارو د فلسفي غورځنګونو په شان د ليکوالو او فيلسوفانو په ليکنو کې دغه مساله ثرګنده ده.

په فرانسه کې ژانژاک روسو د ټولنيز تړون د کتاب په ليکل کېدو سره يو ځل بيا د حکومت په برخه کې د الهي حق نظريه رد شوه او د خلکو غوښتنه، د وګړو هغه غوښتنه وبلل شوه چې په خپلو کې د تړون د لارې يې د ټولنې بنسټ ايښی دی. نوموړي يو ځل بيا

ketabton.com - The Digital Library

تاکید وکړ چې د خلکو واکمنی د حکومت ډیره ښه بڼه ده . نوموړي واک د خلکو حق وباله. جرمی بنتام او جان استوارت میل د هغه کسانو څخه دي چې د خلکو د واکمنی د نظریو په بدلون کې یې رول درلود.

## نوی وخت او اوسنی دوران

په نولسمې پېړۍ کې د کارل مارکس نظریو د سیاست په نړۍ کې بدلون راوست ، مارکس په دې اند ؤ چې د کارګرانو د انقلاب له لارې انساني ټولنه آزادي تر لاسه کوي. هغوی د واک په تر لاسه کولو سره لومړی خپله دیکتاتوري ټینګوي، او کله چې یې خپل اړونده سازمانونه رامنځ ته کړل ، په ټولنه او خلکو کې سوسیالستي ښوونه پراخوي او طبقاتي نظام له منځه وړي. او له دغې دورې نه وروسته ګارګران له واکه ګوښه کېږي او د خلکو ریښتنې واکمني رامنځ ته کېږي. دداسې یوې ټولنې بنسټیز اصل دادی چې هیڅ ډول طبقاتي تضاد او ګټه اخیستنه او زبېښناک به په ټولنه کې نه وي، هرڅوک به د خپل وس په اندازه کار کوي او د خپلې اړتیا په اندازه به تر لاسه کوي. په روسیه کې تر ډېره د مارکس د نظریو پربنسټ انقلاب ترسره شو ، خو په کومه لاره چې پرمخ لاړل له هغې لارې سره یې توپیر درلود چې مارکس یې اټکل کړی ؤ. د شوروي ټولنې د مارکس له آرمانونو سره توپیر درلود. همدارنګه په دې وخت کې توتالېتار حکومتونه منځ ته راغلل چې له زیات نسانسور څخه یې کار اخیستلو او فردي آزادي یې تر پښنو لاندې کولې.

عمل او سیاست ته د فلسفې علاقه مندي چې د مارکسیستي غورځنګ د استازیو کار ؤ ، په فاشېزم کې یې زیات شدت پیدا کړ ان تر دې چې فاشېزم له فلسفې څخه ګوندي ایدیولوژۍ ته بدلون وکړ. او د زیاتو سیاسي پروپاګندو سره رامنځ ته شو. فیهشه المانیانو ته په خپلو خبرو کې هڅه وکړه څو د ناپلیون پرخلاف ملي او وطني احساسات و پاروي. توماس کارلایل، قهرمان پالنه د ټولنیز ژوند یو مهم عنصر وباله او تاریخ یې د اتلانو زېږنده وبلله. آرتور ګوبینو د نژادونو د نابرابرۍ په اړوند یو اثر ولیکلو او کولتور او تمدن یې د سپین نژاد هستونه و بلله او تور نژاد یې له حیوانانو لوړ خو تر نورو ټولو انسانانو ټیټ وباله. پر دغه نظریو باندې د ډېږ لګولو د لارې د فاشیزم اصول جوړ شول. او د ایټالیې فاشیستانو دولت خپل مطلق دریځ ته ورسولو ، لکه څنګه چې د موسولیني په حکومت کې وګړو او ډلو یوازې د هغه تړاو له مخې چې له دولت سره یې درلودل ، مفهوم تر لاسه کاوه.

په شلمه او روانه پېړۍ کې د سیاست بله فلسفه صیهونیزم دی، د صیهونیزم د نظریو پرمختیا په پای کې په فلسطین کې د یهودي دولت د منځ ته راتللو سبب شو.

فمینیسم که څه هم د سیاست د فلسفې په توګه ځانته پاملرنه نه ده اړولې خو د دولتونو په جنسیتي جوړښت کې زیات رول لوبولی دی.

اوومه برخه

## د ماکیاولي له انده د سیاست مفهوم

ketabton.com - The Digital Library

داسې يو څوک چې د هغه ښه او بد نوم دا څو پېړۍ د خلکو پر ژبه دی او داسې سياسي کتاب نشته چې د هغه له اندونو يادونه په کې نه وي شوې. د ماکيالولي د ښه پېژاندنې دپاره پکار ده څو د هغه د وخت چاپيريال و پيژنو ،

څکه هيڅوک له يو سياسي، ټولنيز، اقتصادي او کولتوري چاپيريال څخه بهر ژوند نه شي کولی. هغه په يو داسې وخت کې ژوند کاوه چې ايټاليا په ټوليزه توګه او د هغه مورنی ځای فلورانسي له ګډوډۍ او کړکېچ سره لاس او ګريوان ؤ . ايټاليا د خپل جغرافيوي دريځ، د سوداګرۍ د سياليو او د ګاونډيو هيوادونو د لاس وهنو له امله په څو برخو ويشل شوی ؤ او په هر ښار کې په حقيقت کې يو خپلواک حکومت شتون درلود. په دغه وخت کې ايټاليا د پنځه خپلواکه ښاري دولتونو څخه جوړ شوی ؤ . په جنوب کې د ناپل سلطنت ، په شمال لويديځ کې د ميلان اميران او د اشرافو جمهوريت او شمال ختيځ کې د بلورانس جمهوريت او د پاپ دولت چې په مرکز ځای درلود ، له کورنۍ پلوه دغه ټول ولايتونه د سختې سيالۍ مرکزونه ول ، شخصي لويي غوښتنې او په همدې حال کې د راز راز هنري او ادبي کولتورونو منځ ته راتګ ددې سب شوی ؤ څو ددوی اړيکې له دښمنۍ ډکې او د ديپلوماسۍ او جګړو له لارې په همښتني کړکېچ کې اوسي. ددې سربېره د ايتالي د ښارونو نه پيوستون نورو هيوادونو ته چې تر ايټاليې لوی ول دا بهانه په لاس ورکوله څو پر ايټاليې پوځي بريدونه وکړي. هغه پوهانو چې په دې برخه کې کار کړی د ايټاليې په نه يووالي او نه پيوستون کې د پېلابېلو عواملو څخه يادونه کوي. د بېلګې په توګه د پانګې زياتېدل او د سوداګرۍ د سختو سياليو شتون، د سياسي فساد شتون او اخلاقي پريوتنه. لوتر په ۱۵۱۱ کال کې له ايټاليې څخه ليدنه وکړه نوموړی د ايټاليې د حالت په اړوند داسې وايي: که دوزخ شتون لري ، نو ايټاليا د هغې پر سر جوړه شوې ده. خو د ايټاليې د ګډوډۍ او نه پيوستون ډېر مهم دليل د ايټاليې په مرکز کې د پاپ د دولت شتون ؤ دې دولت دومره واک نه درلود چې په خپله د ايټاليې د يووالي دپاره کوم کار وکړي خو دومره ځواک يې درلود چې که د کوم بل ښاري دولت له خوا د يووالي کومه هڅه شوي وای د هغې مخه يې نيولې شوای او د هغوی د لارې خنډ کېدلی شو.

د ماکياولي ژوند ته يو نظر

نېکولو ماکياولي د ۱۴۶۹ کال د مې په دريمه پنېټه په فلورانس کې په يوه داسې کورنۍ کې چې د ژوند منځنی او لږ څه ټيټ حالت يې درلود نړۍ ته سترګې پرانيستې. پلار يې برناردو ماکياولي له يوې اشرافي کورنۍ څخه ؤ چې بې وزله شوي ول. ماکياولي په يوه شپږکسيزه کورنۍ کې ژوند کاوه او پلار يې د خپلو اولادونو له تحصيل سره زيات علاقه لرله او د هغوي پرزده کړو يې پانګه لګوله، هغه پوهېده چې د هغه د اولادونو پرمختيا يوازې په زده کړې پورې اړه لري او د کورنۍ مالي امکاناتو پرته له دې د هغوی تر وړاندې بله لاره نه پرانيستله. ماکياولي په اته کلنۍ کې د لاتين ښوونځي ته واستول شو. پلار يې هغه ته د کتابونو د رانيولو په برخه کې زياتې پيسې لګولې نو څکه د هغوی کورنۍ په لا زياتې بې وزلۍ کې ډوبېدله. خو ددغه لګښتونو زغم ماکياولي ته پايلې هم لرلې ،او هغه په ۲۹ کلنۍ کې د « سترې محکمې ددويم ديوان» د ريس او د فلورانس د حاکم د لس کسيزې شورا چې هلته د فلورانس د جمهورۍ د بهرني او امنيتي سياستونو په اړوند پريکړې کېدلې، په غړيتوب کې ومنل شو. ماکياولي په دغه څوکيو کې خپلې دندې په ډېره ښه بڼه ترسره کولې او کال په کال يې دريځ ټينګېده. هغه د سفير او ديپلومات په توګه د ماکسيمليان دقيصر سزار بورژيا او تر هغې هم لوړ د فرانسې دربار ته واستول شو. ددې دندې تر څنګ ، د فلورانس د پوځي ځواکونو سازمان ورکونه هغه ته وسپارل شوه او نوموړي په فلورانس کې يوه مليشه جوړه کړه. په ۱۵۱۲ کال کې ماکياولي د مديچيانو پر خلاف د يوې کودتا په توطيه کې د ګډون په تور ( دا خبره تر اوسه هم ثابته شوې نه ده ) له کاره ليرې او تبعيد شو. ماکياولي تل غوښتل د سياست

ketabton.com - The Digital Library

نړۍ ته بیرته راستون شي، خو دا چانس د ژوند تر پایه بیا ورته برابر نه شو. شاید دا کار بې رحمانه ښکاره شي خو د سیاست نړۍ له دغه کاره ډیره ګټه اوچته کړه، ځکه ماکیاولي د اوږده تبعید په موده کې د سیاست په چارو کې د یو فکري نظم په توګه ژور فکر او اند وکړ. ماکیاولي په ۱۵۱۲ کال کې د «ویناوې» په لیکلو پیل وکړ او په ۱۵۱۳ کال کې یې د ځلورو میاشتو په اوږدو کې د «شاهزاده »کتاب ولیکلو. د هغه دوه نور لوی آثار یانې د «جګړې هنر» په ۱۵۲۰ او د «فلورنس تاریخ» په ۱۵۱۲ کال کې یو په بل پسې خپاره شول او د «ویناو» کار هم پای ته ورسېد. ماکیاولي تل خپلو نظریو ته د سیاسي کړنې په لور د لاربنود او د ټوپ وهلو د تختې په څیر کتل خو د مدیچیانو په دوره کې وروسته له دې هغه ته د څو بې ارزښته دندو پرته بله مهمه دنده ونه سپارل شوه ، کله چې په کال ۱۵۲۷ کې د مدیچي کورنۍ له بلورانس څخه وشړل شوه ماکیاولي ګومان کاوه چې کولی شي بیا سیاست ته راستون شي، خو له مدیچي سره د همکارۍ له امله د هغه دغه هیله هم ترسره نه شوه او نوموړی په همدغه کال ۱۵۲۷ د جون په ۲۲ نېټه مړ شو.
ماکیاولي تل په خپل کتاب کې د خپل تبعید په اړوند ګلې او شکایتونه کوي نوموړی لیکي په داسې حال کې چې د سیاست نړۍ هغه ته اړتیا لري ،دی دې ته اړ دی څو له ښځو او چرګانو سره وخت تېر کړي. په خپلو اندونو کې ، د ماکیاولي اساسي هدف په ایټالیې کې د ثبات لرونکي او ځواکمن دولت جوړول ول، خو هغه په دغه هدف کې هم ناکام شو . د ماکیاولي له مړینې څلور میاشتې وروسته فرانسوي لښکرو ایتالیه ونیوله او په دې ډول د ایټالیې د رنسانس دوره پای ته رسېده. له تاریخي پلوه هم د ماکیاولي اندونه شنډ پاتې شول او ایتالیا په ۱۸۷۰ کال کې بېرته له سره د ګاریبالدي له خوا یو موټې شوه خو تر اوسه اوتر ننه پورې ایټالیې بیا یو غښتلي دولت ترلاسه نه کړ. خو د ماکیاولي سیاسي نظریو او اندونو په ټوله لویدیځه نړۍ کې بې شمیره پلویان پیدا کړل په نوي دوره کې د سیاسي پوهه، تر هر چا زیات د ماکیاولي پوره وړې ده او له دغه پلوه هغه د مړینې وروسته ستر برى ترلاسه کړی خو نه په ایټالیې کې.

## د سیاسي اندونو په تاریخ کې د ماکیاولي ځای

اتمه برخه

عبدالملک پرهیز

کومې پوښتنې چې ماکیاولي د شپاړلسمې میلادي پېړۍ په پیل کې رامنځ ته کړې، اوس هم په سیاست کې له مطرحو مسایلو څخه ګڼل کېږي. داسې پوښتنې لکه د سیاست او اخلاقو تر منځ څه ډول اړیکې شتون لري او دغه اړیکې باید څنګه وي؟ سیاسي نظریه او فلسفه د سیاسي کړنې د پاره د کړنې کوم لاربنود ونه لرلی شي؟آیا د سیاسي کړنې د برې د پاره سارونکي دودیزې او د اعتبار وړ عمومي قاعدې شته یا د مختلفو حالاتو په تړاو د انعطاف لرونکي غبرګون په پایله کې زیات بری لاس ته راتلی شي ؟د سیاست لرلیدونه څنګه د تاریخي تکامل له قانونمندیو سره اړیکې پیدا کوي؟ آیا په تاریخ کې د نړیوالې پرمختیا امکان شته؟ یا په تاریخ کې د پرمختیا هره دوره ، د پرمختیایي بدلون یا د پرمختیا خلاف بدلون یوه دوره له ځانه سره لري؟ دغه ټولې پوښتنې ، د شپاړلسمې پېړۍ د فلورانسي پوه او تیوریسن له نوم سره تړاو لري.
دغه راسپړنې د ځنې اړخونو له پلوه سم دي، ځکه ماکیاولي په خپلو ټولو لیکنو کې، هیڅکله هم په غوڅه توګه د یو سیاسي جریان پلوي نه کوي. د هغه په لیکنو کې داسې جملې پیدا کولی شو چې تر ډیره محافظه کارانه ، یا اصلاح غوښتونکي او یا زیات انقلابي دي. اوس زیات انګلیسي او امریکایي محافظه کاران د هغه له «خبرو» څخه ګټه اوچتوي. په داسې حال کې چې د روسو او

ketabton.com - The Digital Library

ګرامشي په شان انقلابيانو او په اروپا کې سياستمدارانو تر ډيره «شاهزاده» ته زياته علاقه ښودلې ده. همدغه کار د هغه په آثارو کې په ډاګه تضاد ښيي .
کوم سياست ډير ښه سياست دی؟ دغې پوښتنې ماکياولي ته هيڅ ارزښت نه درلود ، بلکې د روانو سياسي حالاتو څخه يې سرچينه نيوله. ان له دې هم وړاندې: هم په ايتاليې کې د جيامپې پاڅون په شان پېښې چې غوښتل يې واک ترلاسه کړي ،هم د ماکياولي سياسي پاملرنه ځانته را اړوي. د ټولو سياسي نظرونو ترشا ، يو شي د ماکياولي نظر ځانته زيات اړولو ، سم فن–او دا د ماکياولي له نظره هغه سياسي عمل دی چې د برې سبب کېږي. دا سې بنسټيزې خبرې ددې سبب شوې چې د هغه نظري آثار د بېلابېلو سياسي غورځنګونو او جريانونو له خوا وکارول شي. په عين حال کې د ماکياولي د ليکنو بنسټيز جوړښت د جمهوريت غوښتنې اساسات جوړوي او د لويديځې دموکراسۍ بدن ته يې غښتلی روح پو کړ.

د ماکياولي «شهزاده»، په واقعيت کې د سياست پر علم او فن باندې د واکمنو قانونمنديو د راسپړلو په لور د ماکياولي فکري لاس ته راوړنې وې. او د عمل هغه لارښودونه چې د سياست په ډګر کې برې ته د رسيدو د پاره نوموړي د هغو سپارښتنه کوله–که څه هم په ښکاره متضاد ول–خو بيا هم د دموکراسۍ سبب شول. ماکياولي د لرغونې نړۍ له کلاسيکې فلسفې او همدارنګه د منځنيو پېړيو له سياست څخه د نوي وخت د سياسي اندېښنو په لور يو بېلګېز بدلون ترسره کړ او د نوي وخت ټولې سياسي نظريې پر خپل بنسټ را ټولوي. ماکياولي د سياست د مسالې جوړښت بيا له سره ترتيب ، طبقه بندي او فرمول بندي کړ نو له دې کبله په حقه د مودرن سياست پلار بلل کېدی شي.

## ماکياولي د فلسفې د تاريخ په اړوند

په عمومي ډول د تاريخ د تکامل له حرکت څخه دوه ډول پوهاوي شته، يو د حرکت ليکه ډوله بېلګه (Schema) ده چې د هغې له مخې تاريخ د يو آرماني هدف په لور په حرکت کې دی چې پرمختيا او کمال په دربر کې نيسي، ځنيو ته تاريخ مخ په ځوړ ) ( Dekadenzاو د انسان د پرزېدلو ( Untergang) بهيردي، د تکامل په لور په ليکه د تاريخ د حرکت پلويان ښېکن، د فرانسې د روښانتيا فعالين ، هګل او مارکس دي او د ځوړ او لوېدو په لور د تاريخ د ليکه ايز حرکت پلويان توينبي او اشپنګلر دي.
د ماکياولي له انده تاريخ د هغه پېښو ټوليز دی چې د تکامل او همدارنګه د هغې خلاف لوري ته حرکت کوي. ماکياولي « د تاريخ پر دوره ايزه» جوړښت باور لري او په هغې کې هيڅ ډول عمومي او نړيواله پرمختيا نهويني . د ماکياولي سياسي او تاريخي نظر په نړيوال تاريخ کې د عمومي پرمختيا او کمال پربنسټ نه بلکې د يو لنډ مهاله برې په بنسټ جوړ شوی دی. خو نه يوه عمومي پرمختيا بلکې د تاريخ په لوړو ټکو کې د لږې پرمختيا تثبيت د ماکياولي نظريه جوړوي. په دې ډول د ماکياولي د دوره ای تاريخي نظريې څخه نه شو کولی په بشپړه توګه دا پايله ترلاسه کړو چې دغه نظريه له ښه نظره او يا له بده نظره ده، خو په غوڅه توګه ويلی شو چې هغه د تاريخي قانونمنديو په پوهېدو سره د تسليم او رضا نظريې ته ځان نه دی سپارلی بلکې د هغه په نظريه کې د تاريخي دورو پوهېدل د يو نه بدلېدونکي وړانديز په توګه مطرح کېږي چې د هغې له مخې د انسانانو له خوا پر تاريخ باندې د انسانانو بريالۍ واکمني حتمي ګڼل کېږي.
د ماکياولي له نظره د تاريخ د دوره ای قوانينو څېړنه يو لومړنی شرط دی چې د هغې پربنسټ دولتونه کولی شي له قضا او قدر څخه وتېښتي او خپل واک وساتي. له دې اړخه ماکياولي ښه ليد لري. د هغه بد ليدنه په عمومي ډول په تاريخي لرليد کې ټاکل کېږي ، هر دولت که هر څومره هم ښه سازمان موندلی وي ، نه شي کولی ځان د خپل تکامل په لوړو پوړيو کې د تل د پاره وساتي. له دغه پلوه ماکياولي ښه نظر نه لري. د پرمختګ او کمال په لور د هګل د تاريخي حرکت د لوري نظريه د ماکياولي او د رنسانس ددورې د پاره

ketabton.com - The Digital Library

پردی وه.

د منځنیو پېړیو د دورې تاریخ لیکنې ، کار د دوو ډلو ترمنځ وېشلی ؤ : یو کلیسایي تاریخ چې د سپېڅلي کتاب پر بنسټ لیکل کېده او د آگوستین د « خدای ښار» نظریه د هغې د لارښود ستوري په توگه گڼل کېده او بل یې ددې نړۍ د پېښو د بهیر په اړوند تاریخ لیکنه ده چې یوازې د پېښو لیکلو ته اړوند کېدله .

ماکیاولي دغه دود پرېږدي او د لرغوني یونان او روم د دورې تاریخ لیکنه ( په تېره بیا د هرودوت او پلوتارک او تر دې دواړو زیات د پولیبیوس او توسیدید کار ) ، د خپل کار د بېلگې په توگه غوره کوي. ماکیاولي په خپل ژوند لیک کې افسوس کوي چې د رنسانس په دوره کې د هنر او ادب له پلوه ، یوازې د کلاسیک یونان او روم له اندونو ، سبکونو او ارزښتونو څخه کار اخیستل شوی او هیڅ چا د تاریخ او سیاست په برخه کې لرغونو بېلگو ته پاملرنه نه ده کړې.

هغه خپل هدف د رومي سیاست له مفهوم او بېلگې څخه کار اخیستنه بولي او په « ویناو » کې په تیره بیا له دغه سیاسي بېلگې څخه کار اخلي او هغه څېړي او په «شاهزاده» کې د ایټالیې د تېرې سترتیا د بیا را ژوندي کولو غوښتنه کوي. د منځنیو پېړیو د تاریخ لیکنې څخه د اړیکو پرې کول او د لرغوني وخت تاریخي نظریو ته را ستنېدل ، ماکیاولي له دې هم وړاندې لاړ او د نوې دورې تاریخي – سیاسي نظریه یې و پنځوله (منځ ته راوړله ) .د هرودوت د نظریې سره سم تاریخ د سترو سړیتوبونو (شخصیتونو ) د کړنو پایله ده. د لرغوني روم په دوره کې ، په تېره بیا د پولیبیوس، توسیدید او تاسیتوس په تاریخ لیکنه کې د سیاسي سیستمونو او جوړښتونو نظریه په تاریخ کې د لومړي ځل د پاره مطرح کېږي. ماکیاولي دواړه نظریې سره وپېیلي. د هغه له نظره ، فرد کولی شي د اړتیا په پوهېدو او د تاریخي پېښو په بهیر کې د تومنې په لرلو سره لاس وهنه وکړي او د هغو تگ لوری په خپله گټه واړوي.

## تومنه (virtu) د صلاحیت او وړتیا د منځپانگې په توگه

د virtu مفهوم چې دلته د «تومنې» په مفهوم ژباړل شوی، هغه مرکزي او اساسي مفهوم دی چې ماکیاولي په خپله سیاسي فلسفه کې پر هغې تم شوی ، تومنه په ایټالوي ژبه کې د لیاقت، وړتیا ، کارپوهنې اود مېړانې له ځواک سره سمون پیدا کوي. دغه مفهوم د رنسانس په دوره کې د ډېرو تیوریسنانو له خوا تر بحث لاندې ونیول شو او ماکیاولي ددغه مفهوم په اړوند وروستې فرمولبندۍ او جمعبندي ترسره کړې. «تومنه» د ماکیاولي له نظره « هغه څه دي» چې وگړي او ملتونه یې باید ولري، څو لویو هدفونو ته رسېدل ممکن شي.

د ماکیاولي له نظره که په یو ملت کې تومنه نه وي ، هیڅ دولت نه شي کولی د هیواد سیاسي ټینگښت د زیات وخت د پاره وساتي. « تومنه» د ماکیاولي په اند ، د ژوند دځواک، وړتیا او د سترو کارونو د ترسره کولو وړتیا او د هنر په مانا ده. «تومنه» د سیاست او مه (خامه ) ماده ده چې باید ښه ونیسي او دهغې پر بنسټ یو قوم یا یو ملت د سترو کارونو د ترسره کولو وس پیدا کوي.

کله چې د انساني چارو په اړوند فکر کوو ، وینو چې نړۍ تل په یوه کورنۍ کې وه. په هغې کې د نیکیو اندول له بدیو سره برابر دی خو نیکي گانې او بدي گانې له یوه هیواد څخه بل ته وړل کېږي، د بېلگې په توگه پوهېږو چې د سترو هیوادونو ځواک د اخلاقو او آدابو د بدلون له امله د پرله پسې بدلون په حال کې وي خو سره له دې هر څه، نړۍ همغسې وي چې وه، په دې توپیر چې د هغې کوټلي ځواکونو لومړی په آشور( د آشور د هیواد ډېر لرغونی پایخت دی ) کې خپله اغېزه وکړه ، وروسته د مادانو هیواد او پاریس او په پای کې ایټالیې او روم ته ولېږدول شوه.

که څه هم د روم تر نړیوالې امپرتورۍ وروسته کومه بله امپرتوري چې اوږده موده ټینگه پاتې شوې وي او د ټولې نړۍ ځواکونه په

ketabton.com - The Digital Library

کې راټول شوي وي منځ ته راتغله خو هغه ځواکونه په پاشلي توګه د زياتو قومونو او ملتونو سره ووينو ، چېرې چې لا تر اوسه ښه اخلاق حکومت کوي د بېلګې په توګه د فرانسې د پاچا هانو په هيواد ، په عثماني امپرتورۍ او يا د مصر د سلطان په امپرتورۍ او نن په المان او تر ټولو زيات په عربو کې چې ستر کارونه يې ترسره کړل او زياتو هيوادونو ته ورسېدل.( ويناوې دويم ټوک ۱۹۱ م(

د منځنيو پېړيو له کلامي – اخلاقي اصولو څخه د ماکياولي په غوڅه جلا کېدل په بل هيڅ ځای کې د « تومني» د مفهوم په پرتله ښه نه دی ځلېدلی، «تومنه» يانې د دغه نړۍ هغه آرمان چې نوموړی د هغې اساسي عناصر د سياسي چلند په ځواکمنۍ ، انرژي، صلاحيت، وړتيا ، کار پوهنه او لياقت کې راټولوي. په عمومي ډول « تومنه» د ماکياولي له انده د انسانانو له ارادې او وړتيا سره تړاو لري چې خپل غوښتي هدفونه پرمخ بيايي څو هغو ته ورسېږي، په دې ډول سياست د ځانګړې ډلې له واکه چې « خدای ښنلي » وي ، وځي او د «هر چا » په واک کې راتلی شي. يانې هرڅوک چې «تومنه» يا صلاحيت، وړتيا او وس ولري او کولی شي په ټينګه خپل هدفونه پرمخ بوزي هغه تر لاس کوي.

په دغه نظريه کې د خلکو د برابرۍ اندونه نغښتي دي او ددې نظريې سره سم « هرڅوک» او «هرملت» چې وړتيا او صلاحيت ولري، کولی شي په تاريخ او سياست کې ستر کارونه تر سره کړي.

همدارنګه بايد وويل شي چې له يو ملت څخه بل ملت ته د «تومنې» د وړل کېدو پربنسټ د ماکياولي تاريخي نظريه چې پورته مو ولوستله، له بنسټه انسان خوښونکي ده او هيڅ ډول توکم پالنه چې وروسته «د مرکزي اروپا» د ځنيو په نظريو کې ليدل کېږي د هغه په نظريو کې نه ليدل کېږي.

د ماکياولي له نظره «تومنه» په هر ملت کې پېداکېدی شي او هر دولت دنده لري خپل ملت داسې وروزي چې د سترو چارو د ترسره کولو او اساسي هدفونو ته د رسېدو وس پيداکړي.

په دغه بنسټيز مفهوم کې ماکياولي د سرپيو او ښځو ټولې بنسټيزې ځانګړنې سره راټولوي، چې د يوې سياسي ټولنې د ټينګښت او دوام دپاره اړين دي او داکار پرته له دې چې د حکومت بڼې ته پاملرنه وشي ترسره کېږي: « له مېړانې آرامتيا رامنځ ته کېږي، او له آرامۍ تنبلي ، له تنبلۍ څخه جبري ګډوډي او له ګډوډۍ څخه انحطاط رامنځ ته کېږي او له نظم څخه مېړانه منځ ته راځي.» ( د فلورانس تاريخ ۲۲۸ م.(

په دې ډول ماکياولي داسې ګڼله چې سياست ته تکامل ورکوي چې د مودرنه سياسي اند د نظريې د بنسټ په توګه آوښتی دی. د ډيرو د نظر خلاف چې د «تومنې» مفهوم د سياسي ځپلو د ځواک په توګه بولي، خو د ماکياولي له انده ، له بنسټه د لوړو سياسي اندونو لرونکو هدفونو ته د رسېدو ، په توګه فکر شوی.

دغه لوړ هدف د سياسي ټولنې «ځان ساتنه» او په هيواد کې ټينګښت او دوام دی. د صلاحيت، وړتيا او لياقت له لارې سياسي ثبات. دا هغه سوغات دی چې د ايټاليې رنسانس نړۍ ته وړاندې کړی دی. ماکياولي د خپلې مشهورې فرمولبندۍ په وسيله چې « پاچا هم بايد زمری او هم ګيدړ وي» ، دغه سياسي پايلې خپلې لوړې کچې ته رسوي. يانې دولت بايد زور له ټګۍ او سياسي محاسبې، د پريکړې کولو له ارادې او ديپلوماتيک جوړجاړی او پوځي ځواک سره يوځای کړي. په دغه ډګر کې د « تومنې» رازراز سياسي ځواکونه اساسي رول لوبوي. بخت يا fortuna په تاريخ کې د تصادف او د بې ځايه توب عنصر دی. ماکياولي په خپلو ټولو ليکنو کې د « تومنې» له خوا د بخت الهې د تصرف په اړوند خبرې کوي او وايي يوازې په دې ډول موږ کولی شو ددغه الهې له بدلېدونکي خوی او خصلت څخه ځان خوندي کړو.

»ټول دولتونه، ټول واکمنان چې تر اوسه خلک د هغوی ترسيوري لاندې اوسېدلي يا جمهوري ول او يا شاهي. پاچاهي ګانې له پلارونو اولادنو ته په ميراث رسېدلي دي. يا خو نوي دي...يا د بخت يا د «تومنې»په مرسته تر لاسه شوي دي. (شهزاده ۴۲ م.(

ketabton.com - The Digital Library

د ماکیاولي دغه ویشنه یوازې د فني او تخنیکي پلوه ده او هیڅ ډول ارزښت نه لري. که څه هم ماکیاولي دوام ورکوي چې شاهي نظامونه (هغه دولتونه) چې د «تومنې» پربنسټ منځ ته راغلي دي د هغو په پرتله چې د «بخت» پر بنسټ منځ ته راغلي دي، د دوام او ټینګښت زیات امکانات لري، خو نوموړی د دویم په اړوند هم له زیرتیا کار اخلي.

په لرغوني نړۍ کې ارستو د خپل «سیاست» په رساله کې، درې ډوله ښه حکومتونه په ګوتو کوي: شاهي(مونارخي)، اشرافي (آرستوکراسي) او دیموکراسي. هغه همدارنګه درې ډوله بد حکومتونه چې د درې لومړنیو ډولونو د پرزېدو په صورت کې منځ ته راځي:

فردي دیکتاتوري (بشپړ استبداد)، اولیګارشي (هغه حکومت چې واک یې د څو ځواکمنو کورنیو په لاس کې وي، د حکومت هغه رژیم چې یوازې د څوتنو له خوا اداره کېږي) او انارشي (د ګډوډۍ حکومت، بې قانوني، بې سر او بې ساماني). د ارستو دغه ویشنه یوه نورماتیف جوړونکې (normativ) او ارزښت جوړونکي (wertorienteirt) ویشنه ده، چې په هغې کې د سیاسي ټولنې د برقرارولو څخه هدف نیکمرغي او فضیلت دی. ماکیاولي په غوڅه توګه د ارستو د دغه پوهنې څخه خپله لاره جلا کړه. لکه څنګه چې پورته وویل شول هغه یوازې دوه ډوله دولتونه پېژني: فردي او ډله ایز: او دغه ویش یوازنی تخنیکي او واقعي ویش دی. او په هغې کې هیڅ راز ارزښتي قضاوت نه تر سترګو کېږي. ماکیاولي په خپلو ټولو آثارو کې له هر ډول ارزښتي قضاوت څخه ډډه کوي او په دغه لاره کې د ماکس وبر مخکښ دی.

د سیاست او پوهې ترمنځ اړیکې چې په لرغوني نړۍ کې افلاتون او ارستو د هغې ستر استازي ول، په نوي دوره کې ماکیاولي د خپل ستر استازي په توګه وېني. د «تومنې» د لرلو د سیاسي او تاریخي اړتیاو پېژاندنه، یانې صلاحیت، وړتیا، لیاقت او د بخت د تصادفي ځواکونو کنترول، دا هغه ځوابونه دي چې نوموړی یې دوران جوړونکو پښتنو ته ورکوي. په دې ډول سیاست «د ممکناتو د ترسره کولو» او یا «د ناممکناتو د ترسره کولو هنر» په مانا څرګندېږي او محافظه کاران، اصلاح غوښتونکي او انقلابیون هر یو په وار سره له هغه او د هغه د سیاسي نظریو څخه ګټه اخلي. که وغواړو په یوه جمله کې د ماکیاولي سیاسي اندونه چې د شاهزاده او ویناو په کتابونو کې بیان شوي، فرمول بندي کړو، دا سې یوه جمله لاس ته راځي.

د ماکیاولي له نظره سیاست یانې: «څرنګه واک تر لاسه کوو؟ څرنګه واک ساتو؟ په کومو حالاتو کې واک له لاسه ورکوو؟». د ماکیاولي له وخته را په دېخوا د واک د ترلاسه کولو، ساتلو مساله د سیاست په مرکزي او بنسټیزه مساله آوښتې ده. او په دغه لاره کې د بدلون واقعي امکانات «ممکن کار» او «واقعي کار» تر پاملرنې او څېرتیا لاندې نیول کېږي. سیاست او پوهه د ماکیاولي له نظره سره ټینګ تړل شوي دي چې هیڅکله یې خلاصولی نه شو.

## رنسانس او ماکیاولي

نهمه برخه

عبدالملک پرهیز

پوهنې او هنر د پنځه لسمې او شپاړلسمې پېړیو ایتالیې ته ستر پرمختګونه ور په برخه کړل. دغه کولتوري جوړونه د رنسانس یانې نوې زېږېدنې په نامه مشهوره شوې ده. داسې پوهان، شاعران، فېلسوفان منځ ته راغلل چې د روم او یونان له اصیل میراث څخه په الهام یې سره نړۍ ته په نوي لید کتل.

ketabton.com - The Digital Library

انځورګران د اناتومي (د تشریح ) د علم په څېړنه بوخت شول او د انسان د بدن غړي یې په ربښتني او واقعي ډول انځورول. واکمنانو د ودانیو او سترو هنري چارو سپاربښتنې وکړې. دغه نویو عقیدو ډیر ژر په ټوله اروپا کې پراختیا وموندله.

په ۱۳۹۷ م کال د مدیچي کورنۍ په فلورانس کې یو بانک جوړ کړ او د سترو پانګو په ټولولو یې پیل وکړ. په ۱۴۰۱ م کال کې د فلورانس د وړیو د سوداګرۍ د صنفي اتحادیې له خوا په فلورانس کې د اپتیستری د ورونو د پاره د نوې طرحې سیالي په لاره واچول شوه. دا د رنسانس د پیل پېښنه ګڼل کېږي. لورنتسو ګیبرتی دغه سیالي وګټله. فیلیپو برونه لسکی ، د مایو سه اتل مرستیال ، د لروغوني روم د ګنډوالو څېړنه پیل کړه. په ۱۴۱۹ م کال برونه اسکي، په بلورانس کې د فاندلینګ د روغتون ( بې سرپرسته ماشوم ) طرحه جوړه کړه. په ۱۴۳۵ م کال دوناتلو د فلورانس ستر مجسمه جوړونکي ، د داود په نامه خپله اغېزناکه او ګټوره مجسمه بشپړه کړه. د ۱۴۵۰ کلونو په شا او خوا کې الماني یوهانس ګوتنبرګ چې د مطبعې کارګر ؤ ، د خوځنده تورو په وسیله په اروپا کې لومړني چاپ شوي کتابونه خپاره کړل. په ۱۴۵۰ م کال کې د فلورانس، میلان او د ناپل، د جمهوریتونو ترمنځ سیاسي اتحاد د رنسانس د دورې د ټینګښت سبب شو. په ۱۴۵۲ م کال لورنتسو ګیبرتی , د فلورانس د بایتیستری دکلیسا د ورونو دویمه لړۍ بشپړه کړه. میکل آنژ هغه ته د جنت د ورونو نوم ورکړ. په ۱۴۵۳ م کال قسطنطنیه د عثماني امپراتورۍ په وسیله سقوط وکړ. د بیزانس پوهان لویدیز ته تېښتېدل او ارزښت لرونکي کلاسیکې خطي نسخې یې له ځانه سره یوړلې. په ۱۴۶۹ م کال لورنتسو مدیچي د فلورنس واکمن شو. په ۱۴۹۴ م کال آلماني هنرمند آبرخت دوور د لومړي ځل دپاره له فلورانس څخه لیدنه وکړه. په ۱۴۹۸ م کال کې د فلورانس نفوذ لرونکی واکمن، راهب جیرولاموساوونا رولای ، اعدام شو. په ۱۵۰۴ م کال کې لئونادرو داوینچی ، د فلورانس د یو واکمن د میرمنې مونالیزا انځور جوړ کړ. په ۱۵۱۲ کال میکل آنژ چې له څلورو کلونو زیات وخت یې ونیو څو په واتیکان کې د سستاین د لمانځه د خونې د چت انځورونه بشپړ کړل. په ۱۵۱۷ م کال مارتین لوتر په خپلو اعتراضونو سره ، د دینې اصلاحاتو د غورځنګ بنسټ کېښود. په ۱۵۱۹ م کال لئوناردو داوینچی په فرانسه کې په هغه مانۍ کې چې د فرانسې پاچا لومړي فرانسوا ورکړې ؤ ه ، له دې نړۍ سترګې کړې. په ۱۵۴۳ کال ایټالوي منجم نیکولاس کوپرینک ادعا وکړه چې لمر د لمریز نظام مرکز دی نه بلکې ځمکه ده. په ۱۵۲۴ م کال د رنسانس د وخت ستر انګلیسي شاعر او ډرامه لیکونکي ویلیام شکسپیر په «استرانفورد آن ایون» کې وزېږید.

د سویس یو ستر پوه ، یاکوب بورکهارت ، په خپل مشهور کتاب « په ایتالیا کې د رنسانس کولتور» کې وایي: رنسانس د لرغوني نړۍ د لاس ته راوړنو راټولونه یا تقلید نه بلکې نوې زېږېدنه او د نړۍ او انسان بیا کشفونه وه. د رنسانس په دوره کې د لومړي ځل دپاره په اروپا او لویدیځ کې ، « د نړیوال انسان»(uomo universale ) طرحه جوړه شوه. که څه هم دغه « نړیوال انسان» په واقعیت کې د اروپایي او لویدیځ انسان بیا زېږېدنه وه. خو رنسانس په یوه دوره کې د فردیت په لور ښویدنه هم وه ، خو هغه انسان چې دا ځل د نړیوال په نامه ډګر ته راووت ، هدف یې د ټول بشریت د اندونو ټاکل او جوړول ول. رنسانس په داسې یوه دوره کې د فردیت په لور ښوېدنه وه چې غوښتل یې ځان د پاملرنې په یو داسې مرکز واړوي څو انسان چې تر پخوا زیات پر خپل فردیت او یوتوب پوه ؤ د لا پوهېدو وړ شي او له بلې خوا د ټولو دیني او سمبولیکو شتمنیو له نړۍ پرته یو ځل بیا ځان په طبیعي یا نیوترالیستي جرګه ګۍ کې پیدا کړي.

په دغه دوره کې، د منځنیو پېړیو د بې خوځښته ژوند بهه له منځه ځي او د نوې دورې غوړېدونکې دوره پیل کېږي. ددغه غوړېدو ځلېدنه مور. ددغه دورې په هنر ، ادبیاتو او فلسفه کې لیدلی شو. د څوارلسمې میلادي پېړۍ څخه را په دیخوا د ایټالیې د سوداګرۍ او مالي پانګه والۍ سکتور ، د هغه ځای چې په منځنیو پېړیو کې یې د کښت د ځمکې په توګه ارزښت درلود تر لاسه

ketabton.com - The Digital Library

کړ، بلکې وخت یې هم کشف کړ. نو ر د کلیسا زنګ یوازې مذهبي مانا نه لرله بلکې دغه زنګ هر ساعت او ان د شپې له خوا وخت اعلانولو. په دغه وخت کې د ښار ارزښت د کلي په پرتله زیات شو او د سوداګرۍ او مالي پانګوالۍ د ځمکو د رانیولو له لارې، د ځمکې اشرافیت او ان کلیسا چې زیاتې ځمکې یې لرلې، په شا وتمبول. دویم پاپ پیوس په همدغه وخت کې په دې اړوند وویل: « زموږ د بدلون په حال کې ایتالیې کې چې هیڅ شیُ ثابت نه دي او هیڅ پخواني ځواکونه پاتې نه دي، په آسانۍ سره له غلامه پاچا جوړېدلی شي».

د دې د پاره چې د دغه دورې روح بیا لا زیات جوړ کړو ، باید دغه مهم ټکی څرګند کړو چې د ایتالیې یو ډیر مهم صراف په دغه دوره کې پر خپلو چکونو ولیکل: « د خدای او ګټې په نامه». په دې ډول دغه پانګوالي د خدای سربېره ، ګټه هم کشفه کړه او ان تر دې چې هغې ته یې تر خدای هم لومړیتوب ورکړ. فلورانس د دغه پانګوالۍ مرکز ؤ. له هغه لویو کورنیو څخه چې په فلورانس کې یې حکومت کاوه ، د مدیچي له کورنۍ څخه یادونه کولی شو. کوزیمو مدیچي نه یوازې د خپل وخت تر ټولو شتمن سړی ؤ، بلکې له ۱۴۳۴ را په دېخوا یې د خپل ښار سیاست هم ټاکه. د هغه لمسی لورنسو ، د هنر، ادبیاتو او فلسفې له سترو سرپیتوبونو څخه ؤ او د خپل ژوند په دوره کې د فلورانس د شاهزاده په توګه پېژاندل کېده. ماکیاولي د شاهزاده په نوم خپل کتاب همدغه لورنسو مدیچي ته ډالۍ کوي، په دې هیله چې د هغه سره یو دریځ تر لاسه کړي. د لورنسو زوی، جیواني په ۱۵۱۳ کال کې د لسم پاپ لئوی په توګه تاج په سر کېښود. څه موده وروسته اووم کلمنس ، چې هغه هم یو مدیچي ؤ د پاپ په توګه غوره شو.

په ۱۵۳۳ کال کې د لورنسو لمسۍ ، کاترین دومدیچي د فرانسې د راتلونکي دویم پاچا هانري سره واده وکړ. د کوزیمو له خوان ورور ،لورنسو دی جیواني څخه ماریا دومدیچي رامنځ ته شوه چې په ۱۶۰۰ کال کې د څلورم هانري سره واده کوي. په دې ځای کې موږ د مدیچي د کورنۍ د ژوندانه له تاریخ څخه کولی شو د ایتالیې په رنسانس کې د بېلګه ایزه حرکت منحني ووینو: د یو پانګه وال او اعیان کورنۍ څخه چې فیوډالي آرمانونه او ایدیالونه لري د یوې آرستوکراتې اشرافي کورنۍ په لور چټکه پرمختیا. د فلورانس د سوداګرو، لویو بانک لرونکو او پوځیانو په کورنیو کې د« اشرافیت» دغه بیا جوړونه(Rearistokratisierung) داسې یوه ځلېدنه یا پدیده ده چې د متناقض(پارادوکس) بهیر په توګه د ایتالیې د رنسانس او نوي دوران یانې د پانګوالۍ او د پانګوالۍ د اړیکو د بې سارې ودې په عمومي طرحه کې ځان ښکاره کوي. ماکیاولي د مدرنه دولت د جوړولو په خپله نظریه او اندونو کې ،له بېلابېلو اړخونو څخه په تېره بیا د ایټالیې د پانګوالۍ ټولنې په خېټه کې د دغه متناقض او شا تلونکي بهیر ته ځواب ورکوي. دلته باید د سوداګري او مالي پانګوالۍ د دغه پرمختیا ترڅنګ، باید د رنسانس د دورې د هومانیستانو یا انسان پلویانو څخه هم یادونه وکړو.

د انسان دغه پلویان د اشرافیت او کلیسا پر خلاف سره یو ځای شول او په دې ډول د « پیسو او اندونو» د پیوستون دغه دوره، چې د نوي دورې ډیره مهمه ځانګړنه ده، رامنځ ته شوه. د کلیسا او اشرافیت پر خلاف مبارزه کې د «پیسو او اند » یو ځای کېدل د دې سبب شو ، څو هغه قشرونه چې د خپل پیدا ایښت په وخت کې په منځنۍ پېړۍ کې له اشرافي او د کلیسا له امتیازونو څخه بې برخې ول، په ټولنیز ژوند کې د نویو ډګرونو په لور ګام واخلي او د فکر او اندېښنو په دغه جګړه کې دوی د پیسو پر خوا ودرېدل، ځکه د دغه دورې متفکران د ټولنې د ښکته او منځنیو طبقو څخه راووتل. انسان پلویانو په لاتینه ژبه لیکنې کولې، او لاتینې سبک یې ښه کړ. د دانته له وخته د ایتالیې د خلکو ژبې یانې ایتالیایي ژبې ، په ادبیاتو کې لاتین ژبه ، د ادبي ژبې په توګه په شا وتمبوله. د رنسانس د دورې په پیل کې پترارک ځای لري او د هغې په پای کې ماکیاولي. د رنسانس د دورې هومانیستانو غوښتل « نړیوال انسان» په نړیواله کچه له نړیوالو اندونو سره رامنځته کړي. دا د نوي دورې برخه لیک دی چې غواړي د سیمه ایزه (partikular) اندېښنو پر

ketabton.com - The Digital Library

ځای نړیوالې اند پښنې (Universal) رامنځ ته کړي. ماکیاولي د رنسانس د ستراند پښمند په توګه همدغه لاره غوره کوي او نوموړی د سیاست په هکله په نړیواله کچه اند او ژور فکرونه کول.

د مسالې د جوړښت په اړوند نوې طرحه

که څه هم ماکیاولي د نوې دورې په درشل کې ژوند کاوه او په خپل ژوند کې یې لومړی د ډیپلومات په توګه کار کاوه او سیاسي چارې یې هغسې ترسره کولې لکه څنګه چې په منځنیو پیړیو کې ترسره کېدل ، هغه وکړی شو په خپلو سیاسي اندونو کې د منځنیو پیړیو د دوديز سیاست له دود څخه ځان جلا او خپله سیاسي او تاریخي نظریه د نوې دورې د اصولو او بېلګې سره سمه جوړه کړي. د ماکیاولي سیاسي اندکس د منځنیو پیړیو د سیاسي اندکس او همدارنګه د یوناني – رومي لرغوني سیاسي اندکس څخه په غوڅه او بشپړه توګه توپیر لري او د نوې دورې په لور لاره پرانیزي. هغه څه چې ماکیاولي د منځنیو پیړیو له سیاسي – تاریخي نړۍ لیدونو (یانې له هغه دمخه سیاست پوهنه چې په اروپا کې ورته د « شاهزاده هینداره » ( Fürstenspiegel • Miror of the Prince ) وایې ) ، څخه جلا کوي، دادی چې نوموړی د دولتي ادارې د هر ډول « الهي هدفمندی» (theologisch) او یا « غایتمندی» (teleologisch) له نظریې څخه تېرېږي.

د سن آګوستین د نظر خلاف چې په منځنیو پیړیو کې بشپړ علم ګڼل کېده او ویل کېده تاریخ د خدای په اراده او غوښتنه منځ ته راځي او د خدای له لورې یې لاربښودنه کېږي. د ماکیاولي له نظره تاریخ د انسان د کار او ارادې په پایله کې منځ ته راځي. د ماکیاولي له نظره تاریخ خپل عنیت د خدای د مداخلې څخه نه ، بلکې د غه عینیت د تاریخ له دننې جوړښت ، اړتیاو ، بهیرونو او پېښو څخه تر لاسه کوي. له همدې کبله ماکیاولي خپله لیکنه «د فلورانس تاریخ» ، د مسیحي تاریخ لیکونکو په څیر د بابل د برج د جوړېدنې په اړوند د انجیل له داستانونو او خلکو ته د خدای په خبره نه پیل کوي ، بلکې د غه تاریخ جرمنیانو او ایټالویانو ته په جملو سره پیلوي او توضیح ورکوي. د اسلام د دورې په تاریخ لیکنه کې هم موږ ددې خبرې شاهدان یو چې ټول تاریخ لیکونکي خبره له آدم (ع) څخه پیلوي او د پیغمبرانو په هکله مالومات ورکوي، ځو له دې لارې د خپل نظر ور تاریخ ته راو رسیږي. په اسلامي هیوادونو کې یوازې خواجه نظام الملک دی چې د غه دود پرېږدي او کېدی شي د هغه سیاستلیک ماکیاولي ته رسېدلی وي.

ماکیاولي د پورته (tranzendental) د اندونو ټول عناصر له خپلې نظریې څخه و ایستل او د تاریخي تکامل قانونمندی یې د آسماني اندونو له د خالت څخه پرته بیان کړي. په دې ډول نوموړی د تاریخ د آسماني جوړښت څخه په تېریدو سره ، په تاریخي ځېړنو کې علتیز چلند (kausal) ته لاره پرانیستله. له دې وروسته د خدای مداخله د تاریخي بدلونونو موجب نه ، بلکې یوازې د انسان طبعیت، چلند او کړنې د تاریخ بهیرونه ممکنوي. د انساني د خالت د غه کار هغه منطقي وړاندیز دی چې ماکیاولي په خپلو دوو آثارو «شهزاده» او « ویناوې» کې ترې کار اخلي او له دې امله نوموړی تاریخ لیکونکي د بدلون وړ ګرځوي. د رنسانس ددوو دودیزو مفهومونو یانې « تومنې» (virtu) او «بخت» (fortuna) ، ترڅنګ ماکیاولي د « اړتیا » (necessita ) مفهوم هم د خپل سیاسي – تاریخي نظریې په بحث کې ور ګډوي.

د اړتیا مفهوم له دې امله ضروري ؤ چې که خدای د تاریخ د جوړونکي او ټاکونکي عامل په توګه مداخله و نه کړي ، باید د تاریخي بهیرونو د پیوندونکي په توګه باید یو بل داسې عامل شتون هم ولري څو تاریخ د پېښو د لیکلو د یوې سرسري کار ترکچې ښکته رانه شي. دغه « اړتیا » ، د اندازه کولو د واحد په توګه ګڼل کېږي چې ماکیاولي د هغې په مرسته په تاریخ کې د بېژاندل شویو دننیو اړیکو بیا جوړونه کوي. د ماکیاولي سیاسي دستور لیکونه ټول د همدغه دننیو تاریخي اړیکو د اندازه

ketabton.com - The Digital Library

کولو پربنسټ ولاړ دي. یوازې هغه څوک چې د تاریخي او سیاسي پېښو او بهیرونو په قانونمندیو پوه شي ، په یو داسې دریځ کې به وي چې وکولی شي خپل هدفونه سم ترسره کړي. د تاریخي قانونمندیو پوهېدنه سړي ته دا امکان ورکوي څو تر یو بریده د برخه لیک او دبخت د بدلېدونکي خوی او خصلت څخه ځان لرې وساتي. دتاریخ پر قانون مندیو باندې د پوهېدو له لارې پرتاریخ باندې د واکمن کېدو وس–دا هغه پروګرام شوی نظري او عملي فرمول دی چې د ایتالیې رنسانس مورږ ته په واک کې راکړی دی:

« هغه واکمنان چې د کلونو واکمنۍ وروسته یې خپل واک له لاسه ورکړی، د برخه لیک څخه باید دومره شکایت و نه کړي، بلکې له خپل ډار څخه شکایت وکړي، ځکه په آرامو حالاتو کې هغوی دا ګومان نه کاوه چې کوم څه به بدلون وکړي. همدارنګه دا د ټول بشریت عمومي تېروتنه ده چې د سمندر د آرامۍ په وخت کې د توفان په اړوند فکر نه کوي. او کله چې حالات ویجاړ شي ، ددفاع په اړوند نه بلکې بیا یوازې د تېښتې په اړوند فکر کوي» ( شهزاده-۱۰۱ م). د شهزاده په کتاب کې د ماکیاولي غوره هدف ددولت (Selbsterhaltung ) او د « دولت د مصلحتونو» (Staatsraison ) «ځان ساتل» دي. او هغه د ځان ددغه ساتنې دپاره ، د اړتیا پېژاندنه او د تومنې یانې د صلاحیت او وړتیا لرل ، یو له بله سره تړي. که تاریخي اړتیا ونه پېژاندل شي او یا سیاستمداران هیڅ ډول تومنه و نه لري، هغوی د برخه لیک د تورو او نا روښانه لوبو قرباني کېږي او همدارنګه به د بخت د بدلېدونکي خوی او خصلت قرباني شي. د ماکیاولي له نظره دا ډول قرباني کېدل د تاریخ په فلسفه کې د اړتیا په اړوند د پوهې له نه لرلو څخه رامنځ ته کېږي چې تل د بې سره واک او تور بخت سره مل وي او په وروستی تحلیل کې د یو سړي یا یو ملت او هیواد د سیاسي صلاحیت او پوهې په نه لرلو دلالت کوي.

« دا ډول چلند د سل ناروغۍ ته ورته دی چې داکتران په هکله یې وایي چې ددغه ناروغي پېژاندنه په لومړي سر کې ستونزمن کار دی خو درملنه یې آسان. خو که په پرمختللي حالت کې دهغې پېژاندنه آسانه ده نو درملنه یې ستونزمن کار دی.

سیاست هم داسې دی: هغه شرارتونه چې په هیواد کې نوي نوي د را ټوکېدو په حال کې وي، که ژر وپېژاندل شي، چې البته دې کار ته یو غښتلې او پیاوړی مغز په کار دی، ډیر ژر له منځه ځي، خو که هغه و نه پېژاندل شي او پرمختیا وکړي، تر دې کچې ورسېږي چې هر څوک پرې پوه شي ، نو به هیڅ درمل هغه جوړ نه کړي» (شاهزاده-۱۰–م).

دلته د «بل چا» سره د « پوه سړي» د توپیرولو له لارې ، ماکیاولي دغه ادعا یقیني کوي چې سیاست باید د هنر او علم په توګه زده شي. سیاست له ماکیاولي سره خپل قواعد او ټاکلي قوانین تر لاسه کوي چې باید زده شي څو د پام وړ هدفونو ته ورسېږو. له دې وروسته لوړ نیتونه نه، بلکې بري ته د رسېدو وس، د یو سیاستمدار ډیره ښه ځانګړنه جوړوي.

له ماکیاولي سره سیاست « د ممکناتو د ترسره کولو د هنر» په توګه خپلې ځانګړنې تر لاسه کوي. که څه هم ځنې د هغه په سیاسي اندونو کې « د ممکناتو د ترسره کېدو هنر» لټوي. دا د ماکیاولي په اړوند زموږ په پوهیدنې پورې اړه لري ، لکه څرنګه چې د اندونو په تاریخ کې هغه څه چې وروسته له هغه ترسره شوي–نوموړی د محافظه کار، اصلاح غوښتونکي او یا انقلابي په توګه ښکاره کېږي. خو باید ووایو چې ماکیاولي په خپلو سیاسي–تاریخي اندونو کې سچه واقعیت خوښونه د خپل نظریو بنسټ ټاکي او په سیاست کې هر ډول لاره او طریقه جوړونه (normativ ) په سختۍ سره غندي:

« ځکه د ژوند ترمنځ لکه څنګه چې دی او لکه څنګه چې باید وي، زیات توپیر شته که څوک یوازې دې ته پاملرنه کوي چې څه باید پېښ شي څو خپل واک وساتي، خو دې ته پاملرنه نه کوي چې په واقعیت کې څه پېښېږي، خپل شتون لا زیات له تباهۍ سره مخامخوي. هغه څوک چې ددومره زیاتو انسانانو ترمنځ چې ښه نه دي ،یوازې ښه کول غواړي هرومرو ماتې خوري. ( شهزاده–۲۳ م)

ketabton.com - The Digital Library

د ماکیاولي سره د « سیاسي دستورمندی» (politische Imperativ) د واقعیت دردناکتوب څرګندېږي. که د افلاطون او ارسطو سره د واقعي سیاست پېژاندنه د نیکمرغی او فضیلت له مفکورې سره تړاو لري، ماکیاولي په غوڅه توګه انسانانو ته د نېکمرغی له نسخې (Konzept) څخه تېرېږي او یوازېني ځیز ته چې ارزښت ورکوي ، په هیواد کې سیاسي ثبات او ټینګښت دی. دغه سپیني خبرې چې هغه هم پرې اعتراف کوي ، د هغه نوم ته په زیان رسولو کې مرسته کړې ، ځکه نوموړي ان په هغه ځایونو کې چې نیکمرغي ممکنه وه، ورته پاملرنه نه ده کړې او یوازې د دولت او د دولت د مصلحتونو او په هیواد کې د سیاسي ټینګښت په اړوند فکر کاوه. ماکیاولي عقیده لرله چې « آزاده وګړي نشته یوازې آزاده ملتونه شتون لري یو څوک یوازې هغه وخت ویلی شي چې آزاد دی چې په آزاد ملت پورې اړه ولري».

د انساني طبیعت نه بدلېدونکې تز (konstante Antropologie) د ماکیاولي په اندونو کې د یو ډېر مهم ثابت عنصر په توګه مطرح دی چې د هغې انډول کولی شو په تاریخي بدلونونه کې تر ټینګې څېړنې لاندې ونیسو. انساني فرد د ماکیاولي په اند یو ثابت واحد دی او تاریخ په حرکت او جریان کې دی. یوازې د دغه اصل یانې د انساني پنځون یا طبیعت د ثبات او بدلون د اصل په منلو سره ، هغه مختلف حالات چې نوموړی یې څېړي سره پرتله کېدی شي. ماکیاولي د انساني طبیعت ثابتونه تر ذره لید لاندې ږدي او د انسانانو کړنې او غبرګونونه په مختلفو حالاتو او دریځونو کې تر بحث لاندې نیسي:

« هر څوک چې له اوسني او له لرغوني تاریخ سره سر او کار ولري، په آسانی سره پوهېږي چې ټولو ملتونو او دولتونو د ډېر پخوا دورانو څخه ورته غوښتنې او ورته خویونه او ځانګړنې لرلې. که موږ په پاملرنې سره تیر وخت وڅېړو ، په آسانی سره کولی شو په هر دولت کې د راتلونکې وړاند وینه وکړو او نوې چارې پیدا کړو». ( ویناوې ۱۰۷ م)

دغه دوه ګونی چلند ، یانې د انسان پېژاندنې بدبیني، هم د منطقي او هم د مدرنه دولت د مشروعیت د تامین د ثقل د مرکز په توګه د ماکیاولي ستر نووښت شمیرل کېدی شي.

د ماکیاولي د منځنیو پېړیو د نظم او د اسکولاستیک اندونو د ماشین او د منځنیو پېړیو د جوړښتي نظم د بېلګې د ړنګېدو ، د دولت د «ځان ساتلو» د اندونو ،هغه هم په هره بیه او هره وسیله چې وي ، د نظریو پربنسټ رادمخه شو. په داسې حال کې چې په منځنیو پېړیو کې کلیسایي او نړیوالو «نسبي» ځواکونو ځانونه «مطلقه» ځواکونه ګڼل ، البته د دغه دورې د په ټپه دربدلو اړیکو په پام کې نیولو سره. د لومړنی پانګوالی د ودې له امله پر رامنځ ته شویو نویو اړیکو باندې د تکاملي بهیر د واکمنېدو له امله ، پاپ او قیصر خپل سیاسي او پوځي « ربښتنی ځواک» د ورځ په تېرېدو سره له لاسه ورکاوه. په دې ډول د رنسانس په دوره کې پاپ او قیصر چې یو وخت د کلیسایي او دودیز واک د اهرم په سر کې ولاړ ول ، له واکه ولوېدل. د دغه بهیر په پیل کې د ښارونو په رامنځ ته کېدو او د دغه بهیر په دوام کې د ملتونو او هیوادونو په را وتلو سره پاپ او قیصر خپل واک له لاسه ورکړ. په دې ډول د منځنی زمانې د نظم د پاشل کېدو ټاپه ولګېده ، ځکه د دغه نظم ضمانت تر هغې ممکنۀ چې « ارزښتي بېداریو» او قدسي تاییدونو بې له خنډه د واک له یو مرکز څخه بل مرکز ته د لېږدېدو وس درلود.

د منځنیو پېړیو د پوهې پاشل کېدو ، یانې د نړۍ او خدای په اړوند د انسان د انځور پاشل کېدو ، او همدارنګه په ۱۴ او ۱۵ پېړیو کې په اروپا کې د منځنۍ پېړۍ د سیاسي نظم ړنګېدو ، د اروپایي انسان په دننه کې د ژورې ناباورۍ احساس ته لمنه ووهله. پنځلسمه میلادي پېړۍ په ټولیز ډول د عمومي پریشانۍ او ژورې بدبینۍ پېړۍ وه. د منځنیو پېړیو د اندونو ماتېدو همدارنګه د پیکوري ( د معنوي خوند ) او له مړینې څخه د ډار بهیر رامنځ ته کړ. د هغه نظم په دننه کې کله چې د اسکولاستیک د زمانې د فکري

ketabton.com - The Digital Library

ماشین په ړنګېدو سره، چېرې چې خدای انسان ته د تضمین او یقین سرچینه وه، له دې وروسته نړۍ او تاریخ انسان ته د ګواښ په بڼه څرګند ېدله.

په دې ډول انسان د روح د ابدیت په اړوند خپل باور له لاسه ورکړ او له دې وروسته مړینه د انسان د خلاصون او ژغورنې لاره نه لکه څنګه چې په منځنیو پېړیو کې ګومان کېده، بلکې د انسان د دښمن په توګه ګڼل کېږي.

د انسان د فاني توب په اړوند دغه پوهیدنه «د ځان ساتلو» دپاره د انسان دهڅې سبب کېدله. د توماس آکویناس او د منځنیو پېړیو په اسکولاستیکې فلسفه کې، د روح خیر او نیکمرغي، د ژوند ډیر لوړ جوهر او هدف ګڼل کېده او بشري هستي او پخپله د انسان «ساتنه» او سیاسي ټولنه دویمه درجه رول درلود، ماکیاولي دغه انډول بیخي بدل کړ.

د ماکیالولي دپاره د سیاسي ژوند جوهر «پخپله د دولت ساتنه ده». نوموړی هغه چا ته لوړ ارزښت ورکوي چې هغوی ته «وطن له روح څخه زیات ارزښت ولري، که د توماس آکویناس دپاره د روح نیکمرغي د انساني ژوند تر ټولو لوړ هدف ؤ د ماکیاولي دپاره دغه خبره په ډیر ښه حالت کې دویمه درجه اهمیت درلود او نوموړی د سیاسي ټولنې ډیر لوړ هدف «د ځان ساتل» او «د دولت مصلحت» ګاڼه. د هدف او وسیلې په اړوند د منځنیو پېړیو د ارزښتونو سرچپه کېدو سره سره، هیڅ چیرته د دین د کړنو په هکله د ماکیاولي د نظر په پرتله بل ښه نظر نه تر سترګو کېږي. ماکیاولي دین یوه داسې وسیله بلله چې د هغې په وسیله کېدی شي د هیواد سیاسي ټینګښت ضمانت شي. له دې وروسته دین هغسې چې په منځنیو پېړیو کې ګڼل کېده، د انساني ژوند د هدف په توګه نه، بلکې د سیاسي ټولنې د ټینګښت د وسیلې په توګه مطرح شو.

د منځنیو پېړیو خلاف او ان د لوتر خلاف چې دولت او واکمن یې د خدای استازي بلل، ماکیاولي دولت او پاچا په دې نړۍ پورې اړوند وبلل او دین یې یوه داسې ډاډمنه او آزمایل شوې وسیله وګڼله چې انسان له هغه تمایلاتو څخه منع کوي کوم چې په فساد او ناروا کې له ډوبېدلو سره یې لري. په دې ډول ماکیاولي سیاست ته هغه خپلواکي او آزادي ورکوي چې د منځنیو پېړیو او ان د لرغوني نړۍ د پاره پردۍ وه. هغه نه یوازې سیاست له دین څخه جلا کوي بلکې دین د سیاسي هدفونو تر وړاندې په یو ټولیز آړوي. کوم بېلګه ایز بدلون چې ماکیاولي په سیاسي اندونو کې راوست، هغه بېلګه ایزه بدلون ته ورته دی چې کپرنیک د فزیک په نړۍ کې راووست.

هماغسې چې کوپرنیک لمریز نظام کشف کړ چېرې چې لمر په مرکز کې ځای لري، ماکیاولي هم د سیاست نظام کشف کړ چېرې چې دولت یې په مرکز کې ځای لري. د دې کار سره جوخت، ماکیاولي د تاریخ طرح رامنځ ته کړه چې خپل دننني قانونمندي ګانې لري او بهرني ځواک پرې اغېز نه لري. هغه څه چې کوپرنیک د ستورو د نړۍ د نظم او د پنځون یا طبیعت د قوانینو په اړوند ترسره کړل، ماکیاولي د انساني ژوند د تاریخ په اړوند ترسره کړل، ځکه ماکیاولي تاریخ هم د پنځون یا طبیعت د تکاملي بهیر په توګه پېژني .د آګوستین د «خدای د ښار» پر ځای نوموړی «اړتیا» رامنځ ته کوي. ماکیاولي په ژوره توګه د هغه بحران تر اغېز لاندې دی چې پر فلورانس واکمن ؤ. او له کړکېچ څخه د وتلو سیاسي لارې یې لټولې، هغه نور د اسکولاستیک یا لرغونې نړۍ د متفکرانو په څیر خلکو ته د نیکمرغۍ او له فضیلته ډک ژوند په لټه کې نه ؤ، بلکې هغه خپله ټوله پاملرنه د دولت او هیواد د دننني دوام او پراختیا غوښتنې ته اړولې وه. په دې ډول، هغه نور ټول د ستورونه د دولت «دځان ساتلو» او «مصلحت» تر مطلقې قاعدې لاندې راوستل. له دې کبله نوموړی د دولت د «ځان ساتلو» مقوله، د نوي دورې د ډیرې مادي مقولې په بڼه آړوي.

ketabton.com - The Digital Library

## د ځواکونو د انډول پوهه

لسمه برخه

په داسې حال کې چې ماکیاولي د شاهزاده په کتاب کې د دولت د «ځان ساتنې (Selbsterhaltung) «د اصل ټینګه پلوي کوي ، خو د ویناو په کتاب کې نوموړی له جمهوري نظام او د ځواکونو له انډول څخه ملاتړ کوي. د پنځلسمې پېړۍ په پای او د شپاړلسمې پېړۍ په پیل کې د ایټالیې حالات ډېر نهیلي کوونکي ول،

او ماکیاولي ددغه درد د درملنې دپاره ، یانې په ایټالیې کې د حکومتونو ترمنځ د یووالي د نشتوالي له امله، د زهرو سپارښتنه کوي څو خپل هیواد له دغه حالت او دریځ څخه وباسي او وژغوري.

د شاهزاده د کتاب په پای کې ماکیاولي «د بربرانو له منګولو څخه د ایټالیې د ژغورنې بلنه ورکوي» او دا د همدې خبرې څرګنده بېلګه ده ، په دغه بلنه کې نوموړی د خپلې نطاقۍ او خبرلوځۍ ټول ځواک په کارا چوي، د «یو غښتلي سړي» ، «د یو تومنه لرونکي سړي ( uomo virtuoso) «له خوا د واک نیول چې د خپلو هوښیاره او فوق العاده کارونو له لارې د ایټالیې کړکېچ پای ته ورسوي او ایټالیه بیا سره یوځای او یوموټی کړي ، دا د شاهزاده د کتاب د پای ټکی او د هغه د سیاسي پوهې مستقیم دلیل دی. له دغه اړخه د شاهزاده کتاب نېغ په نېغه د ایټالیې د کړکېچ تر اغېزې لاندې د ځلورو میاشت نه په لږه موده کې لیکل شوی دی.

ددې خلاف په «ویناو» کې چې ماکیاولي پنځه لس کاله پرې کار کړی، د روم د تاریخ موضوع په پام کې نیسي، چې په هغې کې ماکیاولي د شاهزاده په پرتله په یو زیات واټن کې د سیاست په اړوند بحث کوي. په شاهزاده کې ماکیاولي، د دولتي کړکېچ پړاونه او له دغه بحران څخه د وتلو لارې تر بحث لاندې نیسي، په داسې حال کې چې «په ویناو کې» دغه دوره په بشپړه توګه د ذره لید لاندې تر څېړنې لاندې نیسي. د ارستو سیاسي اند ته په پاملرنې سره د «حکومتي بڼو د آوښتون» لرغوني اندونه د لومړي ځل دپاره د پولیبیوس له خوا مطرح شول.

دغه آوښتون په سلطنتي نظام سره پیل کېږي چې د ناچارۍ له مخې په استبداد آوړي. د ملت په مداخلې سره دموکراتیک حکومت جوړېږي چې د خپل تکامل په بهیر کې د کورنۍ جګړې له امله د ګډوډۍ تر پولې رسېږي او واک ته د پاچا بیا رسېدل ناممکنوي. له «نظم څخه ګډوډۍ او ددې خلاف آوښتون» د «ویناو» په کتاب کې د نوموړي د سیاسي فلسفې اصلي عناصر جوړوي: «هیوادونه عادت لري په خپل آوښتون او بدلون کې له نظم څخه د ګډوډۍ په لور لاړ شي. دا په انساني پنځون (طبعیت) کې نغښتې ده چې هیحکله آرامی نه لري ( د فلورانس تاریخ – ۷۷ م(

ماکیاولي په «ویناو» کې دې پایلې ته رسېږي چې ټولې دولتي بڼې چې پورته ترې یادونه وشوه په فساد اخته کېدی شي، ځکه هغوی له یوې خوا بې دوامه او له بلې خوا بد دي. ددې کار اساسي دلیل د نوموړي هغه مشهوره تز دی چې وایي انساني پنځون (طبیعت) فساد منونکی دی. ددغې ستونزې د حل لاره نوموړی د «ګډ اساسي قانون ( Mischverfassung) «په ټینګولو کې ویني. ګډ او ترکیبي قانون سیاسي ټولنه له دننې اړخه ټینګ او له بهرني پلوه پراخوي، هماغسې چې د لرغوني روم په بېلګه کې دا خبره بیانوي.

یوازې دغه «ګډ او ترکیبي قانون» دولت او هیواد ته دا امکان ورکوي څو د تاریخي دورو د آوښتون په ټکو کې ټینګ پاتې شي» «ګډ او ترکیبي قانون» د سیاست او تاریخ حل شوې معما ده. روم د اسپارت پر خلاف د قانون جوړونکي د فرمان دلارې «ګډ او ترکیبې قانون» تر لاسه نه کړ، بلکې هغه یې د طبقاتي مبارزو د دننني پرمختلونکي دینامېزم له لارې تر لاسه کړ ، چې یې وکولی

ketabton.com - The Digital Library

شو د یو نړیوال قدرت په توګه ځرګند شي او خپل دریځ د پېړیو په اوږدو کې ټینګ وساتي.
ماکیاولي عقیده لرله چې د سیاسي اختلافونو له منځه وړل او یو بشپړ سمون ته رسېدل ناممکنه کار دی. هغه د ټولنې دننني تضادونه او د خلکو او د سیاسي مخورو ترمنځ اختلافونه نه یوازې مثبت ګڼل ، بلکې هغه یې په اوږده موده کې د « دولت او هیواد د ځان ساتنې» د پاره مهم او ارزښتناک ګڼل. یوازې هغه دولت چې په هغې کې د ملت او د سیاسي مخورو ترمنځ انډول منځ ته راغلی وي، د یو ټینګ سیاسي نظام سبب کېدی شي یانې په دننه کې ټینګښت او په بهر کې پراختیا دهغې ضروري او لازم وړاند شرطونو ګڼل کېږي.
د « ځواکونو د انډول» او « د ګډ او ترکیبي قانون» د زده کړې له لارې ماکیاولي غواړي د باطلو حکومتي بڼو لړۍ پرې کړي او د زیات وخت له پاره سیاسي ثبات ټینګ کړي. ارستو د یوې منځنۍ او غښتلې طبقې شتون د ښار او هیواد د ټینګښت عامل بولي ، ماکیاولي د سیاسي ډلو ، خلکو او مخورو ترمنځ د ځواکونو انډول باندې ټینګار کوي.
»زما نظر دا دی هغه کسان چې د اشرافو او خلکو ترمنځ مبارزه غندي، هغه عوامل محکوموي چې په لومړۍ درجه کې د روم د آزادۍ سبب شول. هغه څوک چې تر ټولو زیات ډله ایزو ناندریو او غالمغال ته دهغې د ښو پایلو په پرتله پاملرنه کوي، په دې فکر نه کوي چې په هره ټولنه کې د خلکو او لویانو چلند او منښت سره توپیر لري او دا ټول جنجالونه د آزادۍ د اړونده قوانینو د پاره رامنځ ته شوي دي» (ویناوې –۱۰۱ م(
په دې ډول ماکیاولي د ځواکونو په تضاد او انډول کې « هغه» پارونکی عنصر ویني چې د سیاسي آزادۍ سبب کېږي.

## د ماکیاولي نووښتونه

لئو اشتراوس عقیده لري چې د ماکیاولي نوښتونه د هغې د مفکورې په برخو کې لیدلی شو:
–په هغه ډول چې یو پاچا باید د خپلو دوستانو او خلکو سره چلند وکړي – اشتراوس عقیده لري چې نورو سره د چلند په برخه کې پاچا ته د ماکیاولي لارښوونې له نورو فیلسوفانو سره توپیر لري. که څه هم نومړی د ماکیاولي د لارښوونې په اړوند کومه بېلګه نه وړاندې کوي خو د شاه زاده په کتاب کې داسې زیاتې بېلګې پیدا کولی شو. د شاهزاده د کتاب دغې برخې ته پاملرنه وکړئ:
»دلته داسې پوښتنه منځ ته راځي چې موږ پر نورو ګران اوسو یا نور کسانو له موږه وډار شي. یا داچې دا به ښه وي څو نور له موږ وډار شي یا موږ پر نورو ګران اوسو؟ د دواړو شتون تر هرڅه ښه دي. خو داچې په یو وخت کې د دواړو تر لاسه کول امکان نه لري نو که لازمه وي چې یو له هغو غوره کړو زه سمه بولم چې پرچا ګران ونه اوسو خو نور له موږه وډار شي«.
ټولې کلاسیکې فلسفې پر دې بنسټ ولاړې دي چې واکمن باید عادل او پر خلکو ګران اوسي. خو ماکیاولي په دې کې شک نه لري چې دا به ښه وي څو نور له موږ وډار شي. ځکه هر ډول ګرانتوب چې پر لاس او زړه وړلو تر لاسه شوې وي د اړتیا په وخت کې له منځه ځي». ماکیاولي د «اړتیا د وخت» په اړوند خبرې کوي. خو د اړتیا دغه وخت ، کوم وخت دی؟ څرګنده ده چې ماکیاولي د بې ثباتۍ د وخت په اړوند خبرې کوي: د دولتي امنیت د پاره ډېر خطرناکه وختونه.
اشتراوس له کلاسیکو فیلسوفانو سره د ماکیاولي د اندونو د توپیر په اړوند بېلګه نه وړاندې کوي. خو د بېلګې پیدا کول اسانه کار دی. سیسرون د آدابو په کتاب کې لیکي: « ځنې کړنې دومره کرغېړنې او ناوړه دي چې یو هوښیاره سړی هیڅکله هم هغه نه ترسره کوي آن د خپل هیواد د ساتنې د پاره هم». خو ماکیاولي وایې:

ketabton.com - The Digital Library

»مور نه باید د عدالت او بې عدالتۍ، انسانیت او نه انسانیت، د بد نوم او ښه نوم پر هیڅ معیارونو ځان محدود نه کړو. هر هغه څه چې پر هر څه لوړتیا لري دا دی چې خپله آزادي او خپلواکي برابره کړو«.
یو ه مساله زیات ارزښت لري. دغه مطلب د ماکیاولي د «ویناو» له کتاب څخه اخیستل شوی دی. په دغه کتاب کې د آزادۍ په اړوند د ماکیاولي زیاتې خبرې شته. کله چې ماکیاولي د اخلاقي اصولو لکه عدالت او ښه نوم د تر پښو لاندې کولو خبره کوي، دا خبره د آزادۍ او خپلواکۍ د پاره کوي. څرګنده ده چې ماکیاولي د اخلاقي اصولو د تر پښو لاندې کولو له لارې غواړي بل څه تر لاسه کړي: آزادي. خو دا سې ښکاري چې آزادي په خپله د اخلاقي اصولو بله بڼه ده. نو کېدی شي ماکیاولي غواړي په خپل دغه کار سره د نورو اخلاقي اصولو له منځه آزادۍ ته لومړیتوب ورکړي. ماکیاولي د شاهزاده په کتاب کې سپارښتنه کوي چې آزادي تر پښو لاندې کړۍ خو واک ټینګ شي: امنیت:
»د لږې زور زیاتۍ له لارې تر هغه چا زیات ښه او ښوونکي یاست کوم چې د ښښلو له لارې د ګډوډۍ د زیاتېدو سبب کېږي او په ټولنه کې وژنې، چور او تالان ته لاره اواروي«.
آیا مور باید دې پایلې ته ورسېږو چې د ارزښتونو د مرتبو دا سې لړۍ شته چې په هغې کې امنیت له آزادۍ زیات ارزښت لري؟ دا یو ه تېروتنه ده. د ماکیاولي له نظره د امنیت او آزادۍ ترمنځ دوه اړخیزې اړیکې شته: که مور غواړو امنیت ټینګ کړو باید آزادي ټینګه کړو. که غواړو آزادي وساتو باید امنیت ټینګ کړو .د ماکیاولي اندونه څنګه تنظیمولی شو؟ د ماکیاولي سره دوه کتابونه او په عین حال کې دوه بحثونه شته. د امنیت بحث د شاهزاده په کتاب او د آزادي بحث د «ویناو» په کتاب کې ترسره شوی. لکه څنګه چې د مخه وویل شو د ماکیاولي له انده دغه دوه بحثونه یو له بل سره ټینګې اړیکې لري. مور نه شو کولی پرته له امنیته آزادي ټینګه کړو او بې د امنیته آزادي زیات دوام نه کوي:
»هغه رژیمونه چې خپل اعتبار یوازې د شاهزاده د کتاب پر ارزښتونو ټینګوي دغه ارزښت د شاهزاده سره یوځای مري او ډېر کم امکان لري چې ځای ناستو ته ورسېږي«.
مور باید دې پایلې ته ونه رسېږو چې جمهوریت ماکیاولي ته ارزښت نه لري او هغه یوازې د شاهزاده په اړوند فکر کوي. د بېلګې په توګه نوموړی د «ویناو» په کتاب کې تاکید کوي چې هر څوک باید « د عمومي ښېګڼې» د پاره کار کولو ته چمتو وي. خو لکه چې وویل شو عمومي ښېګڼه او آزادي له امنیت څخه پرته شتون نه لري. دا چې ماکیاولي د ټولو اخلاقي اصولو د ترپښو لاندې کولو حکم کوي دا د عمومي ښېګنې د پاره دی نه د مصونیت له پاره.
په دې خبره کې هیڅ شک نه شته چې ماکیاولي پاچا ته هیبتناکه مشورې ورکوي او دغه مشورې د زیاتو فیلسوفانو له اندونو سره په مخالفت کې دي خو ددې مانا دانه ده چې دغه نظریې یوازې په ماکیاولي پورې اړه لري. افلاتون هم د جمهوریت په کتاب کې ځنې مطالب لیکي چې د ماکیاولي له اندونو سره پرتله کېدی شي. افلاتون وړاندیز کوي چې د عدالت د رامنځ ته کېدو د پاره باید ولس تیر باسو. نوموړې د فیلسوفانو د حکومت د سم ښودلو د پاره یو ه کیسه جوړه کړه. افلاتون له یوې کیسې څخه په کار اخیستو کې هیڅ دوه زړی نه دی نوموړی په بل ځای کې همدغه کیسه سچه دروغ بولي: د فلزاتو کیسه. ددې کیسې له مخې انسانان له بنسټه یو له بل سره توپیر لري: سره زر، نقره او برونز.
دلته د افلاتون دروغ د ماکیاولي د اخلاقي ضد سپارښتنو سره زیات توپیر لري. افلاتون غواړي عدالت رامنځ ته کړي خو ماکیاولي غواړي واک ټینګ کړي: امنیت. د عدالت مفهوم له سیاست څخه بهر دی. خو واک یو دا سې ځلېدا ده چې په حکومت کې شتون لري. دا یو دا سې اند دی چې یوازې د ماکیاولي په اندونو کې شتون لري .
-د ماکیاولي له انده د چانس ویش. ماکیاولي د چانس کلاسیک وېش چې په کلاسیکه فلسفه کې لیدل کېږي نه مني. په کلاسیکه

ketabton.com - The Digital Library

فلسفه کې موږ د خپل پنځون یا طبیعت په اړه انه کې بند یو. که و غواړو د ماکیاولي له کلمو څخه کار واخلو باید ووایو چې موږ د خپل برخه لیک « غلامان» یو. د بېلګې په توګه افلاتون وایي چې «تر هغه به عدالت ټینګ نه شي تر څو فېلسوفان پاچایان نه شي او یا فېلسوفان حکومت و نه کړي». داسې ښېښه د شتراوس له نظره امکان نه لري. د شتراوس د اندونو د پوهېدو دپاره په کار ده څو پوه شو چې هغه فکر کوي چې افلاتون د جمهوریت په کتاب کې نه غواړي د یو ممکن دولت طرحه وړاندې کړي. کېدی شي شتراوس تېروتنه وکړي. پو یر عقیده لري چې د افلاتون جمهوریت په دقیقه توګه د یو ایدیال دولت د رامنځ ته کولو طرح ده. افلاتون وایي چې «که دغه بدلونونه کوچني او آسانه نه دي خو ممکن دي.«

که موږ د شتراوس نظر ومنو باید عقیده ولرو چې افلاتون پر خپلو خبرو هم باور نه لري. خو د بلې خوا د افلاتون دیالوګونه د ټولو دپاره لیکل شوي. خو دا ډېره عجیبه ښکاري چې افلاتون په عمومي ډول د خلکو د تیر ایستلو خبره کوي. که افلاتون په رښتیا غواړي خپل هدف عملي کړي باید خلکو ته د هغې په هکله څه و نه وایي.

د بلې خوا اشتراوس عقیده لري چې د ارستو له نظره هم د یو ایدیال رژیم جوړول ناممکن دی. ځکه د انسانانو طبیعت یا پنځون بدلون نه مني او ددې دپاره چې ایدیال دولت رامنځ ته شي موږ باید وړ انسانان او مناسبه هیواد ولرو. له همدې کبله اشتراوس فکر کوي چې کلاسیکه سیاسي فلسفه د انسان د پنځون پر بدلون عقیده نه لري. خو کله چې ماکیاولي د برخه لیک او چانس په اړوند فکر کوي وایي چې « چانس یوه ښځه ده . که وغواړو هغه رام کړو باید هغه ووهو او ویې ځپو» نو له دې کبله ماکیاولي فکر کوي چې موږ کولی شو چانس کنترول کړو ( یا په بد حالت کې کولی شو د هغې نیمایي تر واک لاندې راولو.(

## وړاندیزونه

ماکیاولي د راز راز سپارښتنو سرېبره د واک د ساتلو دپاره ، له وسایلو او ابزارو څخه کار اخیستنه هم اړینه ګڼي او پاچا ته د لاندې مسایلو د رعایتولو سپارښتنه کوي.

-د واک غښتلي کول، د ماکیاولي له نظره د واک د ساتلو یوه لاره غښتلي واکمن ته د ټول واک سپارل دي څو هغه وکولی شي په خپلو کړنو سره په ټولنه کې نظم او انضباط ټینګ کړي. نوموړی تل د ایټالیې د نه یووالي افسوس کوي او په ایټالیې کې ددې ټولو ګډوډیو او پاڅونونو علت د غښتلي واکمن تر لاس لاندې د ایټالیې په نه یووالي کې بولي.

–پوځ : ماکیاولي په زیاتې ځیرتیا سره د هیواد د پوځ جوړښت ته پاملرنه کوي. نوموړی پوځ فاسد بولي او د بیا جوړولو ملاتړېې کوي. نوموړی د بېلابېلو وسله والو پوځونو لکه مرستندوی، اجیر او د هغو ګډه بڼه، ټول بې کاره بولي او یوازې یو ګټور پوځ چې د هیواد له وګړو څخه جوړ شوی وي پوځ بولي ، د هغه له نظره یوازې هغه کسان د جګړې په ډګر کې بریالي دي چې د خپل وطن د شرف، ناموس او خاورې د ساتنې دپاره جګړه کوي .

نوموړی داسې یو پوځ ملي پوځ بولي او د داسې یو پوځ شتون نه یوازې په سوله ایزه حالاتو بلکې د جګړې په وخت کې ډېر اړین بولي.

– دین: د ماکیاولي له نظره دین د دولت په ثبات کې ډېر ارزښت لري. نوموړی عقیده لري چې دین د بلې هرې وسیلې په پرتله د پیوستون په منځ ته راوړلو او له حکم څخه د ښه اطاعت په برخه کې اغیزمن رول لوبوي. نو واکمن او یا ښاروال باید ځان یو متدین سړی وښیي خو دین باید له حکومت څخه په څنګ او یا د حکومت پر خلاف باید نه اوسي. ماکیاولي ددولت د جوړښت په اړه انه کې دین ته په لوړ دریځ قایل دی خو پاملرنه وکړي، چې دغه دریځ یوازې ددولت په دننه کې دی خو له دولت څخه لوړ او یا له دولت څخه

ketabton.com - The Digital Library

خپلواک نه دی. کوم ارزښت چې ماکیاولي دین ته ورکوي د خدمت له اړخه دی چې دین کولی شي د دولت د هدفونو د ترسره کولو دپاره د ښه وسیلې په توګه خدمت وکړي.
نو موړی آن له دې هم وړاندې ځي او د اړتیا په وخت کې له دین څخه د سرغړونې حکم هم ورکوي او پاچا ته د دې اجازه ورکوي چې د واک د ساتلو دپاره له دین څخه د سرغړونې په ګډون هر کار کولی شي خو یو کار باید په یاد ولري چې د کار ظاهري بڼه په پام کې ونیسي او په ظاهره متدین و اوسي ځکه د پاچا متدین توب د دې سبب کېږي څو زیات خلک ترې اطاعت وکړي.

د شاهزاده د کتاب سربېره چې ماکیاولي په کې د شاهي حکومتونو په بڼه په کې خبرې کوي د هغه یو بل اثر چې زیات ارزښت لري د « د تیتوس لیویوس د تاریخ د لومړنیو لسو یادانبتونو په اړوند د ویناو» کتاب دی. نوموړی په ویناو کې له جمهوریت او دهغې د ارزښتونو په اړوند بحث کوي. د دغه کتاب غوره مسایل د حکومت د ډولونو ، د انسان د فطرت ، د تاریخ د فلسفي او د پوځ د ډولونو او د هغو د کمزورتیا او غښتلتیا په اړوند دي.

ځنې داسې ګومان کوي چې ماکیاولي ګنې جمهوریت غوښتونکی ؤ او آن د ویناو کتاب یې د شاهزاده له کتاب څخه د مخه پیل کړی ؤ خو د ایټالیې حالاتو ته په پاملرنې سره چې ګډوډي په کې واکمنه وه داسې حکومت یې د خپل وخت ایټالیې دپاره مناسب نه ګاڼه د همدې امله مطلقه پاچاهي ته یې مخه کړه. او په حقیقت کې د مطلقه پادشاهۍ حکومت د آوښتنې د دورې حکومت دی چې ثبات او امنیت رامنځ ته کوي او وروسته له دې چې په ټولنه کې نظم رامنځ ته شو یوازنی ښه حکومت حمهوري حکومت دی. په هر حال ماکیاولي ستر پوه دی چې د خپلې زمانې ټولنې او موسسو ته یې واقعي او علمي نظر واچوه او د ټولنې او حکومت د څېړنې په برخه کې یې د علمي چلند لاره پرانیستله.

## دموکراسي

دموکراسي د یو داسې انقلابي هدف مفهوم دی چې د هغې له مخې په یوه ټولنه کې ټول خلک پرته له امتیازه ، بې له دې چې یو انسان پر بل انسان واکمن وي ، د برابرو حقوقو او امکاناتو لرلو سره وکولی شي خپلو وړتیاو ته وده ورکړي.

یوه دموکراتیکه ټولنه د سیاسي چلند ټول هغه ډولونه په رسمیت نه پېژني، چې د ټولنې د پرګنو ترمنځ بې له زوره او بې له آزاد بحث او خبرو اترو څخه نیول شوي نه وي .
دموکراتیک اندونه په رهبرۍ او ګډون کې د انسان پر اساسي علاقه مند یو ولاړ دي، داسې چې انسان د خپل کار او ژوندانه پر حالاتو کنترول ولري. پانګه والۍ ټولنې د سیاسي رهبرۍ د بڼې په توګه پارلماني دموکراسۍ ته وده ورکړې –چې د غیر مستقیمې دموکراسۍ په نامه یادېږي. بله بڼه– د رهبرۍ یوه داسې بڼه ده چې په هغې کې سیالي نشته، د جرګې یا شورا دموکراسۍ –د مستقیمې مستیمه دموکراسي په نامه یادېږي– دا په سوسیالیستي بڼې پورې اړه لري. دا د دموکراسۍ د یو مفهوم دوه تعبیرونه دي. ټولنیزه دموکراسي–یانې ان غیر دولتي برخوته د دموکراسي پراختیا–دا د سوسیالیزم له مفهوم سره سمون لري.

## د لیبرالې - بورژوازۍ دموکراسي

د لیبرالې بورژوازي دموکراسي–یا « د لویدیځ» دموکراسي ، د استازې دموکراسۍ په توګه وده کړې. د ۱۷۰۰ کلونو په وروستیو

ketabton.com - The Digital Library

کې د « استازي دموکراسۍ » په اند ونو کې اختلاف څرګند شو. د ( ۱۷۱۲ – ۷۸ ) کلونو ترمنځ ژان ژاک رسو وویل: د بېلګې په ډول هغه کسان چې د استازیو په توګه را څرګند شول دوی آزاد خلک نه ول. د خلکو اراده یوازې د مستقیمې دموکراسۍ د لارې تمثیلېدی شي. د لویدیځ د مفکورې له مخې، نن له «دموکراسي» او « استازیتوب» څخه یو مفهوم اخیستل کېږي .

استازې دموکراسۍ ( د رایو حق ) په پنځه پړاونو کې وده کړې ده :

۱. په لومړیو کې، د انقلاب له پړاوه څخه دمخه ، په سیمه ایزه کچه د رایو حق په عمل کې ستر تو پیرونه لرل او د رایو حق په ټولنه کې د وګړو په رسمي دریځ لکه اشرافیت، روحانیت او داسې نورو... پورې تړلی ؤ.

۲. په ۱۷۷۶ کال په امریکې کې د انقلاب او په ۱۷۸۹ کال په فرانسه کې له انقلاب وروسته د رایو په حق کې ستاندردونه رامنځ ته شول، تر زیاته بریده د هغو کسانو ترمنځ چې د رایو حق یې درلود برابري منځ ته راغله خو شتمني او عاید یو له شرطونو څخه ګڼل کېده.

۳.د عمومي چمتووالي پړاو ، په دغه پړاو کې د رایو په حق کې د پاملرنې وړ پراختیا منځ ته راغله، داسې چې یو تن کولی شو د بېلابېلو جوړښتونو ترمنځ د زیاتو رایو حق ولري.

۴. ټولو نرینو ته د رایې حق، په رایه ورکولو کې د رسمي او ټولنیزو شرطو نو په له منځه وړلو سره ټولو نرینو د رایو حق تر لاسه کړ.

۵.د دموکراتیزه کولو دوام، لکه ښځو ته د رایو د حق ورکول، د رایو د ورکولو د عمر را ټیټول او داسې نور .

ځنې هیوادونو لکه انګلستان، بلجیم او سویدن دغه پرمختیا په روښانه او پړاویزه بڼه ترسره کړه. د بېلګې په توګه په انګستان کې دغې دورې نژدې ۱۰۰ کاله په دربر کې ونیول. له ۱۸۳۲ کال څخه د رفرم پیل ،له ۱۹۱۸ کال څخه نرینه ته د رایو بشپړ حق ورکول، ۱۹۲۸ کال څخه ښځو ته د رایو حق ورکول. فرانسه ددې خلاف زیګ زاک لاره ووهله: د ۱۷۸۹ او ۱۸۱۳ کلنو ترمنځ یې له لومړی څخه تر څلورم پړاو وواهه، له دې وروسته یې بېرته په شاتګ وکړ، د ۱۸۴۸ کال د فبرورۍ د میاشت له انقلاب څخه دمخه د « نرینه دموکراسي» په بشپړه توګه پلې شوه، خو د ښځو د رایو حق له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ( ۱۸۴۸ ) کال کې پلی شو.

پاتې هیوادونه د انګستان او فرانسې د پرمختیایي بڼې ترمنځ ځای نیسي. ناروې هم همداسې یوه لاره ووهله، ناروې په ۱۸۱۴ کال کې یو ډېر دموکراتیک اساسي قانون تصویب کړ، پارلمانتاریزم یې په ۱۸۸۴ کال کې تر لاسه کړ، د نرینه د رایو حق یې په ۱۸۹۸ کال او د ښځو د رایې حق یې په ۱۹۱۳ کال کې تر لاسه کړ. د امریکې په متحده ایالتونو کې دې دورې دوه سوه کاله په دربر کې ونیول – د ۱۷۷۶ کال له انقلاب څخه بیا د رایو د حق د تر لاسه کولو پورې ، تر دې چې افریقایې نژاده خلکو هم دغه حق لاس ته راوړ.

بشپړه پارلماني دموکراسي پر دغه اصولو ولاړه ده:

- ټول خلک چې قانوني عمر ته رسېدلي وي د رایو حق لري.
- یو تن یوه رایه لري.
- له دولتي مداخلې پرته ، پټې او آزاده ټاکنې باید ترسره شي.
- د سیالو ګوندونو ترمنځ منځمهاله ټاکنې باید وشي.
- د پارلمان یا اولسي جرګې د استازیو ټاکنې باید ترسره شي.
- د استازیو په جرګه کې د ډېرکي یا اکثریت د رایو د پرنسیپ له مخې باید پریکړې ترسره شي.

دغه پارلماني-دموکراتیک پرنسیپونه ، د بورژوازۍ د لېبرالې دموکراسۍ بنسټیز عناصر دي. د لیبرال دولت پرنسیپونه په دې ډول دي: د قانون جوړونکو ارګانونو ، اجرائیه ارګانونو او قضایي ارګانونو ترمنځ د واک ویش او نه تړاو ،د بشري حقوقو ، د بیان، د غونډو ، سازمانونو ، او مطبوعاتو آزادي. دا ټول په اساسي قانون کې لیکل شوي.

ketabton.com - The Digital Library

لیبراله دموکراسي د کاپیتالیستي ټولنې په وسیله رامنځ ته شوه ، او بورژوازي په بنسټیزډول اقتصادي او سیاستي آزادۍ او برابرۍ په اړوند یو شان تصور لري: د بازار آزادي او د سیاسي اندونو آزاده پرمختیا ، د موسسو ترمنځ اقتصادي سیالي ، د ګوندونو ترمنځ سیالي او ټاکنې ، د ونډه لرونکو شرکتونو د عمومي غونډو جوړېدل، د کسب او کار آزاد غوراوی او د رایو آزادي. خو مارکس وښودله چې د آزادۍ او برابرۍ په اړوند د لیبرال کپیټالېزم تصور ایدیولوژیکي دی: د کاپیټالیستي تولیدي سیستم په دننه کې هغه کسان چې شتمن نه دي آزاد نه دي، ځکه دوی اړ دي خپل کاري ځواک پر پانګه والو وپلوري، د بازار کنټرولوونکې برابري ،هغه اقتصادي نابرابري پټوي، کوم چې د کار له ځواک څخه د ګټې اخیستنې په بهیر کې منځ ته راځي. کله چې د آزادۍ نه شتون د آزادۍ په بڼه وړاندې شي او نا برابري د برابري په بڼه ، دا کار د انقلاب له اصل سره سمون لري، چې بورژوازي ټولنه یې سبب ده: یوازې هغه ګټې چې عمومي دي، یانې ټولو ته اعتبار لري، د اعتبار لرونکو د پاره د اجرا وړ دي. هیڅ امتیاز د توجیه وړ نه دي لکه « پنځون نیز یا طبیعي» یا « هغه چې خدای ورکړي دي» ، لومړی په بورژوازي ټولنه کې سړی د انسان په توګه ارزښت لري. خو نه ددي د پاره چې یهودیان، کاتولیکان، پروتستان، جرمنیان، ایټالویان او داسې نور دي» هګل. خو په کپیټالستي ټولنه کې چې شتمنې طبقې ته دا واک ورکول کېږي څو پر بې وزلې طبقي خپله واکمنی وچلوي، دغه آزادي او برابري کېدی شي شکل وي نه بنسټ. تل به همداسې وي کله چې آزادي د آزادي نشتوالی کې او برابري د برابرۍ نشتوالی کې لومړنی غوښتنه وي. په همدې ډول دوی د عمومي پرنسیپ پر ځای د بورژوازۍ ټولنې قواعد عملي کړل، چې د بې طبقې ټولنې پر ځای د پانګوالي ټولنې لوری لري. په دموکراسي نظامونو کې ، واک د پیسو او پانګې دی. پانګه وال هڅه کوي دموکراسي د خپلې پانګې د ساتلو د پاره وکاروي. لکه څنګه چې پورته وویل شول پخوا د دموکراسۍ د ودې په لومړیو پړاونو کې ویل کېده د هر چا رایې د هغه د پانګې په اندازه ول دي. څو بې وزلي و نه شي کولی د واک له لارې د شتمنو پانګه مصادره کړي. خو د حل دغې لارې ته اړتیا نه وه، ځکه ټولو له خپلو رایو څخه کار نه اخیست او دویم دا چې واک ته رسیدل، د رایو تر لاسه کول، او په ټاکنو کې ګډون، پانګې ته اړتیا لرله چې بې وزلي ترې بې برخې ول .

نن اقتصادي وضعیت په اقتصادي الیګارشي آوښتی دی چې له دموکراسۍ سره تضاد لري او اقتصادي الیګارشي هڅه کوي حکومت په خپل لاس کې ونیسي نو ځکه د خلکو د عمومي واک اصل یوازې یوه او سانه ده.
د پانګه والي ټولنو سیاسي نظامونه داسې دي چې په هغو کې اقتصادي پانګه کولی شي په سیاسي واک واوړي. نن دغه واقعیت د ټاکنیزو مبارزو له لګښتونو څخه څرګندېږي چې د اقتصادي قدرت لرونکي ټاکلي اغېز لرونکو سیاسي ډلې په بیه اخلي ، د امریکا د سنا په مجلس کې هر سل سناتوران میلیونران دي.

امریکا چې د دموکراسي زانګو ده ،په دغه هیواد کې بازار دی چې حکومت کوي او بهرنې ګواښونه، کورنی نا آرامی او نورې ایدیولوژیګانې د پانګه والی د ودې او پایښت سبب شوي .
اشپلنګر، د لویدیځ یو تیوریسن عقیده لري چې وګړي هغه وخت دا حق لري له اساسي قوانینو څخه ګټه واخلي چې «پیسې» ولري .

له بلې خوا ، د پیسو لرل سبب کېږي چې د پارلمان استازي د خپل انتخابوونکو په نسبت بې توپیره شي. د د دموکراسۍ یو ساده او ابتدایي اصل دا دی چې وکیل باید له هره پلوه د خپل غوره کوونکو تمایلونو ته پاملرنه وکړي او شپه او ورځ د خپلو غوره کوونکو خدمت وکړي څو د هغوی رضایت او ملاتړ تر لاسه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

په پانګه والي نظام کې رایې د خرڅلا کالي دي او له دې چې خلک له اقتصادي پلوه یو له بل سره توپیر لري، په ډاګه یو شمیر شتمن او د اغېز لرونکي کسان کولی شي هغه را ونیسي .

## )ونډیزه ) دموکراسي korporative

په پیل کې پارلمان د اشرافو او سلطنتي واک پرخلاف مبارزه کې یوه اغېزمنه سیاسي وسیله وه، بورژوازی د پارلمان له لارې بري ترلاسه کړ او خپل سیاسي واک یې ټینګ کړ. د رایو د حق په پراختیا سره د غه حالت هم بدلون وکړ. دا کار د دې سبب شو څو عام خلک د بورژوازی واک تر پوښتنې لاندې راولي. مارکس په ۱۸۴۸ کال د فرانسې په نوې اساسي قانون کې د غه امکان لیده، « اساسي قانون د عمومي ټاکنو د لارې سیاسي واک هغه طبقاتو ته ورکوي ، چې د هغوی ټولنیز دریځ هغوی په همېشنۍ غلامۍ کې ساتي لکه پرولتاریا ، بزګران او کوچنۍ بورژوازي. او هغه طبقه چې د هغې پخواني ټولنیز واک، د هغې بندیزونه او تابعیت، له دغه واک څخه سیاسي ضمانت اخلي او سیاسي واک اړ باسي دموکراتیکې اډانې ته راشي، کوم چې هر شیبه له مخالفو طبقاتو سره مرسته کوي څو واک تر لاسه کړي او د بورژوازي واک له خطر سره مخامخ کړي. د دغه اړتیا له مخې دوی نه شي کولی له سیاسي آزادۍ څخه تر ټولنیزې آزادۍ پورې وړاندې لاړ شي. بله اړتیا داده چې دوی نه شي کولې له ټولنیز آزادۍ څخه بېرته سیاسي ته په شا شي» د عمومي رایو د حق د لارې دا هم ممکنه ده د پارلمان له لارې طبقاتي مبارزه تر سره شي.
د پارلمان پرانیستل کېدو د کارګرې طبقې د استازو ته، تر یوه بریده د سیاسي موسسې په توګه د پارلمان د مفهوم کمزوري کېدل له ځانه سره لرل. په پای کې د سیاسي واک مرکز له پارلماني مقننه جرګې څخه اجراییه قوې – حکومت او د هغې اجراییوي – دولتي تشکیلاتو ته ولېږدول شو. د کلاسیکې دموکراتیکې تیورۍ پر بنسټ، د دولت د چارو اداره باید د خلکو انتخاب شویو استازو د پاره یوه داسې مرستندویه وسیله وي چې ددوی له خوا نیول شوي پریکړې باید ددوی د رایه ورکوونکو له غوښتنو سره سمون ولري. په شلمه پېړۍ کې د لویدیځ دموکراسي تیر ایستونکې ښه غوره کړه، ددولتي چارو اداري دنورو دندو په ترسره کولو بوخت شول، له سیاسي پلوه تر ډېره د ټولنې د پرمختیا چارې یې ترسره کولې. دا کار له دې سره تړاو لري چې د پارلماني دموکراتیکو کانالونو له کمزورتیا سره جوخت، د سیاسي اغېزې یو نوی کانال جوړ شو چې د « ونډیز کانال» په نوم یادېږي. په دغه کانال کې نه یوازې سترې اقتصادي موسسې او د کسب او سوداګرۍ علاقه مند ارګانونه ګډون لري، بلکې حرفوي سازمانونه هم – چې د سیاسي اغېزې هڅه کوي ګډون لري. د دولتي چارو د اداري له ارګانونو سره مستقیمه اړیکه د دولتي او نیم دولتي اداري په شبکه کې د ګډون له لارې ټینګېږي ، لکه په مجلس، کمېټو او ځانګو کې ګډون، چې په واقعي ډول د ټولنیز ژوند په بیلابیلو برخو کې سیاست تنظیموي.
پارلماني او ونډیز کانالونه په زیات توپیر سره کار کوي. پارلماني کانال عمومي ګټې په پام کې نیسي او پرانیستې بڼه لري او ټولو ته په رسمي ډول برابر امکانات په واک کې ورکوي او د دوره ای انتخاباتو له لارې کنترولېږي. ونډیز کانال په ټیټه کچه عمومي ګټې په پام کې نیسي او په پټ چلند ډډه لګوي، د ښه سازمان لرونکو ډلو چې غښتلي منابع په واک کې لري ، کار کوي او دایمي چلند لري. د ونډیز ګډ کار وده – په ځانګړي ډول د جګړې په وخت کې یې تر اقتصادي بحران وروسته وده وکړه –او د پارلماني دموکراسۍ تر سیوري لاندې یې ځای ونیو. نه د فاشستي ایټالیې په څیر، چې ددې الترناتیف ؤ او پارلمان تر ډېره سمبولیکه بڼه او رول درلود: پارلماني خبرې اترې باید رایه ورکونکو ته له سیاسي پلوه هغه پریکړې مدللې کړي کوم چې په حقیقت کې لا دمخه په نورو ارګانونو کې نیول شوي وي. دغه ونډیزه دموکراسي داسې تشریح کېدی شي: « رایې شمیرل کېږي خو ظرفیتونه پریکړه کوي«.

ketabton.com - The Digital Library

## د نخبګانو نوې ايديولوژي او د هغې ايديولوګان

ونډېيزه دموکراسي، د نخبګانو ددموکراسۍ ښه سازمانورکړل شوې بڼې ته ويل کېږي. د وروستۍ بورژوازۍ د ادارې بڼه د لبرالې بورژوازۍ ددموکراسۍ مخالفه بڼه ده او له هغه اخلاقي مسوولیتونو سره ژوره اړيکه نه لري چې د ټولنې د پرمختيا دپاره اړين ګڼل کېږي .

نوې دموکراسي يوازې يو هدف لري: له خپل سيستم څخه ساتنه. د دموکراسۍ دغه پربکونه، د مودرنې دموکراسۍ په تيورۍ کې د يو مفهوم په توګه راغلې ده. دغا لب لوري تيورۍ ته په پاملرنې سره ، چې « د رښتني دموکراسۍ د تيورۍ » په نامه هم يادېږي ( رابرت دال، جيبواني سارتوري، جوزف شومپتر او نور ) ، د دموکراسي مفهوم کېدی شي له هر ډول اخلاقي منځپانګې څخه وويستل شي: مودرنه دموکراسي يو داسې ميتود دی چې له مخې يې د حکومت غړي غوره او ورته اختيارونه ورکول کېږي . په رښتني ډول دموکراسي د ارګانونه يو ټوليز دی، چې ددوو او يا زياتو په کار پوهو سياسي ډلو ترمنځ د خلکو د رايو د تر لاسه کولو دپاره سيالۍ کوي او ددې امکان برابروي څو اړينې سياسي پريکړې ونيول شي. ددغه لرليد پر بنسټ د ټولنې د اتباعو له خوا د يو غښتلي سياسي ترون رامنځ ته کول د سيستم هغه انډول له ګواښ مخامخوي، چې دموکراسي ورسره تړاو لري، او د سياسي بې توپيرۍ سبب کېږي. په عين حال کې د کلاسيکې دموکراسۍ تيوري پر بنسټ د نخبګانو پرګنې ددموکراسۍ دپاره يو څرګند ګواښ ګڼل کېده، د پرګنيزې دموکراسۍ له وخته نخبګان د پرګنو خلاف له سيستم څخه ساتنه کوي.

په هر حال دا يوه پوښتنه ده، چې د نخبګانو دموکراسي بيا هم دموکراسي بللی شو. دا پوښتنه ان د «رياليستي» دود په اړه کې هم راپورته کېږي. سارتوري د ښېلګې په توګه تاکيد کوي چې « دموکراسي» له « کمونيسم» سره په يوه ليکه کې يو غوره ايديال دی، « تر دې چې ويلی شو دواړه ايديالونه په وروستۍ پايله کې په يوه بشپړه اصولي اړانه کې يو دي». سارتوري په هيڅوجه کمونيست نه دی، خو وړانديز کوي چې پکار ده دهغه څه دپاره چې دموکراسي نومېږي يوه داسې کلمه پيدا شي چې دغه مفهوم په پراخه توګه بيان کړی شي. دغه مخمصه ښايي چې تر کاپيتاليستي شرايطو لاندې د دموکراسي امکانات تش او منځ پانګه نه لري، او د پرمختيا ددوو کرښو ترمنځ غوراوی دی: دموکراسي يا د پانګوالۍ جوړښت له منځه وړي او ټولنيزه دموکراسي رامنځ ته کوي، يا کاپيتاليسم د سياسي تجربې په توګه دموکراسۍ پای ته رسوي او د استبداد يوه نوې بڼه منځ ته راوړي.

په دموکراسۍ کې دا عقيده ده چې ډېره کې واکمن دی، خو حقيقت داسې نه دی، حکومت يانې په ټولنه کې پر خلکو د واک پلي کول دي نو څرګنده ده چې خلک په خپله نه شي کولی واک وچلوي. "جان استوارت ميل "عقيده لرله: کوم خلک چې واک پلی کوي هماغه کسان نه دي چې واک پرې پلی کېږي. "ليپمن" هم عقيده لرله چې خلک نه شي کولی د حکومت چارې پرمخ بوزي. يو پوه « رنه ګنون» هم عقيده لرله چې که دموکراسي د خلکو حکومت پر خلکو تعريف کړو » دغه تعريف په خپل وار سره ددغه ناممکنه اوريښتني ناشونې کار ترسره کېدو ته اړتيا لري. نوموړی ليکي: بايد اجازه ورنه کړو چې موږ په کلمو تير باسي او که ومنو چې ټاکلي او ثابت خلک کولی شي په عين حال هم واکمن وي او هم تر واک لاندې ، متضادې خبرې به مو کړې وي.

نوموړي همدا راز عقيده لرله چې د اوس وخت په دموکراسي ګانو کې ، پر خپل برخه ليک باندې د خلکو واکمني له تېر ايستنې پرته بل څه نه دي، که څه هم د همدغه خيال او ګومان پر بنسټ د رايو او عمومي ټاکنو لړۍ رامنځ ته شوې ده. نوموړي واک په لږکي پورې اړوند بولي چې د تبليغاتو له لارې د نورو عقيدې او اندونه د خپلو ګټو او غوښتنو په ګټه اړوي.

اشپلنګر: « هم عقيده لرله«

د « خلکو د واکمنۍ » موضوع چې خلک وکولی شي د خپلې ارادې له مخې خپل برخه ليک په لاس کې واخلي، يوازې له ادبه ډکه

ketabton.com - The Digital Library

خبره ده، خو حقیقت دا دی چې ټولو ته د رايې د حق په پراخولو سره ټاکنو خپله لومړنۍ مانا له لاسه ورکړې ده ... ځکه خلک د نويو ځواکونو یانې د ګوندونو د مشرانو په منګولو کې را ښکېلېږي او دغه مشران د تبليغاتو او تلقينونو د ټولو وسايلو څخه په کار اخيستو سره خپله اراده پر خلکو تپي.

دموکراسۍ ته ژوره کتنه ښيي چې دموکراسي د ډېرکي خلکو واکمني نه ده، بلکې د غوره کسانو حکومت دی، خو په ګوندي نظامونو کې د غوره کسانو دوه ډلې شتون لري چې کله کله خپل ځای یو بل ته پرېږدي. شومپيتر، د لويديز يو ليکوال عقيده لري:

عادي وګړي د پرېکړې کولو اود ریښتني ګډون لازمه پوهه نه لري او هغه څه چې موږ ورسره د سياسي بهيرونو په څېړنه کې مخامخ یو ، د اصلي ارادې په پرتله تر ډېره مصنوعي اراده ده ، دا هغه واقعيت دی چې د کلاسيکې زده کړې له عمومي ارادې سره سمون لري. د خلکو اراده د سياسي بهيرونو پايله ده خو د هغې خوزښت نه دی.

که د ډېرو هیوادونو د ټاکنو بهیر ته ځیر شو ، د هغه کسانو څخه چې د رايې ورکولو شرايط يې پوره کړي نيمايي يې په ټاکنو کې ګډون کوي ، که ډېرکی معيار ونیسو ، یانې له نیمايي څخه یوه رايه زیاته، کله داسې پېښېږي چې له دغه شمېرې څخه یوازې **۲۵** ٪ د رايې ور کسانو یو سیستم منځ ته راوړی دی. آیا د دموکراسي مفهوم همدا دی؟

یو بل ليکوال دموکراسي د « سياستمدارانو حکومت او د سياستمدارانو دپاره» تعريفوي له دې ځانګړنې سره چې د ډېرکي واک بې مانا خبره ده؟

اشپلنګر په دې اړوند ليکي:

په ظاهره د لويديځ پارلماني دموکراسي د لرغوني مصر، چين او عربو له دموکراسۍ سره ډېر توپير لري، خو په حقيقت کې په اوسني وخت کې هم ملت د ځواکمنې ډلې په لاس کې د يوې وسيلې پرته بل څه نه دی. هماغسې چې په لرغونو تمدنونو کې ملت د تابع او امرمنونکي بندګانو په څېر د اطاعت دپاره چمتو ؤل، په اوسني وخت کې هم خلک د ټاکونکو په بڼه چمتو او تيار دي څو له ځواکمنو ارادو څخه اطاعت وکړي.

لکه څنګه چې اشاره مو وکړه، په واقعيت کې دموکراسي د غوره کسانو واکمني ده او استازيتوب په کې ځای نه لري. روسو په دې برخه کې له مانا ډکه خبره لري چې ددموکراسۍ منځپانګه ښکاره کوي او وايي:

د انګلستان خلک ګومان کوي چې آزاده دي، دوی زیاته تېروتنه کوي، ځکه ددوی آزادي يوازې پارلمان ته د استازیو تر ټاکلو پورې ده. کله چې هغوی غوره شول، خلک له غلامانو پرته بل څه نه دي.

استازي يوازې د يو لږکي له خوا غوره شوي دي، ځکه د دموکراسۍ په يو مدعي هیواد کې ټول خلک په ټاکنو کې ګډون نه کوي. په دغه شمير کې هم داسې سړي یا کسانو ته رايه ورکوي چې د **۵۰**٪ ګډونکوونکو څخه رايه تر لاسه کوي چې په حقيقت کې د ملت د لږکي استازی دی. اوس څه اړتیا ده چې د ټولنې خلک نوموړی ومني او د هغه عمل او نظر ومني. يو وکيل حق لري يوازې د خپل موکلانو په چارو کې لاس وهنه وکړي خو دا حق نه لري د ټول اولس په چارو کې لاس وهنه وکړي که په رښتيا د خلکو رايه معيار وي.

ketabton.com - The Digital Library

که فرض کړو چې د ډېرکي یا اکثریت رایه هم ولري، حق نه لري پر لږکي حکومت وکړي، نو ځکه ویلی شو چې د استازي رایه یوازې د هغه د موکل په برخه کې په کاریدی شي، نه پر ټولو. نو له دې کبله لیدل کېږي چې د لږکي حقونه نه ساتل کېږي.

بله مساله داده چې تر غوره کولو وروسته، خلک نه شي کولی هغه له کاره وباسي. په داسې حال کې چې په وکالت کې موکل کولی شي خپل وکیل لیرې کړي. سربېره پر دې، له ټاکنې وروسته که خلک کومه غوښتنه هم ولري، آیا استازی باید د هغوی رایه ترسره او پلې کړي او یا دا چې خپله رایه نافذه ګڼي؟ نن، په دموکراسي نظامونو کې استازی د خپلې خوښې له مخې چلند کوي. که د هیواد زیات خلک د هیواد د هستوي کېدو یا د جګړې مخالف وي استازی د خپلو موکلانو د رایې له پام کې نیولو پرته خپل نظر ورکوي. که څه هم له نظري پلوه او هم د دموکراسۍ پر بنسټ، باید د خلکو رایه لومړیتوب ولري، خو په عمل کې، د خلکو استازیو ته واک ورکول کېږي نه خپله خلکو ته.

## سوسیالیستي دموکراسي

لیبرال دموکراسي نه یوازې د بورژوازۍ کاري وسیله ده، مهم دموکراتیک رفورمونه لکه د ۱۹ پېړۍ په پای کې د ټاکنو د رایې ورکولو د حق پراختیا، د کارګري غورځنګ او د مترقي کوچنۍ بورژوازۍ ترمنځ مبارزه وه. کله چې لیبرال دموکراسي تر ګواښ لاندې راغلې او یا له منځه وړل شوې نو کارګري طبقې او د هغې سازمانونو د بورژوازۍ په دننه کې د هغې د مشرۍ او فرکسیون پرخلاف مبارزه پیل کړې، د بېلګې په توګه دغه کار د دوو نړیوالو جګړو ترمنځ واټن کې د فاشیسم پرخلاف د هسپانیې، ایټالیې، المان، او اتریش د جمهوریتونو څخه د دفاع او همدارنګه د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د مقاومت د غورځنګ له خوا شوی دی. نو ځکه لیبرال دموکراسي د اروپا د کارګري غورځنګ د وسله والو په تاریخ کې ورګډه ېږي.
په دغه تجربه کې هغه پریشانۍ ته ډېره لږه پاملرنه شوې چې د لیبرالې دموکراسۍ په اړوند په مارکسیستي پریشانۍ کې لیدل کېږي. په دې اړه ویلی شو چې لیبرال دموکراسي د یوې داسې تیر ایستنې په بڼه رامنځ ته شوه چې د واکمنې بورژوازۍ پر دیکتاتوري پرده اچوي. او مارکسیستي ایدیولوژۍ د الترناتیف په توګه د پرولتاري دیکتاتورۍ وړاندیز کوي. دغه سیاسي عقیده د هغه په ټېپه دریدلي حالت بیان کوي چې په تیره بیا په ختیځه اروپا کې ولیدل شو. لیبرال دموکراسي د کاپیټالیزم د تکامل اتوماتیکه لاس ته راوړنه نه ده. بلکې د کاپیټالیزم د دننیو اختلافونو په پایله کې منځ ته راغلې ده. دا همدارنګه د کارګري طبقې سیاسي کار دی. لیبرال دموکراسي په کاپیټالیستي نظام کې د مخالفو طبقاتو ترمنځ یو ډول جوړ جاړی دی: دا د کسب او کار او د سازماني فعالیتونو آزادي ده.
د لیبرالې دموکراسۍ مرکزي برخه مخ په وړاندې یو داسې تاریخي ګام دی، چې په یوه سوسیالستي دموکراسۍ کې شتون لرلی شي. دا د واک د ویش په اړوند هم اعتبار لري، د قضایه قوې ناپیلتوب، د بیان، غونډو او سازمانونو د آزادۍ قانوني ټینګښت. سربېره پردې سیاسي پلورالیسم د سوسیالیستي دموکراسۍ یوه مهمه برخه ده: یو سیاسي سیستم یوازې هغه وخت دموکراتیک بلل کېدی شي، کله چې زیاتو ګوندونو ته د فعالیت اجازه ورکړي، اپوزیسیون ته امکانات ورکړي او عمومي او پټې ټاکنې ترسره شي. پارلمان له سره سیاسي کېدی شي څو د یو رښتني لاربښود ارګان په توګه خپل رول ټینګ کړي که څه هم یو مودرنه سوسیالستي صنعتي دولت، نه شي کولی د غیرمستقیمي او په ملي کچه د استازې دموکراسۍ پرته کار وکړي، د سوسیالیسم مهمه نښه دا ده چې د ټولنیز ژوند غیر دولتي برخې په دموکرتیکه بڼه رامنځ ته شي. دا د مستقیمي دموکراسۍ د ارګانونو - د جرګو یا شوراګانو د سیستم له لارې ترسره کېږي چې د کار او اوسیدو په ځایونو پورې اړه لري- څو وګړي وکولی شي

ketabton.com - The Digital Library

پر خپل ورځني ژوند کنترول تر لاسه کړي. په دغه بڼه کې سو سیالیستي سیستم د مستقیمې او غیر مستیمې دموکراسۍ له دواړه ډولونو څخه کار اخلي.

## دموکراسي او برابري

برابري د دموکراسۍ یو بنسټ دی. خو په دموکراسي نظامونو کې برابري څه ډول ده ؟آیا برابري د پانګه والي نظام سره سمون لري؟ آیا برابري له آزادۍ سره چې د دموکراسۍ یو بل اصل دی یو ځای کېدی شي؟
ځني عقیده لري: پانګه والي او دموکراسي سره یو ځای کېدی نه شي، ځکه دموکراسي د سیاسي واک د قوانینو پر بشپړې برابرۍ عقیده لري: « هر څوک یوه رایه» . حال دا چې پانګه والي عقیده لري چې یوازې د پانګه والي نظام د اقتصادي پلوه غښتلي کسان، د نابرابرۍ پر بنسټ د سیاسي واک د رانیولو وس لري. یو لیکوال په دې اړوند داسې لیکي:

د پانګه والي نظام ختمه په نابرابرۍ کې لمده شوې ده. نوموړی زیاتوي، که د پېربدلو د وس ویش د برابرۍ او یو شان والي پر بنسټ ودرول شي، د بازار اقتصاد په چټکۍ سره برابري له منځه وړي او د هغې پر ځای نابرابري منځ ته راځي... ځکه یو شان فرصتونه شتون نه لري.

یو له هغه خطرونو چې دغه لیکوال ترېنه یادونه کوي، نابرابري ده. نوموړی لیکي: که نا برابري دوام وکړي او زیاته شي او د زیاتو کورنیو عاید ورځ تربلې لږ شي، او که د دموکراسۍ پر بنسټ سیاسي بهیر
و نه شي کولی په پانګه والي نظام کې د دغه ستونزې علاج پیدا کړي او هغه څه پیدا کړي چې د دغه واقعیت د منځ ته راتلو سبب کېږي... هیڅ څوک په سمه توګه نه پوهېږي څه به پېښ شي او دموکراسي به هم خپل اعتبار له لاسه ورکړي.
برابري په هومانیزم او فردي چلند کې جرړې لري په دې مانا چې له فرد څخه لوړ اقتدار نشته او له فردي عقل څخه لوړ پوهاوی نشته. ځني برابري په دې مانا پېژني چې واک د ټولنې د وګړو ترمنځ په برابره توګه ویشل شوی وي او هیڅوک له بل څخه زیات واک و نه لري. دغه برابري په لاندې ډګرونو کې ترسره کېږي:
-سیاسي برابري: ټول وګړي د رای برابر حق لري ، یانې هر څوک د یوې رایې حق لري او ټول خلک ټاکنو ته د درېدو برابر حق لري.
-حقوقي برابري: د قانون تر وړاندې ټول برابر دي او یو شان حق لري.
-ټولنیزه برابري: ټول خلک د سیاسي فعالیت برابر حق لري.
د برابرۍ بنسټ، د ملت له حقوقو جوړ شوی دی. په دموکراسۍ کې خلک حقونه لري چې د ټولنیز تړون پر بنسټ له هغې ګټه پورته کوي. د دولت مهمه دنده د امنیت ساتنه ده .

## دموکراسي او آزادي

دموکراسۍ او آزادي څه اړیکه لري؟ آیا وګړي او ډلې چې هره عقیده ولري د هغو د تبلیغولو حق لري؟که د ټولنې خلک د دموکراسۍ د له منځه وړلو غوښتونکي شي، کولی شي د هغې د پاره کار وکړي؟
د پورته پوښتنو په ځواب کې باید ووایو : په هیڅ نظام کې مطلقه دموکراسي نشته، د دموکراسۍ اډانه د قوانینو په وسیله ټاکل

ketabton.com - The Digital Library

کېږي. په بله ژبه ، آزادي د هرې ټولنې د سياسي نظام په اډانه کې محدوده ده. د آزاديو د محدودولو اډانه په هر سياسي نظام کې له بل سياسي نظام څخه توپير لري او د هغه ټولنې له نړۍ ليد او فکري نظام سره سمون لري.
موريس دورژه په دموکراسۍ کې د آزادۍ د اډانې په اړوند ليکي؟
آزادي يوه داسې موضوع ده چې ټول خلک ورته درناوی لري البته په هيڅ يوه ټولنه کې مطلقه آزادي شتون نه لري. پر لېبراليزم ولاړه دموکراسي وايي دولت بايد په ټولنيزو چارو کې ډېره لږه مداخله وکړي او ددې خلاف خلک بايد زياتې آزاديګانې ولري. د دولت دنده د امنيت ساتنه ده او يوازې هغه وخت قانونين رامنځ ته کوي چې د ځنې کسانو آزادي د نورو کسانو آزادۍ ته زيان ورسوي. يا په بله ژبه د ځنيو کسانو آزادي بايد د نورو کسانو د آزادۍ د منځه وړلو د پاره مجاز و نه ګڼل شي.
آيا د آزادۍ دښمنانو ته د آزادۍ ورکول ، د دموکراسۍ د له منځه وړلو مانا نه لري؟آيا دموکراسي اړينه ده د هغه کسانو پر خلاف چې غواړي د دموکراسۍ له لارې دموکراسي له منځه يوسي هيڅ و نه کړي او له ځانه دفاع ونه کړي؟ ځواب ساده دی ، دموکراسي خپلو مخالفانو ته د عقيدې د بيانولو اجازه ورکوي ، تر هغه چې دغه کار د دموکراتيکو اصولو په چوکاټ کې ترسره شي.

د آزادۍ ځنې مهم ډګرونه:

سياسي آزادي

اقتصادي آزادي

کولتوري آزادي

## نسبي چلند

د دموکراسۍ يوه ځانګړنه داده چې پر ثابت او مطلقه حقايقو په تېره بيا د قانون جوړولو په چارو کې باور نه لري، په بله ژبه هيڅ عقيده او ارزښت د ازلي او ابدي ارزښت په توګه نه ګڼي او پر يو مطلق حقيقت د عقيدې پر ځای د عقايدو او ارزښتونو په نسبيت باور لري. نسبيت په دوو ډګرونو کې عملي بڼه غوره کوي: د عقيدو توپيرونه او راز رازتوب ، مختلف سياسي بهيرونه. مختلف سياسي بهيرونه د ګوندونو ، مدني ټولنې په وسيله عملي بڼه غوره کوي. ګوندونه په ټولنه کې د مختلفو سياسي بهيرونو رواجوونکي دي چې د ګډو هدفونو پر بنسټ د واک د پاره مبارزه کوي.

.

مدني ټولنه ، په اوسني وخت کې دغه واقعيت ښايي چې ټولنه بايد د دموکراسۍ د ساتلو د پاره ځنې تشکيلات ولري چې په دولت پورې تړلي نه وي او دا کار هغه وخت ترسره کېدی شي چې ددولت واک محدود کړی شي. د مدني ټولنې پراختيا د دولت واک محدودوي. د مدني ټولنې په جوړېدو سره عمومي فکرونه له پورته څخه نه تنظيمېږي بلکې له ښکته څخه تنظيمېږي او د چاروا کو غوښتونو ته رسول کېږي.
د ګوندونو ارزښت په دې کې دی چې وګړي په يوازيوالي سره نه شي کولی پر دولت اغېزه وکړي خو کله چې له نورو سره يو ځای کېږي ددې کار وس پيدا کوي.

## د دموکرسي اړوند دځنې مفهومونو لنډه تشريح وګړنيز مشروعيت

ketabton.com - The Digital Library

په ټاکنو کې د خلکو ګډون د دموکراسۍ د ټینګښت مانا لري څومره د غه ګډون په لوړه کچه ترسره شي په هماغه کچه دموکراسي غښتلې ده، په ټاکنو کې د خلکو نه ګډون د دموکراسۍ مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي، مشروعیت د خلکو د ګډون او نه ګډون په اندول ټاکل کېږي. عمومي اندونه او صلاحیتونه په دموکراسي کې پراته دي او د حکومت د حقانیت او مشروعیت لار ده.

## ګډون څه ته وايي

له ګډون څخه مقصد دادی چې یو سړی یا د وګړو یوه ډله په ډله ایزه فعالیتونو کې ګډون ولري. د سیاسي پلوه دا په دې مانا دی چې په یوه اداره کې یو نرینه او ښځه د پریکړو په نیولو اغېزه او د هغو د ترسره کېدو پر بهیر کنترول ولري.

## خلک سالاري د میني مالیستانو له انده

د میني مالیستانو له انده خلک سالاري هغه حکومتي سیستم ته ویل کېږي چې په هغې کې اولس د سیاسي مشرانو هغه یوې ډلې ته د منځ مهاله ټاکنو له لارې د حکومت کولو حق ورکوي.

• د خلک سالاري (Aggregative) مفهوم دا خبره څرګندوي چې حکومت باید داسې قوانین او سیاست ولري چې د خلکو د منځني لارې نظریو ته زیات نژدې وي، له کینې او ښي څخه نیمایې نیمایي.

## جرګه ای خلک سالاري

جرګه ای یا شورایي (Deliberative) خلک سالاري پر خبرو او بحث ولاړه ده. جرګه اي خلک سالاران دعوه لري چې قوانین او سیاستونه باید پر داسې خبرو او بحثونو ولاړ وي چې ټول خلک یې ومني. سیاست باید دومره لمن ولري چې خلک او سیاسي مشران وکولی شي سره خبرې وکړي او د یو بل خبرو او نظریو ته غوږ ونیسي او خپلو نظریو ته بدلون ورکړي.

## مستقیمه خلک سالاري

مستقیمه (Direct) خلک سالاري وایي خلک باید نیغ په نېغه نه د خپلو استازیو له لارې د سیاستونو او قوانینو په جوړولو کې برخه ولري. سیاسي فعالیت زیات ارزښت لري ، د خلکو د ټولنیز کېدو او با ادبه کېدو سبب کېږي او د خلکو ګډون د نخبګانو پیاوړتیا ارزوي. له ټولو مهم دا چې په حقیقت کې اولس تر هغه پر ځان حکومت نه کوي ترڅو نیغ په نیغه د قوانینو او سیاستونو په جوړولو کې ونډه وانخلي.

.

یوولسمه برخه

## دموکراسي

ketabton.com - The Digital Library

دموکراسي د يو داسې انقلابي هدف مفهوم دی چې د هغې له مخې په يوه ټولنه کې ټول خلک پرته له امتيازه ، بې له دې چې يو انسان پر بل انسان واکمن وي ، د برابرو حقوقو او امکاناتو لرلو سره وکولی شي خپلو ورتياو ته وده ورکړي.

يوه دموکراتيکه ټولنه د سياسي چلند ټول هغه ډولونه په رسميت نه پېژني، چې د ټولنې د پرګنو ترمنځ بې له زوره او بې له آزاد بحث او خبرو اترو څخه نيول شوي نه وي .

دموکراتيک اندونه په رهبرۍ او ګډون کې د انسان پر اساسي علاقه منديو ولاړ دي، داسې چې انسان د خپل کار او ژوندانه پر حالاتو کنترول ولري. پانګه والې ټولنې د سياسي رهبرۍ د بڼې په توګه پارلماني دموکراسۍ ته وده ورکړې – چې د غير مستقيمې دموکراسۍ په نامه يادېږي. بله بڼه – د رهبرۍ يوه داسې بڼه ده چې په هغې کې سيالي نشته، د جرګې يا شورا دموکراسۍ – د مستقيمې مستيمه دموکراسي په نامه يادېږي – دا په سوسياليستي بڼې پورې اړه لري. دا د دموکراسۍ د يو مفهوم دوه تعبيرونه دي. ټولنيزه دموکراسي – ياني ان غير دولتي برخوته د دموکراسي پراختيا – دا د سوسياليزم له مفهوم سره سمون لري.

## د لېبرالي - بورژوازۍ دموکراسي

د ليبرالي بورژوازي دموکراسي – يا «د لويديځ» دموکراسي ، د استازي دموکراسۍ په توګه وده کړې. د ۱۷۰۰ کلونو په وروستيو کې د «استازي دموکراسۍ» په اند ونو کې اختلاف څرګند شو. د (۱۷۱۲ – ۷۸ ) کلونو ترمنځ ژان ژاک رسو وويل: د بېلګې په ډول هغه کسان چې د استازيو په توګه راڅرګند شول دوی آزاد خلک نه ول. د خلکو اراده يوازې د مستقيمې دموکراسۍ د لارې تمثيلېدی شي. د لويديځ د مفکورې له مخې، نن له «دموکراسي» او «استازيتوب» څخه يو مفهوم اخيستل کېږي .

استازې دموکراسۍ (د رايو حق ) په پنځه پړاونو کې وده کړې ده :

۱. په لومړيو کې، د انقلاب له پړاوه څخه دمخه ، په سيمه ايزه کچه د رايو حق په عمل کې ستر تو پيرونه لرل او د رايو حق په ټولنه کې د وګړو په رسمي دريځ لکه اشرافيت، روحانيت او داسې نورو... پورې تړلی ؤ.

۲. په ۱۷۷۶ کال په امريکې کې د انقلاب او په ۱۷۸۹ کال په فرانسه کې له انقلاب وروسته د رايو په حق کې ستاندردونه رامنځ ته شول، تر زياته بريده د هغو کسانو ترمنځ چې د رايو حق يې درلود برابري منځ ته راغله خو شتمني او عايد يو له شرطونو څخه ګڼل کېده.

۳.د عمومي چمتووالي پړاو ، په دغه پړاو کې د رايو په حق کې د پاملرنې وړ پراختيا منځ ته راغله، داسې چې يو تن کولی شو د بېلابېلو جوړښتونو ترمنځ د زياتو رايو حق ولري.

۴. ټولو نرينو ته د رايې حق، په رايه ورکولو کې د رسمي او ټولنيزو شرطو نو په له منځه وړلو سره ټولو نرينو د رايو حق تر لاسه کړ.

۵.د دموکراتيزه کولو دوام، لکه ښځو ته د رايو د حق ورکول، د رايو د ورکولو د عمر را ټيټول او داسې نور .

ځنې هيوادونو لکه انګلستان، بلجيم او سويدن دغه پرمختيا په روښانه او پړاويزه بڼه ترسره کړه. د بېلګې په توګه په انګستان کې دغې دورې نژدې ۱۰۰ کاله په دربر کې ونيول. له ۱۸۳۲ کال څخه د رفرم پيل ،له ۱۹۱۸ کال څخه نرينه ته د رايو بشپړ حق ورکول، ۱۹۲۸ کال څخه ښځو ته د رايو حق ورکول. فرانسه د دې خلاف زيګ زاک لاره ووهله: د ۱۷۸۹ او ۱۸۱۳ کلنو ترمنځ يې له لومړی څخه تر څلورم پړاو وواهه، له دې وروسته يې بېرته په شاتک وکړ، د ۱۸۴۸ کال د فبروري د مياشت له انقلاب څخه دمخه د «نرينه دموکراسي» په بشپړه توګه پلې شوه، خو د ښځو د رايو حق له دويمې نړيوالې جګړې وروسته په (۱۸۴۸ ) کال کې پلی شو.

پاتې هيوادونه د انګستان او فرانسې د پرمختيايي بڼې ترمنځ ځای نيسي. ناروې هم همداسې يوه لاره ووهله، ناروې په ۱۸۱۴ کال کې يو ډير دموکراتيک اساسي قانون تصويب کړ، پارلمانتاريزم يې په ۱۸۸۴ کال کې تر لاسه کړ، د نرينه د رايو حق يې په ۱۸۹۸ کال او د ښځو د رايې حق يې په ۱۹۱۳ کال کې تر لاسه کړ. د امريکې په متحده ايالتونو کې دې دورې دوه سوه کاله په دربر کې

ketabton.com - The Digital Library

ونیول–د ۱۷۷۶ کال له انقلاب څخه بیا د رایو د حق د تر لاسه کولو پورې ، تر دې چې افریقایې نژاده خلکو هم دغه حق لاس ته راوړ.
بشپړه پارلماني دموکراسي پر دغه اصولو ولاړه ده:
.ټول خلک چې قانوني عمر ته رسېدلي وي د رایو حق لري.
.یو تن یوه رایه لري.
. له دولتي مداخلې پرته ، پټې او آزاده ټاکنې باید ترسره شي.
.د سیالو ګوندونو ترمنځ منځمهاله ټاکنې باید وشي.
. د پارلمان یا اولسي جرګې د استازیو ټاکنې باید ترسره شي.
.د استازیو په جرګه کې د ډېرکي یا اکثریت د رایو د پرنسیپ له مخې باید پریکړې ترسره شي.
دغه پارلماني.دموکراتیک پرنسیپونه ، د بورژوازۍ د لېبرالې دموکراسۍ بنسټیز عناصر دي. د لیبرال دولت پرنسیپونه په دې ډول دي: د قانون جوړونکو ارګانونو ، اجرائیه ارګانونو او قضایي ارګانونو ترمنځ د واک ویش او نه تړاو ،د بشري حقوقو ، د بیان، د غونډو ، سازمانونو ، او مطبوعاتو آزادي. دا ټول په اساسي قانون کې لیکل شوي.
لیبراله دموکراسي د کاپیتالیستي ټولنې په وسیله رامنځ ته شوه ، او بورژوازي په بنسټیز ډول اقتصادي او سیاستي آزادۍ او برابرۍ په اړوند یو شان تصور لري: د بازار آزادي او د سیاسي اندونو آزاده پرمختیا ، د موسسو ترمنځ اقتصادي سیالي ، د ګوندونو ترمنځ سیالي او ټاکنې ، د ونډه لرونکو شرکتونو د عمومي غونډو جوړېدل، د کسب او کار آزاد غوراوی او د رایو آزادي.
خو مارکس وښودله چې د آزادۍ او برابرۍ په اړوند د لېبرال کپیتالېزم تصور ایدیولوژیکي دی: د کاپیتالیستي تولیدي سیستم په دننه کې هغه کسان چې شتمن نه دي آزاد نه دي، ځکه دوې اړ دي خپل کاري ځواک پر پانګه والو وپلوري، د بازار کنترولوونکې برابري ،هغه اقتصادي نابرابري پټوي، کوم چې د کار له ځواک څخه د ګټې اخیستنې په بهیر کې منځ ته راځي. کله چې د آزادۍ نه شتون د آزادۍ په بڼه وړاندې شي او نا برابري د برابرۍ په بڼه ، دا کار د انقلاب له اصل سره سمون لري، چې بورژوازي ټولنه یې سبب ده: یوازې هغه ګټې چې عمومي دي، یانې ټولو ته اعتبار لري، د اعتبار لرونکو دپاره د اجرا وړ دي. هیڅ امتیاز د توجیه وړ نه دي لکه « پنځون نیز یا طبیعي» یا « هغه چې خدای ورکړي دي» ، لومړی په بورژوازي ټولنه کې سړی د انسان په توګه ارزښت لري.
خو نه ددې دپاره چې یهودیان، کاتولیکان، پروتستان، جرمنیان، ایټالویان او داسې نور دي» هګل. خو په کپیتالستي ټولنه کې چې شتمنې طبقې ته دا واک ورکول کېږي څو پر بې وزلې طبقې خپله واکمنۍ وچلوي، دغه آزادي او برابري کېدی شي شکل وي نه بنسټ. تل به همداسې وي کله چې آزادي د آزادي نشتوالی کې او برابري د برابرۍ نشتوالی کې لومړنۍ غوښتنه وي. په همدې ډول دوی دعمومي پرنسیپ پر ځای د بورژوازۍ ټولنې قواعد عملي کړل، چې د بې طبقې ټولنې پر ځای د پانګوالي ټولنې لوری لري.
په دموکراسي نظامونو کې ، واک د پیسو او پانګې دی. پانګه وال هڅه کوي دموکراسي د خپلې پانګې د ساتلو د پاره وکاروي. لکه څنګه چې پورته وویل شول پخوا د دموکراسۍ د ودې په لومړیو پړاونو کې ویل کېده د هر چا رایې د هغه د پانګې په اندازه ول دي .څو بې وزلي و نه شي کولی د واک له لارې د شتمنو پانګه مصادره کړي. خو د حل دغې لارې ته اړتیا نه وه، ځکه ټولو له خپلو رایو څخه کار نه اخیست او دویم دا چې واک ته رسیدل، د رایو تر لاسه کول، او په ټاکنو کې ګډون، پانګې ته اړتیا لرله چې بې وزلي ترې بې برخې ول .

نن اقتصادي وضعیت په اقتصادي الیګارشي آوښتی دی چې له دموکراسۍ سره تضاد لري او اقتصادي الیګارشي هڅه کوي حکومت په خپل لاس کې ونیسي نو ځکه د خلکو د عمومي واک اصل یوازې یوه اوسانه ده.

د پانګه والي ټولنو سیاسي نظامونه داسې دي چې په هغو کې اقتصادي پانګه کولی شي په سیاسي واک واوړي. نن دغه واقعیت د ټاکنیزو مبارزو له لګښتونو څخه څرګندېږي چې د اقتصادي قدرت لرونکي ټاکلي اغېز لرونکو سیاسي ډلې په بیه اخلي ، د امریکا د سنا په مجلس کې هر سل سناتوران میلیونران دي.

امریکا چې د دموکراسي زانګو ده ،په دغه هیواد کې بازار دی چې حکومت کوي او بهرني ګوابنونه، کورنۍ نا آرامۍ او نورې ایدیولوژیګانې د پانګه والۍ د ودې او پایښت سبب شوي .

اشپلنګر، د لویدیځ یو تیوریسن عقیده لري چې وګړي هغه وخت دا حق لري له اساسي قوانینو څخه ګټه واخلي چې «پیسې» ولري .

له بلې خوا ، د پیسو لرل سبب کېږي چې د پارلمان استازي د خپل انتخابوونکو په نسبت بې توپیره شي. د د دموکراسۍ یو ساده او ابتدایي اصل دا دی چې وکیل باید له هره پلوه د خپل غوره کوونکو تمایلونو ته پاملرنه وکړي او شپه او ورځ د خپلو غوره کوونکو خدمت وکړي څو د هغوی رضایت او ملاتړ ترلاسه کړي.

په پانګه والي نظام کې رایې د خرڅلا کالي دي او له دې چې خلک له اقتصادي پلوه یو له بل سره توپیر لري، په ډاګه یو شمیر شتمن او د اغېز لرونکي کسان کولی شي هغه را ونیسي .

## )ونډیزه ) دموکراسي korporative

په پیل کې پارلمان د اشرافو او سلطنتي واک پرخلاف مبارزه کې یوه اغېزمنه سیاسي وسیله وه، بورژوازۍ د پارلمان له لارې برې ترلاسه کړ او خپل سیاسي واک یې ټینګ کړ. د رایو د حق په پراختیا سره دغه حالت هم بدلون وکړ. دا کار ددې سبب شو څو عام خلک د بورژوازۍ واک تر پوښتنې لاندې راولي. مارکس په ۱۸۴۸ کال د فرانسې په نوې اساسي قانون کې دغه امکان لیده، « اساسي قانون د عمومي ټاکنو د لارې سیاسي واک هغه طبقاتو ته ورکوي ، چې د هغوی ټولنیز دریځ هغوی په همېشنۍ غلامۍ کې ساتي لکه پرولتاریا ، بزګران او کوچنۍ بورژوازي. او هغه طبقه چې د هغې پخوانې ټولنیز واک، د هغې بندیزونه او تابعیت، له دغه واک څخه سیاسي ضمانت اخلي او سیاسي واک اړ باسي دموکراتیکې اډانې ته راشي، کوم چې هر شیبه له مخالفو طبقاتو سره مرسته کوي څو واک ترلاسه کړي او د بورژوازي واک له خطر سره مخامخ کړي. ددغه اړتیا له مخې دوی نه شي کولی له سیاسي آزادۍ څخه تر ټولنیزې آزادۍ پورې وړاندې لاړ شي. بله اړتیا داده چې دوی نه شي کولې له ټولنیز آزادۍ څخه بېرته سیاسي ته په شا شي» د عمومي رایو د حق د لارې دا هم ممکنه ده د پارلمان له لارې طبقاتي مبارزه ترسره شي.

د پارلمان پرانیستل کېدو د کارګرې طبقې د استازو ته، تر یوه بریده د سیاسي موسسې په توګه د پارلمان د مفهوم کمزوري کېدل له ځانه سره لرل. په پای کې د سیاسي واک مرکز له پارلماني مقننه جرګې څخه اجراییه قوې−حکومت او د هغې اجراییوي− دولتي تشکیلاتو ته ولیږدول شو. د کلاسیکې دموکراتیکې تیورۍ پر بنسټ، د دولت د چارو اداره باید د خلکو انتخاب شویو استازو د پاره یوه داسې مرستندویه وسیله وي چې ددوی له خوا نیول شوي پریکړې باید ددوی د رایه ورکوونکو له غوښتنو سره سمون ولري. په شلمه پېړۍ کې د لویدیځ دموکراسي تیر ایستونکې بڼه غوره کړه، ددولتي چارو اداري دنورو دندو په ترسره کولو بوخت شول، له سیاسي پلوه تر ډېره د ټولنې د پرمختیا چارې یې ترسره کولې. دا کار له دې سره تړاو لري چې د پارلماني دموکراتیکو کانالونو له کمزورتیا سره جوخت، د سیاسي اغېزې یو نوی کانال جوړ شو چې د « ونډیز کانال» په نوم یادېږي. په دغه کانال کې نه یوازې سترې اقتصادي موسسې او د کسب او سوداګرۍ علاقه مند ارګانونه ګډون لري، بلکې حرفوي سازمانونه هم

ketabton.com - The Digital Library

–چې د سیاسي اغېزې هڅه کوي ګډون لري. د دولتي چارو د اداري له ارګانونو سره مستقیمه اړیکه د دولتي او نیم دولتي اداري په شبکه کې د ګډون له لارې ټینګېږي ، لکه په مجلس، کمېټو او ځانګو کې ګډون، چې په واقعي ډول د ټولنیز ژوند په بیلابیلو برخو کې سیاست تنظیموي.
پارلماني او ونډیز کانالونه په زیات توپیر سره کار کوي. پارلماني کانال عمومي ګټې په پام کې نیسي او پرانیستې بڼه لري او ټولو ته په رسمي ډول برابر امکانات په واک کې ورکوي او د دوره ای انتخاباتو له لارې کنترولېږي. ونډیز کانال په ټیټه کچه عمومي ګټې په پام کې نیسي او په پټ چلند ډېره لګوي، د بنه سازمان لرونکو ډلو چې غښتلي منابع په واک کې لري ، کار کوي او دایمي چلند لري. د ونډیز ګډ کار وده – په ځانګړي ډول د جګړې په وخت کې یې تر اقتصادي بحران وروسته وده وکړه –او د پارلماني دموکراسۍ تر سیوري لاندې یې ځای ونیو. نه د فاشستي ایټالیې په څیر، چې ددې الترناتیف ؤ او پارلمان تر ډېره سمبولیکه بڼه او رول درلود: پارلماني خبرې اترې باید رایه ورکونکو ته له سیاسي پلوه هغه پریکړې مدللې کړي کوم چې په حقیقت کې لا دمخه په نورو ارګانونو کې نیول شوي ول. دغه ونډیزه دموکراسي داسې تشریح کېدی شي: « رایې شمیرل کېږي خو ظرفیتونه پریکړه کوي«.

## د نخبګانو نوې ایدیولوژي او د هغې ایدیولوګان

ونډیزه دموکراسي، د نخبګانو ددموکراسۍ بنه سازمان ورکړل شوې بڼې ته ویل کېږي. د وروستۍ بورژوازۍ د اداري بڼه د لبرالې بورژوازۍ ددموکراسۍ مخالفه بڼه ده او له هغه اخلاقي مسوولیتونو سره ژوره اړیکه نه لري چې د ټولنې د پرمختیا دپاره اړین ګڼل کېږي .
نوې دموکراسي یوازې یو هدف لري:له خپل سیستم څخه ساتنه. د دموکراسۍ دغه پرېکونه، د مودرنې دموکراسۍ په تیورۍ کې د یو مفهوم په توګه راغلې ده. دغا لب لوري تیورۍ ته په پاملرنې سره ، چې « د ربنتنې دموکراسۍ د تیورۍ» په نامه هم یادېږي ( رابرت دال، جیوواني سارتوري، جوزف شومپیتر او نور ) ، د دموکراسي مفهوم کېدی شي له هر ډول اخلاقي منځپانګې څخه ووینځل شي: مودرنه دموکراسي یو داسې میتود دی چې له مخې یې د حکومت غړي غوره او ورته اختیارونه ورکول کېږي . په ربښتنې ډول دموکراسي د ارګانونه یو ټولیز دی، چې ددوو او یا زیاتو په کار پوهو سیاسي ډلو ترمنځ د خلکو د رایو د تر لاسه کولو دپاره سیالۍ کوي او ددې امکان برابروي څو اړینې سیاسي پریکړې ونیول شي. ددغه لرلید پر بنسټ د ټولنې د اتباعو له خوا د یو غښتلې سیاسي ترون رامنځ ته کول د سیستم هغه انډول له ګواښ مخامخوي، چې دموکراسي ورسره تړاو لري، او د سیاسي بې توپیرۍ سبب کېږي. په عین حال کې د کلاسیکي دموکراسۍ تیوري پر بنسټ د نخبګانو پرګنې ددموکراسۍ دپاره یو څرګند ګواښ ګڼل کېده، د پرګنیزې دموکراسۍ له وخته نخبګان د پرګنو خلاف له سیستم څخه ساتنه کوي.
په هر حال دا یوه پوښتنه ده، چې د نخبګانو دموکراسي بیا هم دموکراسي بللی شو. دا پوښتنه اند د «ریالیستي» دود په اډانه کې هم راپورته کېږي. سارتوري د بېلګې په توګه تاکید کوي چې « دموکراسي» له « کمونیسم» سره په یوه لیکه کې یو غوره ایدیال دی، « تر دې چې ویلی شو دواړه ایدیالونه په وروستۍ پایله کې په یوه بشپړه اصولي اډانه کې یو دي». سارتوري په هیڅوجه کمونیست نه دی، خو وړاندیز کوي چې پکار ده دهغه څه دپاره چې دموکراسي نومېږي یوه داسې کلمه پیدا شي چې دغه مفهوم په پراخه توګه بیان کړی شي. دغه مخمصه ښایي چې تر کاپیتالیستي شرایطو لاندې د دموکراسي امکانات تش او منځ پانګه نه لري، او د پرمختیا ددوو کرښو ترمنځ غوراوی دی: دموکراسي یا د پانګوالۍ جوړښت له منځه وړي او ټولنیزه دموکراسي رامنځ ته کوي، یا کاپیتالیسم د سیاسي تجربې په توګه دموکراسۍ پای ته رسوي او د استبداد یوه نوې بڼه منځ ته راوړي.
په دموکراسۍ کې دا عقیده ده چې ډېره کې واکمن دی، خو حقیقت داسې نه دی، حکومت یانې په ټولنه کې پر خلکو د واک پلې

ketabton.com - The Digital Library

کول دي نو څرګنده ده چې خلک په خپله نه شي کولی واک وچلوي. "جان استوارت میل" عقیده لرله: کوم خلک چې واک پلی کوي هماغه کسان نه دي چې واک پرې پلی کېږي. "لیپمن" هم عقیده لرله چې خلک نه شي کولی د حکومت چارې پرمخ بوزي. یو پوه « رنه ګنون» هم عقیده لرله چې که دموکراسي د خلکو حکومت پر خلکو تعریف کړو » دغه تعریف په خپل وار سره ددغه ناممکنه اوریښتني ناشونې کار ترسره کېدو ته اړتیا لري. نوموړی لیکي: باید اجازه ور نه کړو چې موږ په کلمو تیر باسي او که ومنو چې ټاکلي او ثابت خلک کولی شي په عین حال هم واکمن وي او هم تر واک لاندې ، متضادې خبرې به مو کړې وي.
نوموړي همدا راز عقیده لرله چې د اوس وخت په دموکراسي ګانو کې ، پر خپل برخه لیک باندې د خلکو واکمني له تېر ایستنې پرته بل څه نه دي، که څه هم د همدغه خیال او ګومان پر بنسټ د رایو او عمومي ټاکنو لړۍ رامنځ ته شوې ده. نوموړي واک په لږکي پورې اړوند بولي چې د تبلیغاتو له لارې د نورو عقیدې او اندونه د خپلو ګټو او غوښتنو په ګټه اړوي.

اشپلنګر: « هم عقیده لرله«
د « خلکو د واکمنۍ » موضوع چې خلک وکولی شي د خپلې ارادې له مخې خپل برخه لیک په لاس کې واخلي، یوازنۍ له ادبه ډکه خبره ده، خو حقیقت دادی چې ټولو ته د رایې د حق په پراخولو سره ټاکنو خپله لومړنۍ مانا له لاسه ورکړې ده... ځکه خلک د نویو ځواکونو یانې د ګوندونو د مشرانو په منګولو کې را ښکېلېږي او دغه مشران د تبلیغاتو او تلقینونو د ټولو وسایلو څخه په کار اخیستو سره خپله اراده پر خلکو تپي.
دموکراسۍ ته ژوره کتنه ښیي چې دموکراسي د ډېرکي خلکو واکمني نه ده، بلکې د غوره کسانو حکومت دی، خو په ګوندي نظامونو کې د غوره کسانو دوه ډلې شتون لري چې کله کله خپل ځای یو بل ته پرېږدي. شومپیتر، د لویدیز یو لیکوال عقیده لري:

عادي وګړي د پرېکړې کولو اود ریښتني ګډون لازمه پوهه نه لري او هغه څه چې موږ ورسره د سیاسي بهیرونو په څېړنه کې مخامخ یو ، د اصلي ارادې په پرتله تر ډېره مصنوعي اراده ده ، دا هغه واقعیت دی چې د کلاسیکې زده کړې له عمومي ارادې سره سمون لري. د خلکو اراده د سیاسي بهیرونو پایله ده خو د هغې خوزښت نه دی.

که د ډېرو هیوادونو د ټاکنو بهیر ته ځیر شو ، د هغه کسانو څخه چې د رایې ورکولو شرایط یې پوره کړي نیمایي یې په ټاکنو کې ګډون کوي ، که ډېرکی معیار ونیسو ، یانې له نیمایي څخه یوه رایه زیاته، کله داسې پېښېږي چې له دغه شمېرې څخه یوازې ۲۵ ٪ د رایې ور کسانو یو سیستم منځ ته راوړی دی. آیا د دموکراسي مفهوم همدا دی؟
یو بل لیکوال دموکراسي د « سیاستمدارانو حکومت او د سیاستمدارانو د پاره» تعریفوي له دې ځانګړنې سره چې د ډېرکي واک بې مانا خبره ده؟

اشپلنګر په دې اړوند لیکي:
په ظاهره د لوېدیځ پارلماني دموکراسي د لرغوني مصر ، چین او عربو له دموکراسۍ سره ډېر توپیر لري، خو په حقیقت کې په اوسني وخت کې هم ملت د ځواکمنې ډلې په لاس کې د یوې وسیلې پرته بل څه نه دی. هماغسې چې په لرغونو تمدنونو کې ملت د تابع او امرمنونکي بندګانو په څېر د اطاعت د پاره چمتو ؤل، په اوسني وخت کې هم خلک د ټاکونکو په بڼه چمتو او تیار دي څو له ځواکمنو ارادو څخه اطاعت وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

لکه څنګه چې اشاره مو وکړه، په واقعیت کې دموکراسي د غوره کسانو واکمني ده او استازیتوب په کې ځای نه لري. روسو په دې برخه کې له مانا ډکه خبره لري چې د دموکراسۍ منځپانګه ښکاره کوي او وایي:
د انګلستان خلک ګومان کوي چې آزاده دي، دوی زیاته تېروتنه کوي، ځکه د دوی آزادي یوازې پارلمان ته د استازیو تر ټاکلو پورې ده. کله چې هغوی غوره شول، خلک له غلامانو پرته بل څه نه دي.

استازي یوازې د یو لړکي له خوا غوره شوي دي، ځکه د دموکراسۍ په یو مدعي هیواد کې ټول خلک په ټاکنو کې ګډون نه کوي. په دغه شمیر کې هم داسې سړي یا کسانو ته رایه ورکوي چې د ٥۰٪ ګډونکوونکو څخه رایه تر لاسه کوي چې په حقیقت کې د ملت د لړکي استازی دی. او س څه اړتیا ده چې د ټولنې خلک نو موړی ومني او د هغه عمل او نظر ومني. یو وکیل حق لري یوازې د خپل موکلانو په چارو کې لاس وهنه وکړي خو دا حق نه لري د ټول اولس په چارو کې لاس وهنه وکړي که په رښتیا د خلکو رایه معیار وي. که فرض کړو چې د ډېرکې یا اکثریت رایه هم ولري، حق نه لري پر لړکي حکومت وکړي، نو ځکه ویلی شو چې د استازي رایه یوازې د هغه د موکل په برخه کې په کاریدی شي، نه پر ټولو. نو له دې کبله لیدل کېږي چې د لړکي حقونه نه ساتل کېږي.

بله مساله داده چې تر غوره کولو وروسته، خلک نه شي کولی هغه له کاره وباسي. په داسې حال کې چې په وکالت کې موکل کولی شي خپل وکیل لیرې کړي. سربېره پر دې، له ټاکنې وروسته که خلک کومه غوښتنه هم ولري، آیا استازی باید د هغوی رایه ترسره او پلې کړي او یا دا چې خپله رایه نافذه ګڼي؟ نن، په دموکراسي نظامونو کې استازی د خپلې خوښې له مخې چلند کوي. که د هیواد زیات خلک د هیواد د هستوي کېدو یا د جګړې مخالف وي استازی د خپلو موکلانو د رایې له پام کې نیولو پرته خپل نظر ورکوي. که څه هم له نظري پلوه او هم د دموکراسۍ پر بنسټ، باید د خلکو رایه لومړیتوب ولري، خو په عمل کې، د خلکو استازیو ته واک ورکول کېږي نه خپله خلکو ته.

## سوسیالیستي دموکراسي

لیبراله دموکراسي نه یوازې د بورژوازۍ کاري وسیله ده، مهم دموکراتیک رفورمونه لکه د ۱۹ پېړۍ په پای کې د ټاکنو د رایې ورکولو د حق پراختیا، د کارګري غورځنګ او د مترقي کوچنۍ بورژوازۍ ترمنځ مبارزه وه. کله چې لیبراله دموکراسي تر ګواښ لاندې راغلې او یا له منځه وړل شوې نو کارګري طبقې او د هغې سازمانونو د بورژوازۍ په دننه کې د هغې د مشرۍ او فرکسیون پرخلاف مبارزه پیل کړې، د بېلګې په توګه دغه کار د دوو نړیوالو جګړو ترمنځ واټن کې د فاشیسم پرخلاف د هسپانیې، ایټالیې، المان، او اتریش د جمهوریتونو څخه د دفاع او همدارنګه د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د مقاومت د غورځنګ له خوا شوی دی. نو ځکه لیبراله دموکراسي د اروپا د کارګري غورځنګ د وسله والو په تاریخ کې ورګډېږي.
په دغه تجربه کې هغه پریشانۍ ته ډیره لږه پاملرنه شوې چې د لیبرالې دموکراسۍ په اړوند په مارکسیستي پریشانۍ کې لیدل کېږي. په دې اړه ویلی شو چې لیبراله دموکراسي د یوې داسې تیر ایستنې په بڼه رامنځ ته شوه چې د واکمنې بورژوازۍ پر دیکتاتوري پرده اچوي. او مارکسیستي ایدیولوژي د الترناتیف په توګه د پرولتاري دیکتاتورۍ وړاندیز کوي. دغه سیاسي عقیده د هغه په ټپه دریدلي حالت بیان کوي چې په تیره بیا په ختیځه اروپا کې ولیدل شو. لیبراله دموکراسي د کاپیټالیزم د تکامل

ketabton.com - The Digital Library

اتوماتيکه لاس ته راوړنه نه ده. بلکې د کاپيتاليزم د دننيو اختلافونو په پايله کې منځ ته راغلې ده. دا همدارنګه د کارګرې طبقې سياسي کار دی. ليبراله دموکراسي په کاپيتاليستي نظام کې د مخالفو طبقاتو ترمنځ يو ډول جوړ جاړی دی: دا د کسب او کار او د سازماني فعاليتونو آزادي ده.

د ليبرالې دموکراسۍ مرکزي برخه مخ په وړاندې يو داسې تاريخي ګام دی، چې په يوه سوسيالستي دموکراسۍ کې شتون لرلی شي. دا د واک د ويش په اړوند هم اعتبار لري ، د قضايه قوې ناپيلتوب، د بيان ، غونډو او سازمانونو د آزادۍ قانوني ټينګښت. سربېره پردې سياسي پلوراليسم د سوسياليستي دموکراسۍ يوه مهمه برخه ده: يو سياسي سيستم يوازې هغه وخت دموکراتيک بلل کېدی شي ، کله چې زياتو ګوندونو ته د فعاليت اجازه ورکړي، اپوزيسيون ته امکانات ورکړي او عمومي او پټې ټاکنې ترسره شي. پارلمان له سره سياسي کېدی شي خو د يو رښتني لاربنود ارګان په توګه خپل رول ټينګ کړي که څه هم يو مودرنه سوسيالستي صنعتي دولت ، نه شي کولی د غيرمستقيمي او په ملي کچه د استازې دموکراسۍ پرته کار وکړي، د سوسياليسم مهمه نښه دا ده چې د ټولنيز ژوند غير دولتي برخې په دموکرتيکه بڼه رامنځ ته شي. دا د مستقيمي دموکراسې د ارګانونو -د جرګو يا شوراګانو د سيستم له لارې ترسره کېږي چې د کار او اوسيدو په ځايونو پورې اړه لري-څو وګړي وکولی شي پر خپل ورځني ژوند کنترول تر لاسه کړي. په دغه بڼه کې سوسياليستي سيستم د مستقيمې او غير مستيمې دموکراسۍ له دواړه ډولونو څخه کار اخلي.

## دموکراسي او برابري

برابري د دموکراسۍ يو بنسټ دی. خو په دموکراسي نظامونو کې برابري څه ډول ده ؟آيا برابري د پانګه والي نظام سره سمون لري؟ آيا برابري له آزادۍ سره چې د دموکراسۍ يو بل اصل دی يوځای کېدی شي؟

ځنې عقيده لري: پانګه والي او دموکراسي سره يوځای کېدی نه شي، ځکه دموکراسي د سياسي واک د قوانينو پر بشپړې برابرۍ عقيده لري: « هر څوک يوه رايه» . حال دا چې پانګه والي عقيده لري چې يوازې د پانګه والي نظام د اقتصادي پلوه غښتلي کسان، د نابرابرۍ پر بنسټ د سياسي واک د رانيولو وس لري. يو ليکوال په دې اړوند داسې ليکي:

د پانګه والي نظام ختم په نابرابرۍ کې لمده شوې ده. نوموړی زياتوي، که د پېربدلو د وس ويش د برابرۍ او يوشان والي پر بنسټ ودرول شي، د بازار اقتصاد په چټکۍ سره برابري له منځه وړي او د هغې پرځای نابرابري منځ ته راځي... ځکه يوشان فرصتونه شتون نه لري.

يو له هغه خطرونو چې دغه ليکوال ترېنه يادونه کوي، نابرابري ده. نوموړی ليکي: که نا برابري دوام وکړي او زياته شي او د زياتو کورنيو عايد ورځ تربلې لږ شي، او که د دموکراسۍ پر بنسټ سياسي بهير

و نه شي کولی په پانګه والي نظام کې د دغه ستونزې علاج پيدا کړي او هغه څه پيدا کړي چې د دغه واقعيت د منځ ته راتلو سبب کېږي... هيڅ څوک په سمه توګه نه پوهېږي څه به پېښ شي او دموکراسي به هم خپل اعتبار له لاسه ورکړي.

برابري په هومانيزم او فردي چلند کې جرړې لري په دې مانا چې له فرد څخه لوړ اقتدار نشته او له فردي عقل څخه لوړ پوهاوی نشته. ځنې برابري په دې مانا پېژني چې واک د ټولنې د وګړو ترمنځ په برابره توګه ويشل شوی وي او هيڅوک له بل څخه زيات واک ونه لري. دغه برابري په لاندې ډګرونو کې ترسره کېږي:

ketabton.com - The Digital Library

-سیاسي برابري: ټول وګړي د رای برابر حق لري ، یانې هر څوک د یوې رایې حق لري او ټول خلک ټاکنو ته د درېدو برابر حق لري.
-حقوقي برابري: د قانون تر وړاندې ټول برابر دي او یو شان حق لري.
-ټولنیزه برابري: ټول خلک د سیاسي فعالیت برابر حق لري.
د برابرۍ بنسټ، د ملت له حقوقو جوړ شوی دی. په دموکراسۍ کې خلک حقونه لري چې د ټولنیز ترون پر بنسټ له هغې ګټه پورته کوي. د دولت مهمه دنده د امنیت ساتنه ده .

## دموکراسي او آزادي

دموکراسۍ او آزادي څه اړیکه لري؟ آیا وګړي او ډلې چې هره عقیده ولري د هغو د تبلیغولو حق لري؟ که د ټولنې خلک د دموکراسۍ د له منځه وړلو غوښتونکي شي، کولی شي د هغې د پاره کار وکړي؟
د پورته پوښتنو په ځواب کې باید ووایو : په هیڅ نظام کې مطلقه دموکراسي نشته، د دموکراسۍ اډانه د قوانینو په وسیله ټاکل کېږي. په بله ژبه ، آزادي د هرې ټولنې د سیاسي نظام په اډانه کې محدوده ده. د آزادیو د محدودولو اډانه په هر سیاسي نظام کې له بل سیاسي نظام څخه توپیر لري او د هغه ټولنې له نړۍ لید او فکري نظام سره سمون لري.
موریس دورژه په دموکراسۍ کې د آزادۍ د اډانې په اړوند لیکي؟
آزادي یوه داسې موضوع ده چې ټول خلک ورته درناوی لري البته په هیڅ یوه ټولنه کې مطلقه آزادي شتون نه لري. پر لېبرالېزم ولاړه دموکراسي وایي دولت باید په ټولنیزو چارو کې ډېره لږه مداخله وکړي او د دې خلاف خلک باید زیاتې آزادیګانې ولري. د دولت دنده د امنیت ساتنه ده او یوازې هغه وخت قانونین رامنځ ته کوي چې د ځنې کسانو آزادي د نورو کسانو آزادۍ ته زیان ورسوي. یا په بله ژبه د ځنیو کسانو آزادي باید د نورو کسانو د آزادۍ د منځه وړلو د پاره مجاز و نه ګڼل شي.
آیا د آزادۍ دښمنانو ته د آزادۍ ورکول ، د دموکراسۍ د له منځه وړلو مانا نه لري؟آیا دموکراسي اړینه ده د هغه کسانو پر خلاف چې غواړي د دموکراسۍ له لارې دموکراسي له منځه یوسي هیڅ و نه کړي او له ځانه دفاع و نه کړي؟ ځواب ساده دی ، دموکراسي خپلو مخالفانو ته د عقیدې د بیانولو اجازه ورکوي ، تر هغه چې دغه کار د دموکراتیکو اصولو په چوکاټ کې ترسره شي.

د آزادۍ ځنې مهم ډګرونه:
سیاسي آزادي
اقتصادي آزادي
کولتوري آزادي

## نسبي چلند

د دموکراسۍ یوه ځانګړنه داده چې پر ثابت او مطلقه حقایقو په تېره بیا د قانون جوړولو په چارو کې باور نه لري، په بله ژبه هیڅ عقیده او ارزښت د ازلي او ابدي ارزښت په توګه نه ګڼي او پر یو مطلق حقیقت د عقیدې پر ځای د عقایدو او ارزښتونو په نسبیت باور لري. نسبیت په دوو ډګرونو کې عملي بڼه غوره کوي: د عقیدو توپیرونه او راز رازتوب ، مختلف سیاسي بهیرونه. مختلف سیاسي بهیرونه د ګوندونو ، مدني ټولنې په وسیله عملي بڼه غوره کوي. ګوندونه په ټولنه کې د مختلفو سیاسي بهیرونو

ketabton.com - The Digital Library

رواجوونکي دي چې د ګډو هدفونو پر بنسټ د واک د پاره مبارزه کوي.

.

مدني ټولنه ، په اوسني وخت کې دغه واقعیت ښایي چې ټولنه باید د دموکراسۍ د ساتلو د پاره ځنې تشکیلات ولري چې په دولت پورې تړلي نه وي او دا کار هغه وخت ترسره کېدی شي چې د دولت واک محدود کړی شي. د مدني ټولنې پراختیا د دولت واک محدودوي. د مدني ټولنې په جوړېدو سره عمومي فکرونه له پورته څخه نه تنظیمېږي بلکې له ښکته څخه تنظیمېږي او د چاروا کو غوږونو ته رسول کېږي.

د ګوندونو ارزښت په دې کې دی چې وګړي په یو ازیوالي سره نه شي کولی پر دولت اغېزه وکړي خو کله چې له نورو سره یو ځای کېږي د دې کار وس پیدا کوي.

## د دموکرسي اړوند د ځنې مفهومونو لنډه تشریح

## وګړنیز مشروعیت

په ټاکنو کې د خلکو ګډون د دموکراسۍ د ټینګښت مانا لري څومره د غه ګډون په لوړه کچه ترسره شي په هماغه کچه دموکراسي غښتلې ده، په ټاکنو کې د خلکو نه ګډون د دموکراسۍ مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي، مشروعیت د خلکو د ګډون او نه ګډون په اندول ټاکل کېږي. عمومي اندونه او صلاحیتونه په دموکراسي کې پراته دي او د حکومت د حقانیت او مشروعیت لار ده.

## ګډون څه ته وایې

له ګډون څخه مقصد دا دی چې یو سړی یا د وګړو یوه ډله په ډله ایزه فعالیتونو کې ګډون ولري. د سیاسي پلوه دا په دې مانا دی چې په یوه اداره کې یو نرینه او ښځه د پریکړو په نیولو اغېزه او د هغو د ترسره کېدو پربهیر کنټرول ولري.

## خلک سالاري د میني مالیستانو له انده

د مینی مالیستانو له انده خلک سالاري هغه حکومتي سیستم ته ویل کېږي چې په هغې کې اولس د سیاسي مشرانو هغه یوې ډلې ته د منځ مهاله ټاکنو له لارې د حکومت کولو حق ورکوي.

• د خلک سالاري (Aggregative) مفهوم دا خبره څرګندوي چې حکومت باید داسې قوانین او سیاست ولري چې د خلکو د منځنې لارې نظریو ته زیات نژدې وي، له کینې او ښي څخه نیمایې نیمایي.

## جرګه ای خلک سالاري

جرګه ای یا شورایي (Deliberative) خلک سالاري پر خبرو او بحث ولاړه ده. جرګه ای خلک سالاران دعوه لري چې قوانین او سیاستونه باید پر داسې خبرو او بحثونو ولاړ وي چې ټول خلک یې ومني. سیاست باید دومره لمن ولري چې خلک او سیاسي مشران وکولی شي سره خبرې وکړي او د یو بل خبرو او نظریو ته غوږ ونیسي او خپلو نظریو ته بدلون ورکړي.

## مستقیمه خلک سالاري

ketabton.com - The Digital Library

مستقیمه (Direct) خلک سالاري وايي خلک بايد نيغ په نېغه نه د خپلو استازيو له لارې د سياستونو او قوانينو په جوړولو کې برخه ولري. سياسي فعاليت زيات ارزښت لري ، د خلکو د ټولنيز کېدو او با ادبه کېدو سبب کېږي او د خلکو ګډون د نخبګانو پياوړتيا ارزوي. له ټولو مهم دا چې په حقيقت کې اولس تر هغه پر ځان حکومت نه کوي ترڅو نيغ په نيغه د قوانينو او سياستونو په جوړولو کې ونډه وانخلي.

:35

عبدالملک پرهيز

کولتوري سياست

دولسمه برخه

کولتوري سياست په عمومي ډول هغه ارزښتونو او اصولو ته ويل کېږي چې په کولتوري چارو کې ټولنيزو موجوداتو ته لارښوونه کوي .

يوه سياسي څرګندونه په ساده ډول کېدی شي يوه شخصي جمله وي لکه « زه غواړم په خپلو ليکنو کې سپکه ژبه ونه کاروم». خو په دوديز ډول سياستونه پېچلي دي

او د يو سازمان د پريکړو د ارزښتونو او معيارونو ټوليز جوړوي.

کولتوري سياستونه تر ډېره د دولتونو له لورې ، په ښوونځيو کې د تورو تختو ترشا ، د قانون جوړولو او اجراييه قواو په ودانيو کې ټاکل کېږي خو په خصوصي برخه کې يو شمير نورې موسسې لکه شرکتونه او ټولنيز سازمانونه هم په دغه برخه کې ګډون لري.

کولتوري سياستونه د هغه کسانو د پاره لارښود اصول رامنځ ته کوي چې د هغوی پريکړې او اقدامونه پر کولتوري ژوند اغېزه لري.

کولتوري سياست کله نا کله په څرګنده د يو تعريف شوي لاس ته راوړنې په توګه د دغه کار د علاقه مند سازمان له خوا ټاکل کېږي. د بېلګې په توګه کېدی شي د کولتور وزارت او يا يو هنري سازمان دا سې يو سياست غوره او تصويب کړي چې په بېلا بېلو سيمو کې د تياتري موسسو د غښتليا په برخه کې د دغه سازمان يا وزارت عملي هدفونه او اصول په پام کې ونيسي. ددې خلاف ، هغه څه چې په اوس وخت کې شته د ټولنيز حرکت کولتوري آثار دي چې کله اټکل يې هم کېدی نه شي. د بېلګې په توګه « د ښاري نوي کولو پروژه» په پام کې ونيسو .

کولتوري سياست کله کله په څرګنده د يو تعريف شوي بهير د لارې د دغه کار د رهبري کوونکي سازمان له خوا ټاکل کېږي. د بېلګې په توګه ، د

د ښار د نوي کولو د سياست هدف د بنسټونو د ويجاړېدو ، د ژوندانه د بې ستاندرده حالاتو ، جنايتونو او د نفوسو د بې کچې زياتوالي ، او دا سې نورو اړونده ستونزو له منځه وړل دي. خو په عين حال کې دغه سياستونه په ښاري مرکزونو کې د کولتوري ژوند د کمزوري کېدو ، ګاونډيتوب ، د خلکو د راټولېدو د مرکزونو او د تاريخي آثارو د له منځه تللو او يو شمير نورو دا سې عواملو او په همدې ډول د ټولنيز ژوند د جوړښت ، اړيکو او ټولنيز سازمان په کمزوري کېدو ، چې د کولتوري ژوند پر کيفيت

ketabton.com - The Digital Library

ژوره اغېزه کوي، د خلکو پر کولتور اغېزه لري.
دا ډول مهالیز کولتوري سیاست په واقعیت کې د دولتونو او سازمانونو د هغه اقدامونو تر وړاندې غبرګون دی چې د کولتوري آثارو د پام کې نیولو پرته تر سره کېږي.
»اګوستین ګیرارد » د فرانسې د کولتور وزارت د څېړنو او پلټنو له څانګې څخه د «کولتوري پرمختیا : تجربې او سیاستونه»تر نامه لاندې په خپل کتاب کې چې په دغه برخه کې د ترسره شویو اساسي کارونو په اړوند لیکل شوی دی ، کولتوري سیاست داسې تعریفوي: « یو سیاست د هغه نهایي هدفونو ، عملي مقصدونو ، او لارو چارو نظام دی چې د یوې ډلې له خوا پرمخ بېول کېږي او د یو سازمان په وسیله عملي کېږي. کولتوري سیاستونه په صنفي اتحادیو ، ګوندونو ، زده کړنیزو غورځنګونو ، شرکتونو ، په یو ښار یا یو دولت کې د پېژاندل کېدو وړ دي.
خو د اړونده عامل له پام کې نیولو پرته ، یو سیاست د نهایي ( اوږدې مودې )هدفونو او د(لنډې مودې چې سنجول کېدی شي ) هدفونو او ابزارو ( لکه انساني ځواکونو ، مالي او قانوني زیرمو ) « چې په یو بشپړ نظام کې تل ترکیب شوي دي» شتون بیانوي.( ګیرارد ۱۷۱ او ۱۷۲ مخونه.(
همداسې چې کولتور یو هر اړخیز کار دی، کولتوري سیاست هم له یو لړ اقدامونو څخه جوړ شوی دی چې د کولتوري ژوند د پراختیا دپاره ترې کار اخیستل کېږي. ډیری هغه سیاستونه چې ژورې کولتوري پایلې لري دداسې سیاست پوهانو له خوا جوړېږي چې د ترانسپورت ،د هیواد د عمومي بودجې او داسې نورو اړونده مسالو په برخه کې د کولتوري پریکړو د ملاحظاتو د پوهېدو ډېر لږ وس لري.
په یوه بشپړه دموکراتیکه ټولنه کې د هغوی د اقتصادي او سیاسي آثارو تر څنګ د بېلابېلو کولتوري چارو پایلې هم په پام کې نیول کېږي. د بېلګې په توګه د عمومي ترانسپورت په اړوند د پریکړو په وخت کې په کولتوري چارو کې د ګډون دپاره د خلکو هڅونې او یا د هغوی دمخنیوي دپاره پریکړې هم تر څېړنې لاندې نیول کېږي.
نن ډېر سیاست جوړونکي د نظر داسې بدلون ته نه دي رسېدلي چې په بشپړه توګه کولتور د هغوی په ذهن او وجدان کې ځای پرځای کړي. د بېلګې په توګه ، کله په صنعتي هیوادونو کې دولتي سازمانونه کولتوري سیاست تعریفوي، ځانونه په ډېر مسلکي تعریفونو لکه مطبوعات، اړیکې، هنر، ښوونه او روزنه او په ځنې هیوادونو کې په ورزش پورې اړوندوي. د کولتوري سیاستونو د ترسره کولو دپاره غوره شوې لارې هم سره توپیر لري. د هنرمندانو او کولتوري موسسو سره مرسته یوه دودیزه لاره ده او د اقتصادي سیاست په عمومي برخو کې د بوختیا د رامنځ ته کولو پروګرامونه دي .
سربېره پردې د ودانیو جوړول او د کولتوری آسانتیاو ساتنه، د تاریخي آثارو د ساتنې دپاره د مالي سرچینو برابرول او هڅونه او د غږیز او تصویري رسنیو د مقررو تنظیمول ددولتونو د کولتوري سیاستونو د ترسره کېدو بله لاره او طریقه ده.
»کولتوري حقوق» د کولتوري سیاست اساسي ستنې جوړوي. په ۱۹۴۸ کال کې د ملګرو ملتونو د سازمان له جوړېدو وروسته ، ددغه سازمان غړیو د « بشر د حقوقو اعلامیه تصویب کړه: « هر سړی د ټولنې په کولتوري ژوند کې د ګډون حق لري» . د یونسکو پخواني عمومي رئیس « رنه ماهیو» په ۱۹۷۰ کال د یونسکو په نړیوال کنفرانس کې د کولتوري سیاست د بنسټیزو ، اداري او مالي اړخونو په اړوند په خبرو کې پر دغه حق تاکید وکړ او داسې یې وویل: څرګنده نه ده چې ددغه متن بشپړ اهمیت چې کولتوري حق د بشر د نوي حق په توګه اعلانوي، زموږ په وخت کې په بشپړه توګه پوهېدل شوی او که نه؟ هر څوک، د خپل انساني شان د یوې اساسي برخې په توګه په کولتوري میراثونو او د ټولنې په کولتوري فعالیتونو کې د ګډون حق لري نو د ټولنې مسوولین دنده لري تر هغه ځایه چې ددوی امکانات اجازه ورکوي هغوی ته دداسې ګډون وسایل برابر کړي. همدارنګه هر سړی

ketabton.com - The Digital Library

لکه څنګه چې د زده کړې او کار حق لري ، کولتوري حقوق هم لري. دا د کولتوري سیاست بنسټ او لومړی هدف دی (ګیرارد ۱۸۲ او ۱۸۳ مخونه.)

په وروستیو لسیزو کې د کولتوري ګډون د وسایلو د چمتو کولو د دندې پوهېدل ددې سبب شوي څو دولتي مقامونه په ټوله نړۍ کې په چټکۍ سره د کولتوري ودې په برخه کې د ټولو خلکو د ګډون ضمانت زیات کړي.

## د کولتوري سیاست تاریخي جرړلې

کولتوري سیاست ته د بنې ورکولو نظریې زیاتې سرچینې لري لکه په مختلفو ټولنو کې بېلابېل دوديز اندونه، د فیلسوفانو او تیوریسنانو نظریې، تاریخي تجربې او خیالي اندونه.

په پرله پسې پېړیو کې محکمو ، مذهبي مرکزونو ، قانون جوړونکو او ساتونکو په دې اړوند پریکړو کې چې ولې او څرنګه باید د هنر او کولتوري آسانتیاو څخه ملاتړ وشي او یا د یوې ټولنې د ژبې او مذهب په اړوند پریکړو او همدارنګه د چلند او پوهنې په شان مسالو کې مناسب چلند غوره کاوه. فیلسوفانو او تاریخ پوهانو د ټولنې د حرکت د لوري په ټاکلو کې مهم رول درلود او کلتور ته له درناوی سره مل ؤ. په هره ټولنه کې د تاریخ په بیلا بیلو پړاونو کې خلکو د هغه کولتور په اړوند چې دوی یې جوړونکي دي خپل غوراوی کړی دی .

هغوی غوره کړې ده چې څرنګه خپل آرمانونه او اند ښنې څرګندې کړي او یا دا چې په مذهبي مراسمو او یا د خوښۍ په دودونو کې څرنګه خپل ارزښتونه څرګند کړي.

خو د دموکراتیکو دولتونو د ټولنیز – کولتوري مسوولیت مفهوم یو نوی نوښت دی. د کولتوري سیاست نظریې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته رواج شوي. په هغه خبرو اترو کې چې له دغه وخته وروسته مطرح شوي ، د کولتوري دموکراسۍ نظریه په کولتوري سیاست کې د یو مهم نووښت په توګه څرګنده شوې ده. په ټوله نړۍ کې د کولتور وزیرانو د نړۍ د ټولنیزو بهیرونو لکه د الکترونیکو ډله ایزو رسنیو ، مدیرنېزیشن او همدارنګه د فردي له ځانه بېګانګۍ او د هغې له ویجاړونکی اغېز څخه په خبرتیا سره دغې نظریې ته علاقه وښودله.

کولتوري سیاست د نړۍ په بېلو بېلو هیوادونو او د دموکراتیک کولتور د ودې دپاره هڅه، یو نړیوال بهیر دی چې په هر هیواد کې د سیمه ایزو ټولنیزو او سیاسي حالاتو پربنسټ بیلابېلې بڼې ځانته ته غوره کوي.

د پرمختیا په حال کې هیوادونو دپاره ، د کولتور په اړوند اساسي پوښتنه داده چې څرنګه ځایي دودونه کوم چې هغوی له خپل تېر وخت سره تړي او د راتلونکي دپاره دهغوی هیلې او آرمانونه جوړوي، په داسې حالت کې وساتي او پرختیا ورکړي چې د صنعتي نړۍ ښه او مثبت ټکي بې له دې چې بیخي په کې ډوب شي تر لاسه کړي. د ودې په حال کې ډیرو هیوادونو د کولتوري ښکیلاک پر اوږده تاریخ باندې د برې د پاره مبارزه کړې.

کولتوري ښکیلاک، چې د ودې په حال کې هیوادونو تیاترونه، کتابتونونه، رادیو او تلویزیونونه یې لا دمخه تر خپل ښکېلاکې واک لاندې راوستي ول، په پام کې نیسي .

سره ددې هر څه ، هغوی داسې نوي کونې او مصنوعي کولتور ته له راستنېدو څخه ډډه کوي ځکه دا دهغوی د ژوند له ربښتني حالاتو سره هیڅ سمون نه لري .

دغه هیوادونه غواړي مودرنیشن په ډېره ښه توګه او د خپل ځایي دودونو او رواجونو سره په سمون کې ترسره کړي. د بېلګې په

ketabton.com - The Digital Library

توګه ، د ودې په حال کې هیوادونه مخکې له هغې چې د تلویزیوني سیستمونو د بنې د بدلولو هڅه وکړي دداسې لارو چارو په لټه کې دي چې په لومړي ګام کې مطبوعاتو ته پراختیا ورکړي.
د صنعتي هیوادونو ستونزې او ګواښونه هم له ځنې اړخونو څخه د ودې په حال کې هیوادونو له کولتوري ګواښونو سره ورته دي او له ځنې اړخونو سره توپیر هم لري. د بېلګې په توګه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته کله چې په اروپا کې د کولتوري سیاست جوړونکو د لومړي ځل دپاره «د عمومي کولتور د دموکراتیزه کولو» پروګرام پیل کړ، هغوی بېلابېلې لارې چارې و آزمویلې.
ځنې لارې چارې داسې وې چې موزیمونه او د غونډو تالارونه یې ددې دپاره غښتلي کول څو زیات خلک راټول شي، د موزیمونو او تالارونو د ټېکټونو دپاره یې مرستې ورکولې څو بې وزلې خلک دغو مرکزونو ته راشي، په ښوونځیو او روغتونونو کې وړیا کنسرتونه او پروګرامونه تر سره کېدل.
ددې ټولو هڅو سره سره ،د خلکو په هغه شمیر کې بدلون رانغی چې په خپله خوښه یې په هنري فعالیتونو کې ګډون کړی ؤ او یوازې پر ډېرو لږو کسانو او هغه خلکو یې اغیز درلوده چې لوړې زده کړې یې لرلې، بډایه وو او د منځني عمر کسان وو.

## د کولتوري دموکراسۍ د غښتلي کولو لارې چارې

ټولنې ته روح ورکول او د هغې ژوندي ساتل، د کولتوري دموکراسۍ د هدفونو د پېژاندلو او تایید دپاره د ډېرې ښې وسیلې په توګه په پام کې نیول شوی. په ډېرو ټولنو کې د ژوندیو طرحو په اډانه کې دا هڅه کېږي څو یو سازمان ورکوونکی هنرمند د هنري او سازماني مهارتونو څخه په ګټې اخیستو سره د ټولنې له غړیو سره مرسته وکړي څو خپل کولتوري هویتونه وپېژني او بیان کړي.
همدارنګه د اروپا کولتوري سیاست جوړونکو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته خپل پام هغه مسالو ته واړوه چې د الکترونکي عمومي رسنیو څخه راپیدا شوي وو. او لاندې پوښتنو ته د ځواب موندلو په لټه کې وو:
څنګه دموکراتیکې رسنۍ او مطبوعات وهڅوي او ترې ساتنه وکړي؟
څنګه د مطبوعاتو په پراختیا سره کولی شو خلکو ته ددې وس ورکړو څو له مطبوعاتو څخه د خپلو نظریو د آزاده څرګندولو دپاره ګټه واخلي او دې ته اړ نه وي لکه د تل په شان بې له هیڅ راز مرستې په بند کې ایسار پاتې شي؟
څنګه کولی شو کولتوري مخامخ او ژوندي ګډ فعالیتونه په داسې یوه ټولنه کې چې د ښېشمېره تولیداتو سره مخامخ ده، و هڅوو او غښتلي کړو؟
ډېرې هغه هڅې چې د کولتوري سیاستونو د ترسره کولو هیله لري، اساسي هدف یې دادی څو وښایي د کولتوري پراختیا مهمه دنده ،د کولتوري خپرونو د لارو چارو او د تولید د وسایلو او ابزارو غښتلتیا ده، نه د هغوی هدفونه. د کولتوري دموکراسۍ هدف د کولتوري ګډون لارو چارو ته مرسته ده لکه د آسانتیاو ، تجهیزاتو ، ودانیو ، زده کړې او بوختیاو چارو ته مرسته ، داسې چې د کولتوري چارو مینه وال وکړی شي په هغې کې ګډون وکړي.
داکار په حقیقت کې له دې سره توپیر لري چې یو عمومي کتابتون چې ټول ترې وړیا ګټه اخیستلې وشي ( زیات شمیر موجوده دموکراتیک کولتوري بنسټونه ) او یا داسې یو سیستم چې په هغې کې د کتاب د لوستلو مینه وال د کتاب د برابرولو او دهغې د ساتلو دپاره په شخصي کتابتونو کې پیسې ورکړي.
یانې دداسې عمومي کتابتونونو له شتوالي پرته چې ټول ورته لاس رسی ولري، په اتوماته توګه د کتاب لوستلو کچه په سلو کې شل ښکته راځي.

## د کولتوري دموکراسۍ شرطونه

ketabton.com - The Digital Library

د کولتوري دموکراسۍ د پلي کولو په لاره کې زيات خنډونه پراته دي. د کولتوري دموکراسۍ پلويانو ته ډيره مهمه خبره داده څو په ذهن کې يو ستر انځور وساتل شي. کارلوس فونئنتس زموږ وخت داسې تعريفوي: «زموږ وخت يو داسې وخت دی چې د کولتورونو تاريخ يې غوره لوبغاړي دي. «
په ټوله نړۍ کې ، هره خوا چې وګورو د سياسي او اقتصادي امپرياليستي ځواکونو د يوشان کولو د فشارونو تر وړاندې د کولتورونو سخت ټينګار روان دی .
شلمه پېړۍ د خپلواکو دولتونو د منځ ته راتلو او د دولتونو تر منځ د قومي او کولتوري ډلو د راڅرګندېدو او د لويديز ډوله پرمختيا پر خلاف د مبارزو شاهده وه.
د يويشتمې پېړۍ په لومړۍ لسيزه کې ددې دپاره چې په خلکو کې د فرهنګي دموکراسۍ هيلې ژوندي وساتل شي، د يو ستر نړيوال او تاريخي انځور لرل ، اړين کار بلل کېږي. خو سره له دې هم د ناهيلۍ ډېرې نښې ليدل کېږي: څومره چې يو له بل سره مينه او درناوی د نړيوال کولتور يوه برخه ده ،قومي پاکونه، نسل وژنه، نژاد پالنه او ټکونه هم په هماغه کچه د نړيوال کولتور يوه برخه جوړوي.
په هر حال دغه پوښتنه شته چې کولتوري دموکراسي تر کومه بريده کولی شي د خپل کولتوري راتلونکې په اړوند د انسان د نا هيلۍ عوامل له منځه يوسي او آيا کولتوري دموکراسي کولی شي د ملي او سيمه ايز کولتور ارزښتونه وساتي او ضمانت يې وکړي او که نه؟

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*